# دَ یوحنا په مُطابق دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے

## یوحنا باب ۱

## کلام جُسه شو

۱ په ازل کښے کلام وُو اَؤ کلام دَ خُدائے څخه وُو اَؤ کلام خُدائے وُو، ۲ دغه په ازل کښے دَ خُدائے
څخه وُو. ۳ اَؤ دَ هغۀ په وسیله ټول څیزُونه په وجُود کښے راغلل. څۀ چه په وجُود کښے راغلل،یو څیز
هم بغیر دَ هغۀ نه په وجُود کښے رانۀ غے. ٤ په هغۀ کښے ژوندون وُو اَؤ هم دغه ژوندُون دَ بنی آدمو نُور
وُو. ٥ اَؤ نُور په تیارۀ کښے ځلیږی اَؤ تیارۀ پړے هیڅ کله هم غالبه نۀ شوه.

٦ یحییٰ نومے یو سړے دَ خُدائے له طرفه راغے. ٧ هغه دَ نور دَ شهادت دَ پاره راغے چه ټول خلق دَ هغۀ
په وسیله ایمان راوړی. ٨ هغه په خپله خو نُور نۀ وُو لیکن دَ نور دَ شهادت دَ پاره راغے. ٩ اَؤ حقیقی نُور
چه هر یو بنی آدم روښانه کوی هغه لا دُنیا ته راتلونکے وُو.

١٠ هغه په دُنیا کښے وُو اَؤ دُنیا دَ هغۀ په وسیله په وجُود کښے راغله خو دُنیا هغه ونۀ پیژندلو. ١١ هغه
خپل ځائے ته راغے خو دَ هغۀ خپلوانو هغه قبُول نۀ کړو. ١٢ خو کومو خلقو چه قبُول کړو هغوئ ته ئے
دا حق ورکړو چه دَ خُدائے اَوْلاد شی یعنی هغوئ چه دَ هغۀ په نامه ایمان راوړی، ٣١ چه نۀ له وینے نه اَؤ
نۀ له جسمانی شوق اَؤ نۀ دَ اِنسانی پلار په اِرادے بلکه له خُدائے نه پیدا شو.

١٤ نو کلام جُسه شو اَؤ هغه زمُونږ سره اوسیدو اَؤ مُونږ دَ هغۀ لوئی ولیده،داسے لوئی لکه چه دَ پلار دَ یو
زوئے چه په فضل اَؤ حقیقت معمُور وی.

١٥ یحییٰ دَ هغۀ په حق کښے شاهدی وکړله. هغۀ په چغو ووئیل چه"دا هغه سړے دے چه ما ئے ذکر
کړے وُو یعنے دا چه هغه څوک چه له ما نه وروستو راځی هغه له ما نه وړُومبے شو،ځَکه چه پیدا کیدم نو
هغه وُو."

١٦ ځکه چه مُونږ ټولو دَ هغۀ دَ کُلهمی معمُورتیا نه په فضل باندے فضل ومُوندلو. ١٧ ځکه چه شریعت دَ
مُوسیٰ په وسیله ورکړے شو خو فضل اَؤ حقیقت دَ عیسیٰ مسیح په وسیله راغلل. ١٨ خُدائے چرے هیچا
نۀ دے لیدلے بے له خُدائے دَ یو زوئے نه،هغه څوک چه دَ پلار په غیږ کښے دے اَؤ هم پلار هغۀ ښکاره
کړے دے.

## دَ یحییٰ ګواهی

**(متم٣: ١ - ٢١،مرقوس ١: ١ - ٨،لُوقا ٣: ١ - ٨١ )**

١٩ دَ یحییٰ ګواهی دا وه،کله چه یهودیانو له بیتُ المُقدس نه کاهنان اَؤ لیویان دَ دے تپوس دَ پاره
ورولیږل چه دا معلُومه کړی چه تۀ څوک یئے؟

۲۰ هغۀ اِقرار وکړو اَوْ اِنکار ئې ونۀ کړو،خو اِقرار ئې وکړو چه "زَۀ مسيح نۀ يم."

۲۱ هغوئ ترې تپوس وکړو چه " بيا نو تۀ څه يې ؟ تۀ الياس يې څۀ ؟"

هغه جواب ورکړو چه " نه ، زۀ هغۀ هُم نه يم."

تۀ هغه نبی نۀ يې څۀ چه مُونږ ئې په اِنتظار کښې يُو؟""

هغۀ ځواب ورکړو چه ".''نه

۲۲ هغوئ بيا تپوس وکړو چه "بيا نو تۀ يې څوک ځکه چه مُونږ چا را استولی يُو هغوئ له جواب
ورکړُو. تۀ دَ خپل ځان په حقله څۀ وايې؟"

۲۳ هغۀ ورته جواب ورکړو چه"زَۀ په بيابان کښې دَ نعرې وهُونکی آواز يم چه: «دَ مالِک لار نيغه
کړئ،» لکه چه يشعياه نبی وئيلی وُو."

۲٤ څنې فريسيان چه په جرګه کښې راغلی وُو ۲٥ دَ هغۀ نه ئې تپوس وکړو،"که چرې نۀ تۀ مسيح ئې،نۀ
تۀ اِلياس يې، نۀ هغه نبی يې،نو تۀ بيا ولې بپتسمه ورکوې؟"

۲٦ يحيیٰ جواب ورکړو،"زَۀ په اوبو بپتسمه ورکوم خو ستاسو په مينځ کښې يو کس ولاړ دے چه تاسو
هغه نۀ پيژنئ، ۲۷ چه زما نه وروستو به راځی اَوْ زَۀ دَ دے لائق هم نۀ يم چه دَ هغۀ پيزار قدر پرانزم."

۲۸ دا خبرې په بيت عنياه کښې وشوې چه دَ اُردن بلې غاړې ته دے،چرته چه يحيیٰ بپتسمه ورکوله.

## دَ خُدائې ګډُورے

۲۹ بله ورځ يحيیٰ وليدل چه عيسیٰ هغه طرف ته راځی. هغۀ ووئيل چه"وګورئ! دَ خُدائې ګډورے چه
دَ دُنيا ګُناه په ځان وړی! ۳۰ دا هم هغه دے دَ چا په حقله چه ما وئيلی وُو چه زما نه به وروستو يو کس
راځی چه له ما نه وړُومبې شو ځکه چه له ما نه اول وُو. ۳۱ ما هغه نۀ پيژندو چه هغه څوک دے،خو
مخض دا سبب چه زَۀ ولې راغلم اَوْ په اوبو بپتسمه ورکوم دَ دے دَ پاره چه هغه بنی اِسرائيلو ته څرګند
کړې شی."

۳۲ يحيیٰ دا ګواهی هم وکړله چه"ما رُوحُ القُدس دَ آسمان له مخې لکه دَ يوې کونترې په شان په
راکُوزيدو وليدلو چه په هغۀ نازل شو. ۳۳ ما دے نۀ پيژندو،خو هغه چا چه زَۀ ئې په اوبو دَ بپتسمې
ورکولو دَ پاره راليږلې يم هغۀ ما ته ووئيل،هر کله چه تۀ رُوحُ القُدس په چا په راکُوزيدو ووينې اَوْ په چا
رانازل شی نو تۀ به پوهه شې چه هم دا هغه سړے دے چه په رُوحُ القُدس به بپتسمه ورکوی. ۳٤ ما دا
په خپله وليدل اَوْ زَۀ په دے ګواهی کوم چه دا دَ خُدائې زوئې دے."

## دَ عيسیٰ وړُومبی مُريدان

٣٥ په بله ورځ يحيىٰ دَ خپلو مُريدانو سره ولاړ وُو ٣٦ چه عيسىٰ ئې په خوا تير شو. يحيىٰ هغۀ پلو کتل اَؤ
وې وئيل چه"دا دَ خُدائې ګډُورې دې."

٣٧ دوؤ مُريدانو دَ هغۀ دا خبره واؤريده اَؤ په عيسىٰ پسې روان شول. ٣٨ کله چه هغۀ بيرته مخ راواړووو اَؤ
وئې کتل چه دوئ هغۀ پسې روان دى نو هغۀ ترې تپوس وکړو چه"تاسو په څۀ پسې ګرزئ؟"

هغوئ ووئيل،"اُستاذه! تۀ کُوم ځائې پاتې کيږې؟"

٣٩ عيسىٰ جواب ورکړو چه"راځئ اَؤ وګورئ،"اَؤ هغوئ دَ هغۀ سره لاړل اَؤ هغه ځائې وليدو چرته چه
هغه پاتې کيدو اَؤ هغه ورځ ئې دَ هغۀ سره تيره کړله اَؤ دَ څلورو بجو دَ مازيګر وخت وُو.

٤٠ دَ يحيىٰ دَ وينا نه پس چه په عيسىٰ پسې تلى وُو په دغه دوؤ کښې يو اندرياس دَ شمعُون ورور وُو. ٤١
وړُومبې کار چه هغۀ وکړو هغه دا وُو چه خپل ورور شمعُون ئې ومُوندلو اَؤ هغۀ ته ئې ووئيل،"مُونږ مسيح
مُوندلې دې." ٤٢ هغۀ شمعُون عيسىٰ له راوستو.

هغۀ ورته وکتل اَؤ وئې وئيل،"تۀ دَ يوحنا زوئې شمعُون يئې،تا ته به کيفا وئيلې کيږى،يعنې پطروس چه
معنىٰ ئې ګټه ده."

## فيليپوس اَؤ نتانى ايل ته بلل

٤٣ بله ورځ عيسىٰ ګليل ته دَ تلو نيت وکړو. په لارې ورته فيليپوس مخې له ورغې. عيسىٰ هغۀ ته ووئيل
چه"ما پسې راځه." ٤٤ فيليپوس دَ اندرياس اَؤ پطروس په شان دَ بيت صيدا اوسيدُونکې وُو. ٤٥ فيليپوس
نتانايل ته ورغې اَؤ ورته ئې ووئيل چه"دَ چا ذکر چه دَ مُوسىٰ په شريعت کښې اَؤ نبيانو کړې دې هغه
مُونږ وليدو،دا عيسىٰ ناصرى دَ يُوسف زوئې دې." ٤٦ نتانايل په حيرانتيا ووئيل چه"دَ ناصرت! آيا
ناصرت کښې هم ښۀ څيز پيدا کيدې شى څۀ؟"فيليپوس ورته ووئيل،"راځو شه اَؤ وئې ګوره."

٤٧ کله چه عيسىٰ نتانايل په راتلو وليدلو نو وئې وئيل،"دا يو رښتينې اِسرائيلى دې،په دَۀ کښې هيڅ ټګى
نِشته."

٤٨ نتانايل ترې تپوس وکړو،"دا زَۀ دِ څنګه وپيژندلم؟"

عيسىٰ ورته جواب ورکړو،"ما تۀ دَ انځر دَ ونې لاندې هغه وخت ليدلې وې چه لا فيليپوس تۀ نۀ وې
بللې."

٤٩ نتانايل ووئيل،"اُستاذه! تۀ دَ خُدائې زوئې يئې اَؤ تۀ دَ اِسرائيلو بادشاه يئې."

٥٠ عيسىٰ جواب ورکړو،"آيا ستا دَ ايمان دَ راؤړو دغه وجه ده چه ما دَ اِنځير دَ ونې لاندې وليدې؟ تۀ
به دَ دې نه هم لوئې لوئې څيزُونه ووينې." ٥١ بيا هغۀ ووئيل،"زَۀ تاسو ټولو ته رښتيا رښتيا وايم چه تاسو
به آسمان پرانستې ووينئ اَؤ دَ خُدائې دَ فرښتو به په اِبن آدم ختل اَؤ بيا راکُوزيدل ووينئ."

## یوحنا باب ۲

## په قانا کښې وادۀ

۱ په دریمه ورځ دَ گلیل په قانا نُومې ځائې کښې یو وادۀ وُو،دَ عیسیٰ مور هم هلته وه، ۲ اَؤ عیسیٰ اَؤ دَ
هغۀ مُریدان هم په کښې میلمانۀ وُو. ۳ چه مئې خلاص شول نو دَ عیسیٰ مور هغۀ ته ووئیل،"دَ دوئ سره
مئې نۀ دی پاتې."

۴ عیسیٰ جواب ورکړو چه "مورې! زما اَؤ ستا پرې څۀ؟ زما وخت لا نۀ دے راغلے."

۵ دَ هغۀ مور خادمانو ته ووئیل،"هر څۀ چه دَئې درته وائی هغه کوئ."

۶ هلته دَ گټې شپږ چاټئ وې چه خوا په خوا پرتې وې، دا دَ یهودیانو دَ دستُور په مُطابق دَ پاکیدو دَ پاره
وې،اَؤ په هره یوه کښې دَ دوؤ نه تر دریو منو پورې ځائې وُو. ۷ عیسیٰ خادمانو ته ووئیل چه"دا چاټئ دَ
اوبو نه ډکې کړئ."اَؤ هغه هغوئ تر خُلې خُلې ډکې کړې. ۸ بیا هغۀ حُکم وکړو چه"څۀ ترې وباسئ
اَؤ دَ میلمستیا مشر له ئې یوسئ."اَؤ هغوئ هم دغسې وکړل. ۹ مشر اوبۀ وڅښلې اَؤ هغه مئې شوې
وې. خو هغۀ ته دَ دې سبب نۀ وُو معلُوم اګر چه هغه نوکرانو ته معلُومه وه چا چه اوبه راویستلې وې.
۱۰ هغۀ دَ وادۀ زلمی ته ووئیل،"هر څوک ښۀ مئې اول ورکوی اَؤ معمولی تر هغې ساتی تر څو چه خلق
ماړۀ شوی نۀ وی،لیکن تا خو تر اوسه ښۀ مئې لا ساتلی دی."

۱۱ دَ گلیل په قانا نُومې ځائې کښې دَ عیسیٰ دا وړُومبۍ مُعجزه وه چه عیسیٰ پرې خپله لوئی څرگنده
کړه اَؤ دَ هغۀ مُریدانو په هغۀ ایمان راوړو.

۱۲ دَ دې نه پس عیسیٰ دَ خپلې مور،ورُوڼو اَؤ مُریدانو سره کفرنحُوم ته لاړو خو هغوئ هلته زیات ایسار
نۀ شُو.

## دَ خُدائې دَ کور پاکول

**(متم۱۲: ۲۱ - ۳۱،مرقوس ۱۱: ۵۱ - ۷۱،لُوقا ۹۱: ٥٤ - ٦٤ )**

۱۳ ځکه چه دَ یهودیانو دَ فسح دَ اختر ورځې رانزدې وې نو عیسیٰ بیتُ المُقدس ته لاړو. ۱٤ هلته هغۀ
دَ خُدائې په کور کښې دَ غوایانو،گډو اَؤ دَ کونترو سوداګران اَؤ صرافان په خپلو چوکو ناست ولیدل. ۱٥
عیسیٰ دَ پړی کروړه جوړه کړه اَؤ هغوئ ئې دَ خُدائې دَ کور نه بهر وشړل،گډې،غوایان اَؤ هر څۀ. هغۀ
دَ صرافانو تختې نسکورې کړې،دَ هغوئ پیسې ئې ونوستلې، ۱٦ بیا هغه دَ کونترو خرڅوُونکو پسې
راوګرزیدلو. هغۀ ووئیل،"دا لرې کړئ زما دَ پلار دَ کور نه بازار مه جوړوئ." ۱۷ دَ هغۀ مُریدانو ته دَ
صحیفو دا لیک را یاد شو «ستا دَ کور غیرت به ما وخوری.»

۱۸ یهودیانو عیسیٰ له جواب ورکړو اَؤ تپوس ئې ترې نه وکړو چه"تۀ دا کارُونه په کُوم اِختیار کوې؟ مُونږ

ته څۀ نخښۀ وښايه؟“

١٩ عيسىٰ جواب ورکړو چه”دا دَ خُدائے کور ونړوئ اَؤ زَۀ به ئے درته په دريو ورځو کښے بيا ودان
کړم.“

٢٠ هغوئ ووئيل،”دا دَ خُدائے کور خو په شپږ څلويښت کاله کښے جوړ شوے دے،اَؤ تۀ ئے راته په
دريو ورځو کښے جوړوے؟“

٢١ خو دَ خُدائے دَ کوم کور ذکر چه هغۀ کولو هغه دَ دَۀ خپل وجُود وُو. ٢٢ دَ هغۀ دَ بيا راژوندى کيدو
نه پس دَ هغۀ مُريدانو ته راياد شو چه هغۀ څۀ وئيلى وُو اَؤ دَ هغوئ په صحيفو اَؤ په هغه کلام چه عيسىٰ
وئيلى وُو يقين راغلو.

## عيسىٰ ټول خلق پيژنى

٢٣ کله چه عيسىٰ لا دَ فسح دَ پاره په بيتُ المُقدس کښے ديره وُو نو هغوئ هغه مُعجزے وليدے چه
هغۀ ښکاره کړے اَؤ ډيرو خلقو پرے ايمان راؤړو. ٢٤ خو عيسىٰ په خپله په هغوئ اِتبار نۀ کاوو ځکه چه
هغۀ خلق ډير ښۀ پيژندل. ٢٥ اَؤ هغۀ ته دَ هغو ټولو حال معلُوم وُو اَؤ دَ بل چا دَ شاهدئ ورته ضرورت نۀ
وُو ځکه چه هغه په دے پوهيدلو چه دَ اِنسان په زړۀ کښے څۀ څۀ دى.

# يوحنا باب ٣

## عيسىٰ اَؤ نيکوديموس

١ په فريسيانو کښے نيکوديموس نومے يو سړے وُو چه دَ يهوديانو دَ جرګے غړے وُو. ٢ هغه عيسىٰ له دَ
شپے راغے اَؤ ورته ئے ووئيل چه”اُستاذه! مُونږ ته معلومه ده چه تۀ دَ خُدائے راليږلے اُستاذ يئے. هيڅوک
هم دا نخښے چه تۀ ښکاره کوے،نۀ شى ښودلے اَؤ که خُدائے ورسره نۀ وى.“

٣ عيسىٰ جواب ورکړو،”رښتيا رښتيا درته وايم،تر څو چه سړے بيا پيدا نۀ شى هغه دَ خُدائے بادشاهى
ليدلے نۀ شى.“

٤ نيکوديموس ووئيل،”نو بيا دا څنګه مُمکنه ده چه يو سړے چه بُوډا وى نو هغه به بيا څنګه پيدا شى؟
آيا هغه په دويم ځل دَ مور ګيډے ته ورننوتے شى څۀ،چه بيا پيدا شى؟“

٥ عيسىٰ جواب ورکړو،”زَۀ درته رښتيا وايم چه يو سړے به هم دَ خُدائے په بادشاهئ کښے تر هغے داخل
نۀ شى تر څو چه هغه دَ اوبو اَؤ رُوحُ القُدس نه پيدا نۀ شى. ٦ چه دَ اِنسان نه پيدا کيږى هغه جسم دے
خو چه دَ رُوحُ القُدس نه پيدا کيږى هغه رُوح دے. ٧ نو چه زَۀ تاسو ته دا وايم چه تاسو له بيا پيدا کيدل
په کار دى نو په دے حيرانيږئ مه. ٨ هوا ديخوا اخوا الوزى. تۀ دَ دے آواز خو آؤرے خو دا درته نۀ
معلُوميږى چه دا دَ کُومے راځى اَؤ چرته ځى. دغه حال دَ هر هغه چا دے څوک چه دَ رُوحُ القُدس نه

پیدا شوی دی.“

۹ نیکودیموس بیا تپوس وکړو،”دا څنګه مُمکنه ده؟“

۱۰ عیسیٰ ووئیل،”تهٔ دَ یهودیانو اُستاذ یئے اَؤ دَ دے نه ناخبره یئے؟ ۱۱ زَهٔ درته رښتیا رښتیا وایم چه مُونږ
هغه څهٔ وایو چه څهٔ راته معلُوم دی اَؤ دَ هغهٔ شهادت کوُو چه څهٔ مو لیدلی دی خو بیا هم تاسو زمُونږ
شهادت نهٔ منئ. ۱۲ که چرے تاسو زما دَ مزکے په حقله خبرے نهٔ منئ،نو که زَهٔ درته دَ آسمان خبرے
ووایم نو تاسو به ئے څنګه ومنئ؟ ۱۳ هیڅوک هم چرے آسمان ته نهٔ دے ختلے بے دَ هغهٔ نه چه دَ
آسمان نه راکُوز شوے دے،یعنے اِبن آدم چه دَ آسمان نه دے.

۱٤ لکه څنګه چه مُوسیٰ په بیابان کښے مار په لوړه خیژولے وُو دغسے به اِبن آدم هم وخیژولے شی، ۱۵ دَ
پاره دَ دے چه هر څوک چه په هغهٔ ایمان راؤړی نو هغه به هم په هغهٔ کښے دَ تل ژوند ومُومی. ۱٦
خُدائے دَ دے دُنیا سره داسے مینه وکړله چه خپل یکی یو زوئے ئے هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په
زوی ئے ایمان راؤړی هغه هلاک نهٔ شی خو دَ تل عُمری ژوندُون بیا مُومی. ۱۷ خُدائے خپل زوئے دُنیا ته
دَ دُنیا دَ مُجرم کولو دَ پاره نهٔ دے رالیږلے بلکه دَ دے دَ پاره چه دَ هغهٔ په وسیله دُنیا خلاصُون بیا مُومی.

۱۸ څوک چه په هغهٔ ایمان راؤړی هغه به مُجرم هم نهٔ شی خو چا چه پرے ایمان نهٔ دے راوړے هغه
خو دَ مخکښے نه مُجرم شوے دے ځکه چه دَ خُدائے دَ یکی یو زوی نه مُنکر دے. ۱۹ اَؤ دَ مُجرم
کیدلو سبب دا دے چه دُنیا ته نُور راغلے دے خو خلق دَ نُور په ځائے په تیارهٔ ځکه خوشحاله وُو چه دَ
هغوئ کارُونه بد وُو. ۲۰ بدکاره سړے همیشه دَ نُور سره کینه لری اَؤ ځان ترے ساتی هسے نهٔ چه دَ
دوئ کارُونه څرګند شی. ۲۱ هر څوک چه نیک کارُونه کوی هغه نُور ته راځی ځکه چه کارُونه ئے په
نُور کښے څرګند شی چه هغه دَ خُدائے په رضا کړی شوی دی.“

## عیسیٰ اَؤ یحییٰ بپتسمه ورکوُونکے

۲۲ پس دَ دے نه عیسیٰ سره دَ مُریدانو یهودیه ته راغے اَؤ دَ هغوئ سره هلته ایسار شو اَؤ بپتسمه ئے
ورکړه. ۲۳ یحییٰ هم په عینون کښے بپتسمه ورکوله،کُوم چه شالیم ته نزدے دے، ځکه چه په هغه
ځائے کښے اوبهٔ ډیرے وے اَؤ خلق په مخه بپتسمے ته راتلل. ۲٤ دا دَ یحییٰ دَ قیدیدو نه وړاندے وُو.

۲۵ دَ یحییٰ دَ ځنے مُریدانو دَ یهودیانو سره دَ پاکیدو په حقله جګړه اُوچته شوه. ۲٦ نو هغوئ یحییٰ ته
راغلل اَؤ ورته ئے ووئیل”اُستاذه! ستا سره دَ اُردن په پورے غاړه یو سړے وُو دَ چا په حقله چه تا ګواهی
کړے وه،هغه هم بپتسمه ورکوی اَؤ خلق ورته راټولیږی.“

۲۷ یحییٰ جواب ورکړو چه”سړے تش هغه څهٔ اخستے شی څهٔ چه دَ آسمان نه ورکړے کیږی. ۲۸ تاسو
په خپله په دے ګواهی ورکولے شئ چه ما وئیلی وُو چه مسیح نهٔ یم،زَهٔ خو دَ هغه دَ وړاندے را استولے
شوے یم. ۲۹ ناوے دَ وادهٔ دَ زلمی وی اَؤ دَ وادهٔ دَ زلمی دوست څوک چه ولاړ وی اَؤ دَ هغهٔ خبرے
آؤری،هغه دَ وادهٔ دَ زلمی په آواز آؤریدو دَ خوشحالئ نه په جامو کښے نهٔ ځائیږی. دا خوشحالی اوس زما

پُوره شوه. ۳۰ په کار دی چه هغه لوئے شی اَؤ زَهٔ ورکوټے.

## څوک چه له آسمان نه راځی

۳۱ څوک چه له پاس نه راځی هغه دَ هر چا نه پاس وی اَؤ څوک چه دَ مزکے پیدا دے هغه دَ مزکے
دے اَؤ خبرے هم دَ مزکے کوی. څوک چه دَ آسمان نه راځی هغه په ټولو پاس دے. ۳۲ هغهٔ چه څهٔ
لیدلی اَؤ آؤریدلی وی دَ هغه ګواهی کوی،خو هیڅوک هم دَ هغهٔ ګواهی نهٔ قبلوی. ۳۳ چا چه دَ هغهٔ
ګواهی قبُوله کړله نو هغهٔ دَ دے خبرے اِقرار وکړو چه خُدائے رښتینے دے. ۳٤ ځکه چه څوک چه
خُدائے را استولے وی هغه دَ خُدائے خبرے کوی،ولے چه هغه رُوحُ القُدس بے اندازے ورکوی. ۳۵ پلار
دَ زوئی سره مینه کوی اَؤ هغهٔ ته ئے ټول اِختیار ورکړے دے. ۳٦ څوک چه په زوئے ایمان راؤړی نو هغه
دَ تل ژوندُون لری،خو څوک چه دَ زوئے نافرمانی وکړی هغه به دا ژوندُون ونهٔ وینی لیکن دَ خُدائے
غضب په هغهٔ دے.“

# یوحنا باب ۴

## عیسیٰ اَؤ دَ سامری ښځه

۱ فریسیانو ته دا خبره معلُومه شوه چه عیسیٰ دَ یحییٰ نه زیات مُریدان جوړوی اَؤ بپتسمه ورکوی. ۲ رښتیا
خبره خو دا ده چه عیسیٰ په خپله نه بلکه مُریدانو به ئے بپتسمه ورکوله. ۳ کله چه عیسیٰ دَ دے نه خبر
شو نو یهودیه ئے پریښودله اَؤ یو ځل بیا ګلیل ته لاړو. ٤ هغهٔ ته دَ سامریه نه تیریدل وُو،

۵ اَؤ هلته دَ سامریانو سوخار نومے ښار ته راغے. دا ځائے هغه مزکے ته نزدے وُو چه یعقُوب خپل زوی
یُوسف ته ورکړے وُو ٦ اَؤ هغه چینه چه دَ یعقُوب کُوهے ورته وائی. دا دَ غرمے وخت وُو چه عیسیٰ په
سفر ستړے شوے وُو اَؤ هغه دَ کُوهی سره کښیناستو.

۷ په دے مینځ کښے یوه سامرئ ښځه اوبو وړلو ته راغله. عیسیٰ هغے ته ووئیل چه”ماله اوبهٔ راکړه.“ ۸
مُریدان ئے دَ خوراک سامان آخستو دَ پاره ښار ته تلی وُو.

۹ سامری ښځے ورته ووئیل چه”تهٔ یهودی زما غوندے سامری ښځے نه اوبه څنګه غواړے؟“دا خبره یاد
لرل پکار دی چه یهودیان سامریانو سره خپل لوښی نهٔ شریکوی.

۱۰ عیسیٰ هغے ته جواب ورکړو چه”که تهٔ په دے خبر وَے چه دَ خُدائے بخښنه څهٔ ده اَؤ تا نه چه
څوک اوبهٔ غواړی،دا دے څوک،نو تا به دَ هغهٔ نه خواست کړے وُو اَؤ هغهٔ به تا ته دَ ژوندُون اوبهٔ
درکړے وے.“

۱۱ هغه ښځے ووئیل چه”مالِکه! تا سره خو بوقه هم نِشته اَؤ دا کُوهے ژور دے،نو تهٔ ما ته دَ ژوندون اوبهٔ
څنګه راکولے شے؟ ۱۲ تهٔ زمُونږ دَ نیکهٔ یعقُوب نه لوئے سړے یئے څهٔ،چا چه مُونږ له دا کُوهے راکړو اَؤ
په خپله ئے اَؤ دَ هغهٔ زامنو اَؤ دَ هغهٔ څاروو دَ دے نه اوبهٔ وڅښلے؟“

۱۳ عیسیٰ ووئیل،"هر هغه څوک چه دا اوبۀ وڅښی هغه به بیا هم تږے کیږی. ۱۴ خو کُومے اوبه چه زَۀ
ورکوم دَ هغے دَ څښلو نه پس به څښُونکے هیڅکله هم بیا نۀ تږے کیږی. زَۀ چه کُومے اوبۀ ورکوم هغه
به په هغۀ کښے دَ ننه یوه چینه شی چه همیشه به بهیږی اَؤ دَ تل ژوندُون به ورله ورکوی."

۱۵ ښځے ووئیل،"مالِکه! هغه اوبۀ ماله راکړه نو زَۀ به هم بیا نۀ تږے کیږم اَؤ په دے لاره به بیا اوبو وړلو
له نۀ راځم."

۱٦ عیسیٰ جواب ورکړو،"کورته لاړه شه،خاوند دِ وبله اَؤ بیا راشه."

۱۷ هغے جواب ورکړو چه"زما خاوند نِشته."

عیسیٰ ووئیل،"تۀ دا صحیح وایئے چه ستا خاوند نِشته، ۱۸ سره دَ دے چه تا پینځۀ میړُونه کړی وُو اَؤ
اوس چه دَ کُوم سړی سره اوسے،هغه ستا خاوند نۀ دے."

۱۹ هغے جواب ورکړو،"مالِکه! ما ته داسے ښکاری چه تۀ نبی یئے. ۲۰ زمُونږ نیکُونو په دے غرۀ عبادت
کولو خو تاسو یهودیان وایئ چه په کُوم ځائے کښے چه دَ خُدائے عبادت کول په کار دی هغه په بیتُ
المُقدس کښے دے."

۲۱ عیسیٰ ووئیل،"باور وکړه چه یو وخت داسے راتلُونکے دے چه نۀ خو به تاسو دَ آسمانی پلار عبادت
په دے غر وکړئ اَؤ نۀ په بیتُ المُقدس کښے . ۲۲ تاسو سامریان دَ هغه چا عبادت کوئ چه تاسو ئے نۀ
پیژنئ،خو مُونږ دَ هغه چا عبادت کوُو چه مُونږ ئے پیژنُو،ځکه چه خلاصُون له یهودیانو نه دے. ۲۳ خو
وخت راتلُونکے دے بلکه اوس هم دے چه رښتینی سجدے کوُونکی به آسمانی پلار ته په رُوح اَؤ په
رښتیا سجدے وکړی اَؤ پلار هم دغه شان عبادت کوُونکی غواړی. ۲۴ خُدائے رُوح دے اَؤ هر څوک چه
دَ هغۀ عبادت کوی هغه دِ هم په رُوح اَؤ په رښتیا سره دَ هغۀ عبادت وکړی."

۲۵ ښځے جواب ورکړو،"زَۀ پوهیږم چه مسح کړے شوے،یعنے مسیح راتلُونکے دے. هر کله چه هغه
راشی نو هغه به مُونږ ته هر څۀ وښائی."

۲٦ عیسیٰ ورته ووئیل،"هغه زَۀ یم،زَۀ چه تا سره خبرے کوم."

۲۷ په دغه وخت دَ هغۀ مُریدان بیرته راغلل اَؤ په دے خبره حیران شول چه هغه یوے ښځے سره خبرے
کوی خو په هغو کښے یو کس هم ونۀ وئیل چه تۀ څۀ غواړے،یا تۀ دَ دے سره خبرے ولے کوے؟

۲۸ ښځے خپل منګے کیښودو اَؤ ښار ته لاړه اَؤ هلته ئے خلقو ته ووے چه ۲۹ "راشئ،یو سړے ووینئ چه
ما ته ئے هر څۀ چه مے کړی دی،ټول ئے ووئیل. کیدے شی چه دا مسیح وی؟" ۳۰ هغوئ دَ ښار نه
ووتل اَؤ دَ هغۀ طرف ته روان شول.

۳۱ په دے دوران کښے مُریدانو په هغۀ زور لګولے وُو چه"اُستاذه! څۀ وخوره!"

۳۲ خو هغۀ ووئیل،"زما سره داسے خوراک دے چه تاسو ته ئے هیڅ پته نِشته."

۳۳ په دے مُریدانو یو تر بله ووئیل چه"آیا چا هغۀ له خوراک راوړے دے څۀ؟"

۳٤ خو عیسیٰ ووئیل چه"زما خوراک څښباک هغه دے چه زۀ دَ هغۀ رضا وکړم اَؤ هغه کار پُوره کړم کُوم
له چه را استولے شوے یم. ۳۵ آیا تاسو دا نۀ وایئ چه څلور میاشتے نورے دی اَؤ بیا به لَو ګېږي شی؟ خو
زۀ تاسو ته دا وایم چه وګورئ،ګیر چا پیره پټو ته وګورئ چه هغه بیا دَ لَو دَ پاره تیار شوی دی. ۳٦
لَوګرے خپله مزدوری آخلی اَؤ دَ تل ژوندُون دَ پاره فصل راټولوی دَ دے دَ پاره چه کرُونکے اَؤ لَوګرے
دواړه په شریکه خوشحالی وکړی. ۳۷ هم دغه وجه ده چه دا وئیلے شوی دی چه یو ئے کری اَؤ بل ئے
ریبی. ۳۸ ما تاسو دےله واستولئ چه هغه فصل وریبئ په کُوم باندے چه تاسو څۀ کړاؤ نۀ دے کړے
،نورو ځان وکړوو اَؤ تاسو راغلئ اَؤ هغه فصل مو واخستو اَؤ دَ هغوئ په برښه کښے شریک شوئ."

۳۹ دَ هغه ښار ډیر سامریان دَ هغے ښځے په دے ګواهئ راغلل چه ما کله هم چه څۀ کړی دی هغه ټول
ئے ما ته ووئیل، اَؤ په عیسیٰ ئے ایمان راوړلو. ٤۰ کله چه دغه سامریان هغۀ له راغلل نو دا منت ئے ورته
وکړو چه مُونږ سره پاتے شه،اَؤ هغه هلته دوه ورځے ایسار شو.

٤۱ نور هم ګڼو کسانو دَ هغۀ دَ کلام په وجه په هغۀ ایمان راؤړو. ٤۲ اَؤ هغوئ هغه ښځے ته ووئیل چه"دا
تش ستا دَ هغے وینا وجه نه ده مُونږ په دۀ ایمان راوړے دے بلکه مُونږ دَ هغۀ کلام په خپله واؤریدو اَؤ
مُونږ په دے پوهه شوو چه دَئے په حقیقت کښے دَ دُنیا خلاصوُونکے دے."

## دَ یو سرکاری حاکم زوئے روغول

٤۳ کله چه دوه ورځے تیرے شوے نو عیسیٰ ګلیل ته روان شو. ٤٤ ځکه چه عیسیٰ په خپله دا وئیلی وُو
چه یو نبی په خپل وطن کښے بے عزته وی. ٤٥ نو ګلیل ته په رسیدو ګلیلیانو دَ هغۀ هر کلے وکړو ځکه
چه دَ بیتُ المُقدس په اختر کښے چه هغۀ څۀ کړی وُو هغه ټول هغوئ لیدلی وُو اَؤ هغوئ په خپله په
دغه اختر کښے شامل وُو.

٤٦ عیسیٰ یو ځل بیا په ګلیل کښے قانا نُومے ځائے ته لاړو چرته چه هغۀ له اوبو نه مئے جوړ کړی وُو.
هلته یو سرکاری حاکم وُو چه زوئے ئے په کفرنحُوم کښے ناجوړه پروت وُو. ٤۷ کله چه هغۀ واؤریدل چه
عیسیٰ دَ یهودیه نه ګلیل ته راغلے دے نو هغۀ په زارو ورته ووئیل چه"ما سره لاړ شه اَؤ زما زوئے جوړ
کړه څوک چه مرګی حال دے " ٤۸ عیسیٰ هغۀ ته ووئیل چه"دَ نخښو اَؤ مُعجزو کتو نه وړاندے خو به
تاسو هیچرے ایمان نۀ راؤړئ."

٤۹ هغه حاکم ورته بیا ووئیل چه"صاحبه! زما دَ زوئے دَ مرګ نه وړاندے راسره لاړشه."

۵۰ بیا عیسیٰ ووئیل،"کورته واپس شه،زوئے به دِ ژوندے وی."

عیسیٰ چه څهٔ ووئیل هغه سړی پرے یقین وکړو اَؤ کور ته روان شو. ۵۱ هغه لا په لاره وُو چه غُلامانو ئے
ورته خبر راؤړو چه”زوئے خو دِ جوړ شو!“

۵۲ نو هغهٔ تپوس ترے وکړو چه”څهٔ وخت هغه جوړ شو؟“ هغوئ ووئیل چه”پرُون ماسپښین هغه تبے
پریښودلو.“ ۵۳ پلار ئے پوهه شو چه دا هم هغه وخت وُو چه عیسیٰ هغهٔ ته وئیلی وُو چه زوئے به دِ جوړ
شی، اَؤ هغهٔ اَؤ دَ هغهٔ ټول خاندان پرے ایمان راؤړو.

۵٤ دا دَ عیسیٰ دَ یهودیه نه ګلیل ته دَ راتلو نه پس دویمه مُعجزه وه.

## یوحنا باب ۵

## دَ تالاؤ سره روغول

۱ پس له هغے عیسیٰ بیتُ المُقدس ته دَ یهودیانو په یو اختر کښے دَ شاملیدو دَ پاره لاړو. ۲ په بیتُ
المُقدس کښے دَ ګډو دَ دروازے څخه یو تالاؤ دے چه پنځهٔ ستنے په کښے ولاړے دی اَؤ دَ یهودیانو په
ژبه کښے ورته بیت صیدا وائی. ۳ په دے ستنو کښے ګڼ ناروغه ګوډ،شل اَؤ ړاندهٔ پراتهٔ وُو. ٤ ځکه چه
وخت په وخت به یوه فرښته دے تالاؤ ته راکُوزیده اَؤ دا اوبه به ئے خوځولے اَؤ هغه څوک چه به دَ ټولو
نه وړُومبے دے اوبو ته ورکُوز شو نو هر څهٔ بیماری چه به ئے وه دَ هغے نه به روغ شو. ۵ په دغه خلقو
کښے یو سړے وُو چه دَ دوه کم څلویښتو کالو راسے شل وُو. ٦ کله چه عیسیٰ هغه هلته پروت ولیدو اَؤ
دَ دے نه خبر شو چه دے دَ دومره مُودے راسے بیمار دے، نو هغهٔ ورته ووئیل،”آیا تهٔ روغیدل غواړے
څهٔ؟“

۷ هغهٔ جواب ورکړو چه”صاحبه! زما هیڅوک نِشته چه هر کله چه اوبهٔ وخوځولے شی چه ما دے تالاؤ
ته ورکُوز کړی اَؤ کله چه زهٔ ورروخوځم نو بل زما نه مخکښے وردانګلی وی.“

۸ عیسیٰ جواب ورکړو،”په خپلو پښو ودریږه،خپله بستره واخله اَؤ ځهٔ!“ ۹ سړے سمدستی جک جوړ
شو،خپله بستره ئے واخسته اَؤ روان شو.

دا دَ سبت ورځ وه. ۱۰ نو دیهودیانو هغه روغ کړی شوی سړی ته ووئیل،”دا دَ سبت ورځ ده. دَ سبت
په ورځ تا ته دَ خپلے بسترے دَ وړلو اِجازت نِشته.“

۱۱ هغهٔ جواب ورکړو چه”کُوم سړی چه زهٔ روغ کړم هغهٔ ما ته حُکم راکړو چه خپله بستره واخله اَؤ
ځهٔ.“

۱۲ هغوئ دَ هغهٔ نه تپوس وکړو چه”هغه سړے څوک دے چه تا ته ئے ووئیل چه خپله بستره واخله اَؤ
ځه؟“

۱۳ خو هغه شل سړی ته څوک چه روغ کړے شوے وُو دا نهٔ وه معلُومه ځکه چه هلته ډیره ګڼه وه اَؤ عیسیٰ په ګڼه کښے دیخواه اخواه شوے وُو.

۱٤ لږ ساعت پس عیسیٰ هغه دَ خُدائے په کور کښے ولیدو اَؤ ورته ئے ووئیل،"اوس چه تهٔ بیا ښهٔ شوے یئے نو ګُناه کول پریږ ده،ګنی دَ دے نه به هم درته زیات تکلیف پیښ شی."

۱٥ هغه سړے په مخه لاړو اَؤ یهودیانو ته ئے ووئیل چه"دا زَهٔ چه چا روغ کړے وم دا عیسیٰ وُو." ۱٦ دا دَ سبت ورځ دَ دغه قِسمه کارُونو کولو سبب وُو چه یهودیان ئے راوپارول اَؤ عیسیٰ ئے په عذاب کړو. ۱۷ ولے عیسیٰ جواب ورکړو چه"زما پلار لا تر اوسه کار کوی اَؤ زَهٔ هم کار کوم."

۱۸ په دے یهودیان نور هم دَ هغهٔ په مرګ پسے شول ځکه چه یوائے دا نه چه هغهٔ دَ سبت حُکم ماتولو بلکه دا هم چه هغهٔ خُدائے ته خپل پلار وئیل اَؤ دَ هغهٔ سره ئے دَ برابرئ دعویٰ کوله.

## دَ زوی اِختیار

۱۹ دَ دے اِلزام په جواب کښے عیسیٰ ووئیل چه"زَهٔ تاسو ته رښتیا رښتیا وایم،زوئے په خپله هیڅ نهٔ شی کولے بے له هغه کار نه چه وینی چه پلار ئے کوی. څهٔ چه پلار کوی هغه زوئے هم کوی. ۲۰ ځکه چه پلار دَ زوئے سره مینه کوی اَؤ خپل ټول کارُونه ورته ښکاره کوی. لا دَ دے نه زیات لوئے کارُونه به ورته داسے ښکاره کړی چه تاسو به حیران پاتے شئ. ۲۱ لکه چه پلار مړی پاڅوی اَؤ هغوئ له ژوند ورکوی دغه شان زوئے هم هر چا له چه غواړی ژوند ورکوی. ۲۲ بیا دا چه پلار دَ یو کس هم عدالت نهٔ کوی بلکه دا اِختیار ئے هم زوئے ته سپارلے دے. ۲۳ اَؤ دا دَ هغهٔ مرضی ده چه ټول دِ دَ زوئے هم په هغه شان عزت کوی لکه چه دَ پلار ئے کوی. څوک چه دَ زوئے عزت نهٔ کوی هغه دَ پلار عزت نهٔ کوی چه هغه ئے را استولے دے.

۲٤ رښتیا رښتیا تاسو ته وایم، کُوم سړے چه زما خبرو ته غوږ ږدی اَؤ په هغه چا باور لری چه زَهٔ ئے را استولے یم هغه تل عُمری ژوندُون لری اَؤ په هغهٔ به دَ سزا حُکم ونهٔ شی ځکه چه هغه دَ مخکښے نه دَ مرګ نه ژوندُون ته آوُړیدلے دے. ۲٥ رښتیا رښتیا تاسو ته وایم،یو وخت داسے راروان دے اَؤ بے شکه چه هغه بیا راغلے دے چه مړی به دَ خُدائے دَ زوی آواز آوُری اَؤ چه څوک ئے واوُری هغه به راژوندے شی. ۲٦ ځکه چه څهٔ رنګ چه پلار دَ تل ژوندُون لری دغه شان ئے زوی له هم دَ تل ژوندُون اِختیار ورکړے دے چه دَ تل ژوندُون ولری. ۲۷ دَ اِبن آدم په حیث هغهٔ ته دا اِختیار هم ورکړے شوے دے چه هغه عدالت وکړی. ۲۸ په دے حیرانیږئ مه ځکه چه یو داسے وخت راتلُونکے دے چه هغه ټول څوک چه په قبرُونو کښے دی به دَ دَهٔ آواز آوُری. ۲۹ اَؤ چا چه نیکی کړی وی هغوئ به دَ تل ژوندُون دَ پاره اَؤ چا چه بد کړی وی هغوئ به دَ سزا دَ پاره راپورته کړے شی.

## دَ عیسیٰ شاهدان

۳۰ زَهٔ په خپله هیڅ نهٔ شم کولے. زَهٔ فیصله کوم څنګه چه ما ته وئیلی شوی دی اَؤ زما فیصله هم دَ اِنصاف ده ځکه چه زما مقصد زما دَ مرضئ نهٔ دے بلکه دَ هغهٔ دَ مرضئ دے چا چه زَهٔ رالیږلے یم.

٣١ که چرے زَۀ دَ خپل ځان ګواهي کوم نو دغه ګواهي رښتُونی نۀ ده. ٣٢ بلکه يو بل هم شته چه هغه
زما دَ پاره ګواهي ورکوی اَؤ زما دا يقين دے چه دَ هغۀ ګواهي رښتُونی ده. ٣٣ تاسو يحيیٰ ته هم خپل
اَستازی وراستولی وُو اَؤ دَ دے حقيقت ګواهي مو ترے حاصله کړه. ٣٤ په دے نه چه ګنی زَۀ دَ انسانی
ګواهۍ حاجتمند يم خو زَۀ تاسو ته دا خبره دريادوم دَ دے دَ پاره چه تاسو خلاصُون ومُومئ. ٣٥ يحيیٰ په
مِثال دَ يوے ډيوے وُو چه تيزه رڼا ئے وه اَؤ دَ څۀ وخت دَ پاره تاسو دے ته هم تيار وئ چه دَ هغۀ په رڼا
کښے خوشحالي وکړئ. ٣٦ خو زَۀ دَ يحيیٰ له ګواهۍ نه لويه ګواهي لرم ځکه چه هغه کارُونه چه زما
پلار ما ته حواله کړی وُو چه زَۀ ئے وکړم اَؤ سر ته ئے ورسوم، دا کارُونه زما ګواهي ورکوی چه پلار زَۀ
را استولے يم. ٣٧ پلار چه زَۀ ئے را استولے يم زما ګواهي کړے ده چه هيڅ کله تاسو هم دَ هغه آواز نۀ
دے آؤريدلے اَؤ نۀ مو هغه ليدلے دے. ٣٨ خو دَ هغۀ کلام په تاسو کښے هيڅ ځائے نۀ دے مُوندلے
ځکه چه په تاسو کښے يو هم په هغۀ باور نۀ کوی څوک چه هغۀ را استولے دے. ٣٩ تاسو صحيفے
لولئ اَؤ دا مو فرض کړی دی چه دَ دوئ په ساتلو به تاسو دَ تل ژوندُون ومُومئ خو هغوئ هم زما په حقله
ګواهي ورکوی. ٤٠ بيا هم تاسو زما طرف ته راتلل نۀ خوښوئ چه دَ تل ژوندُون ومُومئ.

٤١ زَۀ دَ چا نه دَ عزت طمع دارنۀ يم. ٤٢ ځکه چه ما ته ښۀ معلومه ده چه ستاسو په زړُونو کښے دَ
خُدائے مينه نِشته. ٤٣ زَۀ دَ خپل پلار په نامه راغلے يم اَؤ تاسو ما نۀ قبلوئ خو که بل څوک په خپله نامه
راشی نو تاسو به ئے قبُول کړئ. ٤٤ تاسو څۀ رنګ دَ ايمان خاوندان کيدے شئ کله چه تاسو دَ يو بل
نه دَ عزت اُميد لرئ اَؤ هغه عزت چه دَ واحد خُدائے له طرفه دے،لټُون نۀ کوئ. ٤٥ دا خيال مۀ کوئ
چه زَۀ ګنی دَ پلار په عدالت کښے تاسو مُجرمان ګرزوم. مُوسیٰ تاسو مُجرمان کړيږئ،هغه مُوسیٰ چه تاسو
پرے خپل اُميدُونه تړلی دی. ٤٦ که چرے تاسو په مُوسیٰ ايمان لرئ نو په ما به ئے هم لرئ ځکه چه هغۀ
څۀ ليکلی دی، هغه زما په حقله دی. ٤٧ خو که تاسو په هغے چه څۀ هغۀ ليکلی دی، ايمان نۀ لرئ نو
څۀ چه زَۀ وايم په هغے به څۀ رنګ ايمان ولرئ.“

## يوحنا باب ۶

## پنځۀ زره خلق مَړول

**(نتم١٤: ٣١ - ١٢،مرقوس ٦: ٠٣ - ٤٤،لُوقا ٩: ٠١ - ٧١ )**

١ څۀ مُوده پس عيسیٰ دَ ګليل دَ درياب بلے غاړے ته لاړو چه تيبرياس هم ورته وائی. ٢ اَؤ يوه لويه ګڼه
ورپسے وه چا چه دَ ناروغو دَ روغولو اَؤ دَ رنځُورانو دَ روغيدو ننداره ليدلے وه. ٣ بيا عيسیٰ دَ غرۀ لمنے ته
لاړو اَؤ هلته دَ مُريدانو سره کښيناستو. ٤ دَ فسح دَ اختر وخت رانزدے وُو کُوم چه دَ يهوديانو لوئے اختر
وی. ٥ بيا چه عيسیٰ خپلے سترګے اُوچتے کړے نو يوه لويه ګڼه ئے وليده چه دَ هغۀ په طرف راروانه ده.
نو عيسیٰ فيليپوس ته ووئيل چه”مُونږ به دَ دے خلقو دَ پاره ډوډئ دَ کُومه را پيدا کوو؟“ ٦ دا ئے صرف دَ
هغۀ دَ آزمېښت دَ پاره ووئيل،ګنی هسے عيسیٰ ته دا معلُومه وه چه هغه به څۀ کوی.

٧ فيليپوس ورته جواب ورکړو چه”په دوؤ سوو دينارو به هم دومره ډوډئ ونۀ شی چه دَ دے خلقو لږه لږه

ورسی.“

۸ دَ هغهٔ په مُریدانو کښې یو مُرید اندریاس چه شمعُون پطروس ورور وُو،هغهٔ ته ئې ووئیل چه ۹ ”دلته یو
هلک دے. دَ هغهٔ سره دَ اوربشو پنځهٔ ډوډئ اَؤ دوه کبان شته،خو هغه به دَ دے دومر خلقو دَ پاره څهٔ
وی؟“

۱۰ عیسیٰ ووئیل،”دا خلق کښینوئ.“هلته ډیر واښهٔ وُو،نو سړی چه خوا اَؤ شا پنځهٔ زره وُو،کښیناستل.
۱۱ بیا عیسیٰ ډوډئ واخستې،شُکر ئې وکړو اَؤ هغه ئې په هغه ناستو خلقو وویشلې اَؤ هم دغه رنګ عمل
ئې دَ کبانو سره وکړو اَؤ هغوئ په مړه ګیډه وخوړل. ۱۲ کله چه ټولو ښهٔ په مړه خیټه خوراک وکړو نو
هغهٔ خپلو مُریدانو ته ووئیل،”دا پاتې شوې ټُکړې راټولې کړئ دَ دے دَ پاره چه هیڅ هم درنه ضائع نهٔ
شی.“ ۱۳ هغوئ داسې وکړل اَؤ دَ هغه پنځو ډوډو دَ خوړلو نه پس دومره ټُکړې پاتې شوې چه دولس
ټوکرئ ترے ډکې شوې.

۱۴ کله چه خلقو دَ عیسیٰ دا مُعجزه ولیده نو دا خبره خوره شوه چه په رښتیا دا به هم هغه نبی وی دَ
کُوم دَ راتلو زیرے چه شوے وُو. ۱۵ عیسیٰ چه دَ دے نه خبر شو چه هغوئ دَ هغهٔ دَ نیولو اَؤ خپل
بادشاه جوړولو په اِراده دَ راتلو نیت لری نو هغه بیرته غرهٔ ته ستُون شو.

## دَ عیسیٰ په اوبو ګرزیدل

**(نتم٤١: ٢٢ - ٣٣،مرقوس ٦: ٥٤ - ٢٥ )**

۱۶ چه شپه خوره شوه نو دَ عیسیٰ مُریدان دَ دریاب غاړې ته لاړل، ۱۷ په خپله کِشتئ کښې کښیناستل
اَؤ کفرنحُوم ته دَ پورے وتو په نیت ئې خپله کِشتئ ټیل وهله. تیارهٔ بیا خوره شوې وه اَؤ عیسیٰ لا ورسره
یو ځائې شوے نهٔ وُو. ۱۸ په دے دوران کښې تیزه سیلئ چلیده اَؤ دریاب چپې چپې وُو. ۱۹ کله چه
هغوئ درے څلور میله کِشتئ وچلوله نو هغوئ عیسیٰ په اوبو باندے روان ولیدو چه دَ کِشتئ په لور را
نزدے کیږی. هغوئ ویرے واخستل، ۲۰ خو عیسیٰ آواز ورکړو،”ویریږئ مه،دا زَهٔ یم.“ ۲۱ نو بیا هغوئ
دے ته تیار شُو چه هغه کِشتئ ته پریږدی اَؤ سمدستی کِشتئ هغه غاړے ته ورسیده چرته چه دَ دوئ دَ
تلو نیت وو.

## دَ عیسیٰ په تلاش کښې

۲۲ بل سحر هغه ګڼه دَ دریاب په بله غاړه ولاړه وه اَؤ هغوئ هلته صرف یوه کِشتئ کتلې وه اَؤ دَ دے نه
خبر وُو چه عیسیٰ دَ خپلو مُریدانو سره کِشتئ ته نهٔ وُو ختلے،ځوک چه دَ هغهٔ نه بغیر لړے لاړل. ۲۳ بهر
حال دَ تیبریاس نه نورے کِشتئ دے غاړے ته هغه ځائې ته نزدے راغلې چرته چه خلقو هغه ډوډئ
خوړلې وه،په کُومه چه مالِک شُکر ویستلے وُو. ۲۴ کله چه خلقو وکتل چه هلته نهٔ خو عیسیٰ وُو اَؤ نهٔ
ئې مُریدان وُو نو هغوئ په خپله په کشتو کښې سوارهٔ شول اَؤ دَ عیسیٰ په تلاش کښې کفرنحُوم ته روان
شول.

## عیسیٰ دَ ژوندون ډوډئ

٢٥ هغوئ په بله غاړه عيسىٰ وليدو اَؤ هغوئ عيسىٰ ته ووئيل،”مالِکه! تهٔ دلته کله راغلے؟“

٢٦ عيسىٰ جواب ورکړو،”رښتيا خو دا دى چه زَهٔ په دے خبر يم چه تاسو زما په تلاش کښے ځکه نهٔ ئے
راغلى چه تاسو نخښے وکتلے بلکه ځکه چه تاسو ډوډئ وخوړه اَؤ لوږه مو تا ته شوه. ٢٧ تاسو خوارى
وکړئ،نهٔ صرف دَ دے فانى ډوډئ دَ پاره بلکه دَ هغے ډوډئ دَ پاره چه دَ تل ژوندُون پورے پاتے کيږى.
اَؤ اِبن آدم به تاسو ته دا ډوډئ درکړى ځکه چه هم په هغهٔ باندے پلار يعنے خُدائے په خپله دَ اِختيارمند
کيدو مُهر لګولے دے.“

٢٨ بيا هغوئ هغهٔ ته ووئيل چه”مُونږ ته څهٔ کول په کار دى چه دَ خُدائے کار وکړو؟“

٢٩ عيسىٰ جواب ورکړو چه”دَ خُدائے کار دا دے چه په هغه چا ايمان راؤړى چه هغه ئے را استولے
دے.“

٣٠ هغوئ ووئيل،”تهٔ مُونږ ته کُومه مُعجزه ښکاره کولے شے چه مُونږ په تا ايمان راؤړو؟ تهٔ به څهٔ وکړے؟
٣١ لکه چه صحيفے وائى چه زمُونږ پلارُونو نيکُونو په صحرا کښے من وخوړلو،«هغهٔ هغوئ له دَ آسمان
نه خوراک ورکوو.»

٣٢ عيسىٰ جواب ورکړو،”زَهٔ تاسو ته دا وايم چه دا رښتيا نهٔ دى چه مُوسىٰ تاسو ته دَ آسمان نه رښتينے
ډوډئ درکوله بلکه دا رښتيا دى چه زما پلار تاسو ته دَ آسمان نه ډوډئ درکوى. ٣٣ کُومه ډوډئ چه
خُدائے درکوى هغه دَ آسمان نه راکُوزيږى اَؤ دُنيا له ژوندُون ورکوى.“

٣٤ هغوئ هغهٔ ته ووئيل،”مالِکه! مُونږ ته دغه ډوډئ اوس اَؤ هميشه راکوه.“

٣٥ عيسىٰ هغوئ ته ووئيل،”زَهٔ دَ ژوندون ډوډئ يم. څوک چه ما له راځى هغه به هيڅکله نهٔ وږے کيږى
اَؤ څوک چه په ما ايمان راؤړى هغه به هيڅکله نهٔ تږى کيږى. ٣٦ خو څنګه چه ماووئيل چه تاسو زَهٔ
ليدلے يم خو ايمان راباندے نهٔ راؤړئ. ٣٧ هر څهٔ چه زما پلار ما ته راکوى هغه به ما له راځى اَؤ څوک
چه ماله راځى هغه به زَهٔ هيڅ کله ونهٔ شړم. ٣٨ زَهٔ دَ آسمان نه دَ خپلے رضا کولو دَ پاره نهٔ يم راکُوز
شوے بلکه دَ هغهٔ دَ رضا دَ پاره چا چه زَهٔ را استولے يم. ٣٩ دا دَ هغهٔ رضا ده چه هغهٔ چه ما ته هر څهٔ
راکړى دى دَ هغے نه يو هم ورک نهٔ کړم خو هغه ټول په آخرى ورځ راپورته کړم.. ٤٠ ځکه چه دا زما دَ
پلار مرضى ده چه هر هغه څوک چه زوئے ووينى اَؤ په هغهٔ ايمان راؤړى،هغه دے دَ تل ژوندُون خاوند
شى،اَؤ زَهٔ به په آخرى ورځ بيا پاځوم.“

٤١ په دے باندے يهوديان وګُوريدل ځکه چه هغهٔ ووئيل چه”زَهٔ هغه دَ آسمان نه راکُوزه شوے ډوډئ
يم.“ ٤٢ هغوئ ووئيل،”په رښتيا چه دَئے خو دَ يُوسف زوئے عيسىٰ دے چه مُونږ دَ دَهٔ مور اَؤ پلار پيژنُو
،نو بيا څنګه دَئے وئيلے شى چه زَهٔ دَ آسمان نه راکُوز شوے يم؟“

٤٣ نو بيا عيسىٰ جواب ورکړو چه”په خپلو کښے مه ګُوريږئ ٤٤ ځکه چه ما ته يو داسے سړے نهٔ شى

راتلے کُوم چه پلار چه زَۀ ئے رالیږلے یم ما ته رانۀ کاږی،اَؤ زَۀ به هغه په آخری ورځ راپورته کړم. ٤٥ اَؤ دا دَ نبیانو په صحیفو کښے لیک دی.«اَؤ هغوئ به خُدائے پوهه کړی.» هر هغه څوک چه دَ پلار آؤری اَؤ زده کړی هغه ما ته راځی. ٤٦ زما مطلب دا نۀ دے چه ګنی چا پلار لیدلے دے بے له هغۀ نه چه د خُدائے نه راغلے دے،هغۀ پلار لیدلے دے. ٤٧ په رښتیا رښتیا زَۀ تاسو ته دا وایم چه ایمان راوړُونکے دَ تل ژوندُون خاوند دے. ٤٨ زَۀ دَ ژوندُون ډوډئ یم ٤٩ ستاسو پلارُونو نیکُونو په صحرا کښے من وخوړلو اَؤ هغوئ مړۀ دی. ٥٠ خو زَۀ دَ هغے ډوډئ خبره کوم کُومه چه دَ آسمان نه راځی،هر څوک چه هغه وخوری نو هغه هیچرے نۀ مری. ٥١ زَۀ دَ ژوندُون ډوډئ یم چه دَ آسمان نه راکُوز شوے ده. اَؤ څوک چه دا ډوډئ وخوری هغه به تل ژوندے وی.کُومه ډوډئ چه زَۀ ورکوم هغه زما جُسه ده اَؤ زَۀ ئے دَ دُنیا دَ ژوندون دَ پاره ورکوم.“

٥٢ په دے په یهودیانو کښے یوه زبردسته جګړه راپورته شوه،هغوئ ووئیل چه”دا سړے خپله جُسه مُونږ ته خوړلو له څنګه را کولے شی؟“

٥٣ عیسیٰ جواب ورکړو،”په رښتیا رښتیا زَۀ تاسو ته وایم چه تر څو چه تاسو دَ اِبن آدم جُسه ونۀ خورئ اَؤ دَ هغۀ وینه ونۀ څښئ تر هغے تر تاسو په ځان کښے ژوندُون نۀ شئ لیدے. ٥٤ څوک چه زما جُسه وخوری اَؤ زما وینه وڅښی هغه دَ تل ژوندُون خاوند دے اَؤ هغه به زَۀ په آخری ورځ پورته کړم. ٥٥ زما جُسه حقیقی خوراک دے اَؤ زما وینه حقیقی څښاک دے ٥٦ څوک چه زما جُسه خوری اَؤ زما وینه څښی هغه په ما کښے پاتے کیږی اَؤ زَۀ په هغۀ کښے پاتے کیږم ٥٧ لکه چه ژوندی پلار زَۀ راواستولم اَؤ زَۀ دَ پلار په وجه ژوندے یم،دغه شان څوک چه ما وخوری هغه به زما په وجه ژوندے وی ٥٨ هم دا هغه ډوډئ ده چه دَ آسمان نه را کُوزه شوے ده اَؤ دا دَ هغه ډوډئ په شان نۀ ده چه زمُونږ پلارُونو نیکونو وخوړله اَؤ مړۀ شول. څوک چه دا ډوډئ وخوری هغه به تل تر تله ژوندے وی.“

## دَ تل ژوندُون کلام

٥٩ دا خبرے عیسیٰ هغه وخت په عبادت خانے کښے وکړے کله چه هغۀ په کفرنحُوم کښے تعلیم ورکولو ٦٠ دَ هغۀ ډیرو مُریدانو دَ دے په آؤریدو ووئیل چه”دا زمُونږ دَ زغم نه بهر ده، نو بیا ئے څوک آؤریدلے شی؟“

٦١ عیسیٰ خبر وُو چه دَ هغۀ مُریدان په دے حقله ګُوربړی،نو هغۀ هغوئ ته ووئیل چه”آیا تاسو په دے خفه کیږئ؟ ٦٢ دا څۀ خبره ده که تاسو اِبن آدم هغه ځائے ته په ختو ووینئ چرته چه هغه وړُومبے وُو؟ ٦٣ صرف رُوح دَ ژوندُون سبب دے،جُسه دَ هیڅ کار نۀ ده اَؤ کُومے خبرے چه ما تاسو ته کړے دی هغه هم رُوح دے اَؤ هم ژوندُون. ٦٤ خو بیا هم په تاسو کښے ځنے داسے دی چه ایمان نۀ لری.“ ځکه چه عیسیٰ ته دَ مخکښے نه دا معلُومه وه چه څوک به ایمان نۀ راوړی اَؤ څوک به په هغۀ مُخبری کوی. ٦٥ ځکه هغۀ ووئیل چه”دغه وجه ده چه ما تاسو ته ووئیل چه هیڅوک هم ما ته نۀ شی راتلے تر څو چه پلار ورته دا توان ورکړے نۀ وی.“

٦٦ دَ هغه وخت نه پس دَ عیسیٰ مُریدان دَ هغۀ په شا شول اَؤ دَ هغے نه پس دَ هغۀ سره نۀ ګرزیدل. ٦٧

نو عیسیٰ هغه دولسو مُریدانو ته ووئیل،”آیا تاسو هم ما پرېښودل غواړئ؟“

٦٨ شمعُون پطروس ورته جوب ورکړو،”مالِکه چا له به مُونږ لاړ شُو؟ تا سره خو دَ تل ژوندُون خبرے
دی. ٦٩ زمُونږ په تا ایمان دے اَؤ مُونږ په دے پوهه شوی یُو چه تهٔ دَ خُدائے قُدوس یئے.“

٧٠ عیسیٰ جواب ورکړو،”آیا ما تاسو دولس واړه غوره کړی نهٔ یئ څهٔ؟ خو په تاسو کښے یو اِبلیس هم
دے!“ ٧١ دَ هغهٔ مطلب دَ شمعُون اسکریوتی دَ زوئے یهوداه نه وُو ځکه چه هم دا هغه وُو چه په عیسیٰ
به مُخبری کوی اَؤ هغه په دغه دولسو مُریدانو کښے یو وُو.

## یوحنا باب ٧

## دَ عیسیٰ دَ ورُونړو بے اِعتقادی

١ دَ دے نه پس عیسیٰ په گلیل کښے گرزیدو. هغهٔ دَ یهودیانو نه په ډېره تلل غوښتل ځکه چه یهودیانو دا
موقع لټوله چه هغه مړ کړی. ٢ اَؤ دَ یهودیانو دَ تمبوانو اختر رانزدے وُو. ٣ دَ هغهٔ ورونړو هغهٔ ته ووئیل،”تهٔ
دا علاقه پرېږده اَؤ یهودیه ته لاړ شه دَ دے دَ پاره چه ستا مُریدان هغه لوئے کارُونه چه تهٔ ئے کوے
،ووینی. ٤ ولے چه هیڅوک پټ کارُونه نهٔ کوی چه خپل ځان ښکاره کړی که چرے تهٔ په رښتیا داسے
کارُونه کوے لکه چه دِ دا وکړل نو دُنیا ته ځان څرګند کړه.“ ٥ دَ هغهٔ ورُوڼو هم په هغهٔ باندے ایمان نهٔ
لرو.

٦ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل،”زما دَ پاره ټاکلے شوے وخت لا نهٔ دے راغلے،ستاسو دَ پاره هر وخت
صحیح دے ٧ دُنیا تاسو سره دُښمنی نهٔ شی کولے خو ما سره دُښمنی کوی ځکه چه زهٔ دَ دوئ بد
کارُونه څرګندوم ٨ تاسو په خپله اختر ته لاړ شئ،زهٔ دے اختر له نهٔ ځم ځکه چه زما دَ پاره ټاکلے شوے
وخت لا نهٔ دے راغلے“ ٩ هم دَ دے جواب سره عیسیٰ په گلیل کښے پاتے شو.

## عیسیٰ دَ تمبوانو په اختر کښے

١٠ کله چه دَ عیسیٰ ورُوڼه اختر ته تللی وونو هغه په خپله هم لاړو،خو په ښکاره نه بلکه په پټه ١١
یهودیانو په اختر کښے دَ هغهٔ لټُون کاوو اَؤ دا تپوس ئے کاوو چه”عیسیٰ چرته دے؟“ ١٢ اَؤ په گڼه کښے
دَ هغهٔ په حقله دا گنگوسے روان وُو،چا به وئیل چه”هغه ښهٔ سړے دے،“ خو نورو به وئیل چه”نه،هغه
خلق بے لارے کوی.“ ١٣ نو بیا هم خلقو دَ یهودیانو دَ ویرے ښکاره هیڅ نهٔ شُو وئیلے.

١٤ کله چه اختر نیمے ته ورسیدلو نو عیسیٰ دَ خُدائے کور ته لاړو اَؤ هلته ئے تعلیم شروع کړو. ١٥
یهودیان حیران شول اَؤ وئے وئیل،”دا لا څنګه چل دے،دا عامی سړے څهٔ رنګ دَ دومره علم خاوند
شو؟“

١٦ عیسیٰ جواب ورکړو،”کُوم تعلیم چه زهٔ ورکوم دا تعلیم زما نهٔ دے،دا دَ هغهٔ تعلیم دے چا چه زهٔ را
استولے یم. ١٧ دَ چا چه دا مرضی وی چه دَ خُدائے رضا پُوره کړی،هغه به په دے پوهه شی چه دا

تعلیم چه زَۀ ئے ورکوم دا دَ هغۀ له طرفه دے،که ما په خپله جوړ کړے دے. ۱۸ دَ کُوم سړی تعلیم چه
دَ هغۀ له طرفه وی هغه تش دَ ځان دَ پاره عزت غواړی خو کُوم سړے چه دَ خپل رالیږُونکی عزت غواړی
هغه په حقیقت کښے وفادار دے اَؤ په هغۀ کښے هیڅ ټکی نِشته. ۱۹ آیا مُوسیٰ تاسو ته شریعت نۀ وُو
درکړے؟ خو تاسو ټولو هغه مات کړو. تاسو ولے زما په مرګ پسے شوی یئ؟“

۲۰ ګڼهے جواب ورکړو،”په تا پیریان ناست دی. ګنی څوک دا غواړی چه تا ووژنی؟“

۲۱ عیسیٰ جواب ورکړو،”ما تش یو ځل دَ سبت په ورځ مُعجزه وکړله اَؤ تاسو ټول حیران شوئ ۲۲ خو
دے ته خیال وکړئ چه مُوسیٰ تاسو ته دَ سُنت کولو شریعت درکړو،اګر چه دا دَ مُوسیٰ دَ طرف نه نۀ وُو
بلکه دَ پلارُونو نیکُونو دَ وخته راسے راروان وُو،اَؤ تاسو دَ سبت په ورځ سُنتونه کوئ ۲۳ ښه،نو که تاسو دَ
سبت په ورځ سُنتونه کوئ دَ دے دَ پاره چه دَ مُوسیٰ دَ شریعت حُکم مات نۀ شی نو بیا تاسو زما نه په
دے وجه خفه یئ چا ما دَ سبت په ورځ یو سړے بلکل ولے روغ کړو؟ ۲٤ نو په ظاهر دارئ فیصله مه
کوئ بلکه په اِنصاف فیصله کوئ“

## دا مسیح دے څۀ؟

۲۵ په دے باندے دَ بیتُ المُقدس خلقو دا وینا شروع کړه،”آیا دا هغه سړے نۀ دے چه دَ چا دَ وژلو
کوشِش کولے شی؟ ۲٦ اَؤ وګورئ،دَئے دلته کښے ښۀ په ډاګه لګیا دے اَؤ هغوئ ورته هیڅ نۀ شی
وئیلے. آیا دا خو نۀ ده چه زمُونږ مشرانو دا فیصله کړے ده چه دَئے په رښتیا مسیح دے؟ ۲۷ اَؤ مُونږ ته
بیا هم دا معلُومه ده چه دا سړے دَ کُومه راغلے خو هر کله چه مسیح راشی نو هیچا ته به معلُومه نۀ وی
چه دَ کُوم ځائے دے.“

۲۸ په دغه وخت عیسیٰ دَ خُدائے په کور کښے دَ تعلیم په دوران کښے چغه وویستله چه”بے شکه په
رښتیا چه تاسو ما پیژنئ. په رښتیا چه تاسو دَ دے نه هم خبر یئ چه زَۀ له کُومے راغلے یم. خو بیا هم
زَۀ په خپله مرضئ نۀ یم راغلے،زَۀ هغه چا را استولے یم څوک چه رښتینے دے اَؤ تاسو ئے نۀ پیژنئ. ۲۹
زَۀ هغه پیژنم ځکه چه زَۀ دَ هغۀ نه راغلے یم اَؤ دا هغه دے چه زَۀ ئے را استولے یم.“

۳۰ په دے هغوئ دَ هغۀ دَ رانیولو کوشش وکړو خو بیا هم هیچا هغۀ ته لاس وانۀ چولے شو ځکه چه دَ
هغۀ دَ پاره ټاکلے شوے وخت لا نۀ وُو راغلے. ۳۱ خو بیا هم په خلقو کښے ډیرو په هغۀ ایمان راوړو اَؤ
هغوئ وئیل چه”کله چه مسیح راځی نو آیا هغه به دَ دے سړی نه زیاتے مُعجزے ښکارندے کړی څۀ؟“

دَ عیسیٰ دَ ګرفتارولو دَ پاره ئے دَ خُدائے دَ کور خادمان واستول

۳۲ فریسیانو دَ عیسیٰ په حقله دَ خلقو دا ګُوریدل واؤریدل،ځکه مشرانو کاهنانو اَؤ فریسیانو دَ خُدائے دَ
کور خادمان دَ هغۀ په نیولو پسے ولیږل. ۳۳ بیا عیسیٰ ووئیل چه”زَۀ به څۀ لږه مُوده تاسو سره یم اَؤ پس
له هغے به بیا هغۀ له ځم چا چه زَۀ را استولے یم. ۳٤ تاسو به ما پسے لټُون کوئ خو بیا به مے نۀ مُومئ
اَؤ چرته چه به زَۀ یم هلته به تاسو نۀ شئ راتلے.“

۳۵ نو يهوديانو يو تر بله ووئيل چه”دے چرته تلل غواړی چه مُونږ به ئے بيا نۀ شُو مُوندے؟ آيا دے به هغه
چا له لاړ شی ځوک چه په يُونانيانو کښے خوارۀ وارۀ پراتۀ دی اَؤ يُونانيانو ته به تعليم ورکوی؟ ۳٦ دَ هغۀ
دَ دے وينا نه مطلب څۀ دے چه تاسو به ما لټوئ خو مُوندے به مے نۀ شئ اَؤ چه زَۀ چرته يم تاسو هلته
نۀ شئ راتلے؟“

## دَ ژوندُون دَ اوبو سندُونه

۳۷ دَ اختر په آخری اَؤ دَ ټولو نه په لويه ورځ عيسیٰ ودريدلو اَؤ په چغو ئے ووئيل،”ځوک چه تږے وی
هغه دِ ماله راشی،هغه دِ وڅښی. ۳۸ اَؤ ځوک چه په ما ايمان راوړی،لکه چه صحيفے وائی«دَ ژوندُون دَ
ابو سيندُونه په دَ هغۀ نه بهيږی.» ۳۹ عيسیٰ دا خبره دَ هغه رُوحُ القُدس په باره کښے وکړه،کُوم چه په
هغه چا نازليدُونکے وُو چا چه په عيسیٰ ايمان راؤړو،ځکه چه رُوحُ القُدس لا نازل شوے نۀ وُو،ولے چه
عيسیٰ لا خپل جلال ته رسيدلے نۀ وُو.

## دَ خلقو په مينځ کښے بے اِتفاقی

٤۰ دَ دے په آؤريدو ځنو خلقو ووئيل،”هم دا به يقينًا هغه راتلُونکے پيغمبروی،“ ٤۱ نورو ووئيل چه”دا
مسيح دے،“ اَؤ نورو ووئيل چه”يقينًا چه دَ ګليل نه به راځی ٤۲ آيا صحيفے دا نۀ وائی چه مسيح به دَ
داؤد دَ خاندان نه وی اَؤ دَ داؤد دَ کلی بيتُ لحم به وی؟“ ٤۳ اَؤ دغه شان دَ عيسیٰ په وجه په خلقو
کښے بے اِتفاقی پيدا شوه. ٤٤ ځنے دَ هغۀ دَ نيولو په حق کښے وُو خو هيچا هم هغۀ ته لاس وانۀ چولے
شو.

## دَ حاکمانو بے اِعتقادی

٤٥ دَ خُدائے دَ کور خادمان مشرانو کاهنانو اَؤ فريسيانو ته بيرته راغلل اَؤ هغوئ ورته ووئيل،”تاسو هغه ولے
رانۀ وستو؟“

٤٦ هغوئ جواب ورکړو چه”هيڅوک هم داسے خبرے نۀ کوی لکه دا سړے چه ئے کوی.“

٤٧ فريسيانو ورته ووئيل چه”تاسو هم ګُمراه شوی يئ څۀ؟ ٤۸ آيا زمُونږ په مشرانو کښے يو هم په هغۀ
ايمان راوړے دے څۀ؟ يا يو فريسی هم؟ ٤۹ دا خلق چه په شريعت نه پوهيږی لعنتيان دی.“

۵۰ بيا په هغوئ کښے نيکوديموس نومے يو سړی،يعنے هغه سړے چه يو ځل وړاندے عيسیٰ له راغلے
وُو،په کښے ورودانګل اَؤ هغۀ ووئيل چه ۵۱ ”آيا زمُونږ شريعت مُونږ ته دا اِجازت راکوی چه تر څو دَ يو
سړی بيان په خپله وانۀ ورُو اَؤ هغۀ ته دَ صفايئ موقع ورنۀ کړُو نو هغه مُونږ مُجرم کولے شُو څۀ؟“

۵۲ هغوئ جواب ورکړو،”تۀ هم ګليلی يئے څۀ؟ وګوره اَؤ صحيفے ولوله،نو په خپله به خبر شے چه يو
نبی هم له ګليل نه نۀ راځی.“

## یوحنا باب ۸

## په زِنا کښې نیولې شوې ښځه

۱ په هغوئ کښې هر يو خپل کور ته لاړو خو عيسىٰ دَ ښونانو غر ته وختلو. ۲ اَؤ بله ورځ سحر وختی
هغه بيا دَ خُدائے کور ته راغے اَؤ ټول خلق ورته راغونډ شول. هغه ناست وُو اَؤ تعليم ئے ورته ور کاوو .
۳ دَ شرعې عالمانو اَؤ فريسيانو يوه ښځه راوسته څوک چه په زِنا کښې نيولې شوې وه. هغه ئے په خپل
مينځ کښې ودروله. ۴ اَؤ هغوئ هغهٔ ته ووئيل چه''اُستاذه! دا ښځه په زِنا کولو ونيولې شوه. ۵ مُوسىٰ په
شريعت کښې وئيلې دی چه داسې ښځې دِ سنګسار کړې شی . ته په دے حقله څهٔ وايې؟'' ۶ هغوئ
دَ هغهٔ دَ آزميښت دَ پاره دا سوال وکړو. دا ئے خيال وُو چه په دے شان به دَ هغهٔ بر خلاف اِلزام ثابت
کړی. عيسىٰ ټيټ شو اَؤ په مزکه ئے په ګوته څهٔ ليکل. ۷ کله چه هغوئ بيا بيا خپل سوال تکرار کړو نو
هغه نيغ ودريدو اَؤ ورته ئے ووئيل چه''په تاسو کښې به هغه څوک په دے وړُومبې کاڼے وروِلی چا چه
هيڅ ګُناه نهٔ وی کړے.'' ۸ پس له هغې هغه يو ځل بيا ټيټ شو اَؤ په مزکه ئے څهٔ وليکل. ۹ کله چه
هغوئ دَ هغهٔ خبره واؤريده نو يو يو بهر ووتلو،مشران ئے ترے وړاندے وُو اَؤ عيسىٰ ئے يواځې پريښودو اَؤ
ښځه هم هغه شان هلته ولاړه وه. ۱۰ عيسىٰ بيا نيغ ودريدو اَؤ هغه ښځې ته ووئيل،''هغوئ څهٔ شول؟ تهٔ
هيچا هم مُجرمه نهٔ کړے؟'' ۱۱ هغې جواب ورکړو،''مالِکه! هيچا هم نه.''

عيسىٰ ووئيل،''اَؤ نهٔ دِ زَهٔ مُجرمه کوم،تهٔ تلې شې خو بيا ګُناه مه کوه.''

## عيسىٰ دَ دُنيا نُور

۱۲ عيسىٰ يو ځل بيا خلقو ته مُخاطب شو اَؤ وئې وئيل،''زَهٔ دَ دُنيا نُور يم. څوک چه ما پسې راځی هغه
به په تيارهٔ کښې نهٔ ګرزی بلکه په هغه نُور کښې چه ژوندُون روښانه کوی.''

۱۳ فريسيانو هغهٔ ته ووئيل،''تهٔ دَ خپل ځان په حق کښې ګواهی کوے خو ستا ګواهی معتبره نهٔ ده.''

۱۴ عيسىٰ جواب ورکړو،''زما ګواهی معتبره ده که زَهٔ ئے دَ ځان په حق کښې ورکوم،ځکه چه هم زَهٔ
خبر يم چه زَهٔ دَ کُومه راغلے يم اَؤ چرته به ځم، بلکه تاسو نهٔ پوهيږئ چه دَ کُومه راغلے يم اَؤ چرته به
ځم. ۱۵ تاسو دَ دُنيا دَ دستُور په مُطابق فيصلے کوئ خو زَهٔ دَ هيچا فيصلے نهٔ کوم. ۱۶ خو که فيصله
کوم نو زما فيصله به صحيح وی ځکه چه دا فيصله زَهٔ يواځې نهٔ کوم بلکه زَهٔ اَؤ زما پلار ئے کوُو چه زَهٔ
ئے را استولے يم.

۱۷ ستاسو په خپل شريعت کښې ئے دا ليکلی دی چه ددوؤ کسو ګواهی معتبره ده. ۱۸ خو دا زَهٔ يم چه
دَ خپل ځان په حق کښې ګواهی کوم اَؤ زما بل ګواه زما پلار دے چه زَهٔ ئے را استولے يم.''

۱۹ هغوئ تپوس وکړو،''ستا پلار چرته دے؟''

عيسىٰ جواب ورکړو چه''نهٔ خو تاسو ما پيژنئ اَؤ نهٔ زما پلار. که تاسو زَهٔ پيژندے نو زما پلار به مو هم
پيژندو.''

٢٠ دا خبره عيسىٰ دَ خُدائے په كور كښے دَ تعليم وركولو په وخت په خزانے كښے وكړه خو هيچا هم
هغه گرفتار نۀ كړو ځكه چه دَ هغۀ وخت لا نۀ وُو راغلے.

## چرته چه زَۀ ځم تاسو هلته راتلے نۀ شئ

٢١ عيسىٰ هغوئ ته دا بيا ووئيل،"زَۀ درنه ځم،تاسو به ما لټوئ خو تاسو به په خپلو گُناهونو كښے مړۀ
شئ. اَوُ چرته چه زَۀ ځم هلته تاسو نۀ شئ راتلے."

٢٢ يهوديانو بيا ووئيل،"شاهد چه دَ ے خپل ځان وژنى چه دا وائى،چرته چه زَۀ ځم هلته تاسو نۀ شئ
راتلے."

٢٣ نو عيسىٰ ووئيل،"تاسو دَ دے مزكے خلق يئ اَوُ زَۀ دَ آسمان،تاسو دَ دے دُنيا استوگن يئ خو زَۀ دَ
دے دُنيا نۀ يم. ٢٤ ځكه چه ما تاسو ته ووئيل چه تاسو به په خپلو گُناهونو كښے مړۀ شئ. كه چرے
تاسو په دے باور نۀ كوئ چه زَۀ چه يم هغه يم،نو تاسو به په خپلو گُناهونو كښے مړۀ شئ."

٢٥ هغوئ دَ هغۀ نه تپوس وكړو،"تۀ يئے څوك؟"

عيسىٰ جواب وركړو چه"زَۀ هم هغه يم چه مے تاسو ته مخكښے وئيلى دى. ٢٦ ستاسو په حقله ډيرے
څۀ خبرے دَ وئيلو اَوُ دَ فيصله كولو لا شته خو هغه چا چه زَۀ ئے را استولے يم،رښتينے دے اَوُ څۀ چه ما
دَ هغۀ نه آوُريدلى دى هغه زَۀ دُنيا ته وايم."

٢٧ هغوئ په دے پوهه نۀ شُو چه عيسىٰ دَ هغوئ سره دَ پلار په حقله خبرے كولے. ٢٨ نو هغۀ هغوئ ته
ووئيل،"كله چه تاسو اِبن آدم پورته وخيژوئ نو پوهه به شئ چه زَۀ چه يم هغه يم.زَۀ په خپل اِختيار هيڅ
نۀ كوم خو هر څۀ چه زَۀ وايم،دَ دے تعليم ما ته زما پلار راكړے دے.٢٩ چا چه زَۀ را راستولے يم هغه
ما سره موجُود دے اَوُ هغۀ زَۀ يواځے نۀ يم پريښے ځكه چه زَۀ هميشه هغه څۀ كوم چه كُومه دَ هغۀ رضا
ده."

٣٠ چه عيسىٰ دا خبرے وكړے نو ډيرو پرے ايمان راوُړو.

## حقيقت به تاسو آزاد كړى

٣١ كُومو خلقو چه په عيسىٰ ايمان راوُړے وُو،عيسىٰ هغوئ ته مخ راواړوو اَوُ وئے وئيل،"كه چرے تاسو
زما په كلام كښے قائم پاتے شئ نو په رښتيا تاسو زما مُريدان يئ. ٣٢ اَوُ تاسو به په حقيقت پوهه شئ اَوُ
حقيقت به تاسو آزاد كړى."

٣٣ هغوئ جواب وركړو چه"مُونږ دَ اِبراهيم اَوُلاد يُو،مُونږ چرے هم دَ چا غُلامان شوىٔ يو.ستا دَ دے وينا
نه مطلب څۀ دے چه تاسو به آزاد شئ؟"

٣٤ عيسىٰ ورته دا ووئيل چه"رښتيا زَۀ تاسو ته دا وايم،هر څوک چه گُناه كوى هغه دَ گُناه غُلام دے. ٣٥

اَؤ په کور کښې غُلام مُدام پاتې کیږی نه،خو زوے په کور کښې مُدام پاتې کیږی. ٣٦ که چرے زوئے
تاسو آزادوی نو تاسو به په رښتیا آزاد یئ. ٣٧ ما ته دا معلُومه ده چه تاسو دَ اِبراهیم اَؤلاد ئے خو تاسو دا
اِراده کړے ده چه ما وژنئ ځکه چه زما کلام قبُول نۀ کړے شی. ٣٨ هغه څۀ چه ما دَ خپل پلار په
حضُور کښې لیدلی دی هغه زَۀ وایم اَؤ تاسو په هغه څۀ عمل کوئ څۀ چه تاسو دَ خپل پلارنه آؤریدلی
دی.“

٣٩ هغوئ ووئیل،”اِبراهیم زمُونږ بابا دے.“

عیسیٰ جواب ورکړو،”که چرے تاسو دَ اِبراهیم اَؤلاد وئ نو تاسو به هغه څۀ کولے څۀ چه به اِبراهیم
کول. ٤٠ خو لکه چه څرګنده ده چه تاسو زما دَ مرګ پخه اِراده کړے ده،دَ هغه چا چه تاسو ته ئے
حقیقت ووئیلو چه ما دَ خُدائے نه آؤریدلی دی، خو دا دَ اِبراهیم عمل نۀ دے. ٤١ تاسو خو دَ خپل پلار
غوندے کار کوئ.“

هغوئ ووئیل،”مُونږ حرامیان نۀ یُو پیدا،یواځې خُدائے زمُونږ پلار دے.“

٤٢ عیسیٰ ورته ووئیل چه”که خُدائے ستاسو پلار وَئے نو تاسو به ما سره مینه کولے ځکه چه زَۀ دَ خُدائے
نه راغلے یم اَؤ دلته یم. زَۀ په خپله مرضئ نۀ یم راغلے بلکه زَۀ هغۀ را استولے یم. ٤٣ تاسو زما په خبرو
پوهیږئ ولے نۀ؟ دا ځکه چه زما کلام تاسو آؤریدلے نۀ شئ. ٤٤ ستاسو پلار اِبلیس دے اَؤ تاسو دَ پلار په
خوښه عمل کوئ. هغه دَ اوله سره قاتل وُو اَؤ په حقیقت کښې پاتې نۀ شو اَؤ نۀ په کښې څۀ حقیقت
شته. هر کله چه هغه څۀ دروغ وائی نو هغه دَ خپله ځانه وائی ځکه چه هغه دروغژن دے اَؤ پلار دَ
دروغو دے. ٤٥ خو زَۀ رښتیا وایم اَؤ ځکه تاسو په ما یقین نۀ کوئ. ٤٦ په تاسو کښې کُوم یو سړے دے
چه په ما ګُناه ثابتولے شی؟ که چرے څۀ چه زَۀ وایم هغه رښتیا وی نو بیا تاسو په ما ایمان ولے نۀ راؤړئ؟
٤٧ هغه څوک چه پلار ئے خُدائے دے، دَ خُدائے کلام آؤری. تاسو خو دَ خُدائے اَؤلاد نۀ یئ ځکه ئے
تاسو نۀ آؤرئ.“

## عیسیٰ اَؤ اِبراهیم

٤٨ یهودیانو جواب ورکړو چه”آیا زمُونږ دا وینا رښتیا نۀ ده چه تۀ سامری یئے اَؤ په تا پیریان ناست دی؟“

٤٩ عیسیٰ ووئیل چه”په ما پیریان نۀ دی ناست. زَۀ دَ خپل پلار عزت کوم خو تاسو ما بے عزته کوئ. ٥٠
زَۀ خپله لوئی نۀ غواړم خو یو شته چه هغه ئے غواړی اَؤ هغه فیصله کوی. ٥١ زَۀ تاسو ته رښتیا رښتیا
وایم، که څوک زما په کلام عمل کوی هغه به هیڅ کله مړ نۀ شی.“

٥٢ یهودیانو ووئیل چه”اوس زمُونږ پُوره یقین دے چه تۀ پیری نیولے یئے. اِبراهیم خو مړ دے اَؤ نبیان هم
اَؤ بیا هم تۀ وایئے چه که څوک زما په کلام عمل وکړی هغه به هیڅ کله هم دَ مرګ خوند ونۀ څکی.
٥٣ آیا تۀ زمُونږ دَ پلار اِبراهیم نه لوئے یئے څۀ چه مړ شوے دے؟ اَؤ نبیان هم مړۀ دی. نو بیا تۀ ځان څۀ
ګڼې؟“ ٥٤ عیسیٰ جواب ورکړو،”که چرے زَۀ خپل صفت وکړم نو زما صفت کول څۀ معنیٰ نۀ لری،خو

دا زما پلار دے چه زما صفت کوی،دَ هغهٔ چه تاسو ورته خُدائے وایئ، ٥٥ سره دَ دے چه تاسو هغه نهٔ
پیژنئ. خو زَهٔ هغه پیژنم. که چرے ما دا ووئیل چه زَهٔ هغه نهٔ پیژنم نو زَهٔ به هم ستاسو په شان دروغژن یم
خو رښتیا خو دا دی چه زَهٔ هغه پیژنم اَؤ دَ هغهٔ په کلام عمل کوم.

٥٦ ستاسو پلار اِبراهیم زما دَ ورځے په لیدو ډیره ښادی کوله. هغهٔ دا ولیده اَؤ خوشحاله شو.“

٥٧ یهودیانو اِحتجاج وکړو چه”تهٔ خو لا دَ پنځوسو کالو هم نهٔ یئے،نو بیا اِبراهیم دِ څرنګ ولیدو؟“

٥٨ عیسیٰ ووئیل،”زَهٔ تاسو ته رښتیا رښتیا وایم چه اِبراهیم لا پیدا هم نهٔ وُو چه زَهٔ یم.“

٥٩ هغوئ په عیسیٰ پسے کاڼی راواخستل چه وئے ولی خو عیسیٰ ئے ونهٔ لیدو اَؤ هغه دَ خُدائے دَ کور نه
ووتو.

## یوحنا باب ۹

## دَ یو پیدائشی ړُوند بینا کول

١ عیسیٰ چه په لارے تیریدو نو یو سړے ئے ولیدلو چه پیدائشی ړُوند وُو. ٢ دَ هغهٔ مُریدانو پرے سوال
وکړو چه”اُستاذه! ګُناه چا کړے ده،دَهٔ اَؤ که دَ دَهٔ مور اَؤ پلار؟ دَے ولے ړُوند پیدا شوے دے؟“

٣ عیسیٰ جواب ورکړو،”خبره دا نهٔ ده چه ګنی دَهٔ یا دَ دَهٔ مور پلار ګُناه کړے ده. هغه ړُوند ځکه پیدا
شوے وُو چه دَ خُدائے قُدرت پرے څرګند کړے شی. ٤ تر څو چه لا ورځ ده نو مُونږ ته په کار دی چه
دَ هغه چا په کار کښے آخته یُو چه زَهٔ ئے رالیږلے یم،شپه راروانه ده چه هیڅوک په کښے کار نهٔ شی
کولے. ٥ تر څو چه زَهٔ په دے دُنیا کښے یم، زَهٔ دَ دے دُنیا رڼا یم.“

٦ دے وئیلو سره عیسیٰ په مزکه وتُوکل اَؤ په لاړو ئے خټه جوړه کړه اَؤ هغه ئے دَ هغه سړی په سترګو
ومږله، ٧ اَؤ ورته ئے ووئیل چه”لاړ شه اَؤ دَ شیلوخ په تالاؤ کښے ئے ووینځه.“دَ دے تالاؤ نُوم معنیٰ ده،
لیږلے شوے. هغه سړے لاړو،هلته ئے سترګے ووینځلے اَؤ بینا شو اَؤ بیرته راغے.

٨ دَ هغهٔ ګاونډیانو اَؤ هغه چا چه دَئے ئے پیژندو چه خیر به ئے غوښتو،وئے وئیل،”آیا دَ هغه سړے نهٔ
دے چه ناست به وُو اَؤ خیر به ئے غوښتو؟“

٩ نورو ووئیل،”هو! هم دا هغه سړے دے“اَؤ نورو ووئیل،”نه،دا دَ هغهٔ په شان دے. هغهٔ په خپله ووئیل
چه زَهٔ هغه سړے یم.“ ١٠ هغوئ ترے تپوس وکړو چه”بینا څنګه شوے؟“

١١ هغهٔ جواب ورکړو،”هغه سړے چه ورته عیسیٰ وائی هغه لیټئ جوړه کړه،زما په سترګو ئے ومږله اَؤ راته
ئے ووئیل چه دَ شیلوخ تالاؤ ته لاړ شه اَؤ هلته ئے ووینځه. زَهٔ هلته لاړم اَؤ ومے وینځلے اَؤ بینا شوم.“

١٢ هغوئ تپوس وکړو چه”هغه دے چرته؟“

هغهٔ جواب ورکړو.”ما ته نهٔ ده معلُومه.“

### دَ فريسيانو دَ شفا مُوندلو په حق کښے تحقيقات

١٣ هغه ړُوند سړے ئے فريسيانو له راوستو. ١٤ چونکه دا دَ سبت ورځ وه چه عيسىٰ ليټۍ جوړه کړے وه
اَؤ دَ هغهٔ په سترګو ئے ومږله. ١٥ فريسيانو ترے تپوس وکړو چه”دا تهٔ هغهٔ په څهٔ بينا کړے؟“سړى هغوئ
ته ووئيل،”هغهٔ زما په سترګو ليټۍ ومږله،بيا هغه ما ووينځلے اَؤ اوس بينا شوے يم.“

١٦ خو فريسيانو ووئيل چه”دا دَ خُدائے سړے نهٔ دے ځکه چه دَ سبت دَ ورځے اِحترام نهٔ کوى.“

خو نورو ووئيل چه”دَ يو ګُناه ګار سړى نه داسے عمل څهٔ رنګ صادر کيدے شى؟“نو په هغو کښے
مُخالفت پيدا شو.

١٧ بيا هغوئ دَ هغهٔ نه تپُوسونه شروع کړل چه”ستا دَ هغهٔ په حقله څهٔ خيال دے؟ ځکه چه هغهٔ ستا
سترګے بينا کړے دى.“

هغهٔ جواب ورکړو چه”هغه نبى دے.“

١٨ خو يهوديانو په دے باور نهٔ کاوو چه ګنى دا سړے ړُوند وُو اَؤ بينا شو تر څو چه هغوئ دَ هغهٔ دَ مور
اَؤ پلار نهٔ وُو رابللى ١٩ اَؤ تپوس ئے ترے نهٔ وُو کړے چه”آيا دا سړے ستاسو زوئے دے؟آيا تاسو دا وايئ
چه دَئے ړُوند پيدا شوے وُو؟ دا دَئے اوس څنګه بينا شو؟“

٢٠ مور اَؤ پلار ئے جواب ورکړو،”مُونږ ته دا معلُومه ده چه دا زمُونږ زوئے دے اَؤ دا چه دَئے ړُوند پيدا
شوے وُو. ٢١ خو دا څهٔ رنګ وشول چه دے بينا شو اَؤ چا بينا کړو، دَ دے نه نهٔ يُو خبر.د دهٔ نه تپوس
وکړئ،دَئے زلمے دے، دَئے به په خپله حال ووائى.“ ٢٢ دَ هغهٔ مور اَؤ پلار دا جواب يهوديانو ته دَ ويرے
له کبله ورکړو ځکه چه دَ يهوديانو مشران دَ مخکښے نه په دے يوه خُلهٔ شوى وُو چه هر څوک چه
عيسىٰ مسيح ومنى نو هغه به دَ دے عبادت خانے نه خارج کړے شى. ٢٣ هم دغه وجه ده چه مور پلار
ئے ووئيل چه هغه زلمے دے،پوښتنه ترے وکړئ.

٢٤ نو بيا په دويم ځل هغوئ هغه سړے راوبللو څوک چه ړُوند وُو اَؤ وئے وئيل،”دَ خُدائے په وړاندے
رښتيا رښتيا ووايه،مُونږ ته دا معلُومه ده چه دا سړے ګُناه ګار دے.“

٢٥ هغهٔ جواب ورکړو چه”په دے نهٔ يم خبر چه دا سړے ګُناه ګار دے اَؤ که نه،خو زَهٔ صرف دَ دے نه
خبر يم چه زَهٔ ړُوند وم اَؤ اوس بينا شوے يم.“

٢٦ هغوئ تپوس وکړو چه”هغهٔ تا سره څهٔ وکړل اَؤ ستا سترګے ئے څنګه بينا کړے؟“

٢٧ هغهٔ جواب ورکړو چه"ما خو درته يو ځل وړاندے وئيلی دی خو تاسو آؤريدل نۀ غوښتل،نو تاسو دا بيا
ولے آؤريدل غواړئ؟ آيا تاسو هم دَ هغهٔ مُريدان جوړيږئ؟"

٢٨ نو بيا هغوئ په کنځلو شول اَؤ ورته ئے ووئيل،"تهٔ دَ هغه سړی مُريد يئے خو مُونږ دَ مُوسیٰ مُريدان يُو.
٢٩ مُونږ ته دا معلُومه ده چه خُدائے دَ مُوسیٰ سره خبرے کړے وے خو خبر نۀ يُو چه دَئے دَ کُومه راغلے
دے."

٣٠ سړی جواب ورکړو چه"څومره نا آشنا خبره ده! دا هغه سړے دے چه زما سترګے ئے بينا کړے اَؤ
تاسو لا اوس هم نۀ يئ خبر چه دَئے دَ کُومے راغلے دے. ٣١ دا خو يوه ښکاره خبره ده چه خُدائے پاک
دَ ګُناه ګارو نۀ آؤری،هغه تش دَ هغه چا آؤری چه دَ هغهٔ نه ويريږی اَؤ دَ هغهٔ په رضا ځی. ٣٢ دَ ازل نه تر
دے دمه لا چا دا نۀ دی آؤريدلی چه چا دَ پيدائشی ړُوند سترګے بينا کړے دی. ٣٣ که دا سړے دَ
خُدائے دَ طرفه نۀ وئے نو هغهٔ هيڅ نۀ شُو کولے."

٣٤ هغوئ ورته ووئيل چه"دا تهٔ څوک يئے چه مُونږ ته سبقُونه ښائے؟ تهٔ خو په ګُناه کښے پيدا اَؤ په ګُناه
کښے لوئے شوے يئے." بيا هغوئ هغه دَ عبادت خانے نه وشړلو.

## رُوحانی ړُوندوالے

٣٥ عيسیٰ واؤريدل چه هغه ئے دَ عبادت خانے نه شړلے دے. کله چه عيسیٰ هغه وليدو نو تپوس ئے
ترے وکړو،"آيا ستا په اِبن آدم ايمان شته؟"

٣٦ سړی جواب ورکړو،"مالِکه! ما ته دا ووايه چه هغه څوک دے چه زهٔ په هغهٔ ايمان راؤړم."

٣٧ عيسیٰ ووئيل چه"تا هغه ليدلے دے، رښتيا دا هغه دے چه درسره خبرے کوی."

٣٨ هغهٔ ووئيل،"مالِکه زما پرے ايمان دے."اَؤ هغهٔ ته په سجده پريوتو.

٣٩ عيسیٰ ووئيل چه"زهٔ دے دُنيا ته دَ عدالت دَ پاره راغلے يم چه ړاندهٔ بينا کړم اَؤ بينا ړاندهٔ کړم."

٤٠ دَ عيسیٰ سره موجُودو فريسيانو ترے تپوس وکړو،"ستا دا مطلب دے چه ګنی مُونږ راندهٔ يُو؟"

٤١ عيسیٰ ووئيل،"که چرے تاسو ړاندهٔ وئے نو ستاسو ګُناه به نۀ وه خو کله چه تاسو وايئ چه مُونږ وينُو
،نو ستاسو ګُناه پاتے کيږی.

## يوحنا باب ١٠

## دَ ګډو دَ شپول مِثال

١ زهٔ تاسو ته رښتيا رښتيا وايم چه کُوم سړے چه دَ ګډو شپول ته په دروازے نۀ ورننوزی بلکه په بله لار

ور آوړی هغه بغیر دَ غل یا ډاکو نه بل څۀ نۀ شی کیدے. ۲ کُوم سړے چه په دروازه ورننوزی هغه دَ
ګډو شپُونکے دے. ۳ څوکیدار هغۀ ته اِجازت ورکوی اَؤ ګډے دَ هغۀ آواز آؤری اَؤ هغه خپلے ګډے په
نُوم بولی اَؤ بهر ئے راوباسی. ٤ کله چه هغه هغه ټولے رابهر کړی نو هغه وړاندے ځی اَؤ ګډے ورپسے
،ځکه چه هغوئ دَ هغۀ آواز پیژنی. ٥ هغوئ په نا آشنا سړی پسے هیچرے نۀ ځی. هغوئ به دَ هغۀ نه
وتښتی ځکه چه هغوئ دَ پردی سړی آواز نۀ پیژنی.“

٦ عیسیٰ هغوئ ته دا مِثال ووے خو هغوئ په دے ونۀ رسیدل چه دَ هغۀ دَ دے نه مطلب څۀ وُو.

## عیسیٰ اصلی شپُونکے

٧ نو عیسیٰ هغوئ ته بیا ووئیل چه”زَۀ تاسو ته رښتیا رښتیا وایم چه زَۀ دَ ګډو دَ شپول دروازه یم. ٨ څوک
چه زما نه مخکښے راغلی وُو،ګډو هغوئ ته غوږ نۀ دے ایښے ځکه چه هغوئ ټول غلۀ ډاکوان وُو. ٩
زَۀ دروازه یم اَؤ څوک چه په دے دروازه شپول ته ننوزی هغه به په امان وی. هغه به دَ ننه بهر تلے راتلے
شی اَؤ ګیاه به هم مُومی. ١٠ غل دَ غلا بلکه دَ قتلُونو اَؤ تباهئ دَ پاره راځی اَؤ زَۀ دے له راغلے یم چه
خلق ژوندُون ومُومی اَؤ ډیر ئے ومُومی.

١١ زَۀ ښۀ شپُونکے یم اَؤ ښۀ شپُونکے دَ ګډو دَ پاره خپل سر ورکوی. ١٢ خو مزدُور چه کله شرمخ په
راتلو ووینی نو ګډے په ځائے پریږدی اَؤ تښتی ځکه چه هغه شپُونکے نۀ دے اَؤ ګډے دَ هغۀ نۀ دی.
شرمخ رمه راګیره کړی اَؤ ګډے خورے ورے کړی. ١٣ هغه ځکه تښتی چه مزدُور دے اَؤ دَ ګډو هیڅ
پرواه نۀ لری. ١٤ ښۀ شپُون زَۀ یم. زَۀ خپلے ګډے پیژنم اَؤ ګډے ما پیژنی، ١٥ لکه چې ما پلار پیژنی اؤ
زۀ پلار پیژنم اؤ زَۀ خپل ځان دَ ګډو دَ پاره قُربانوم. ١٦ اَؤ زما نورے ګډے هم شته چه هغه دَ دے شپول
نۀ دی،خو دَ هغوئ راوستل ضروری دی اَؤ هغوئ به هم زما آواز آؤری،نو بیا به رمه یوه شی اَؤ شپُونکے
به ئے هم یو وی.

١٧ پلار ما سره مینه کوی ځکه چه زَۀ خپل ځان قربانوم دَ دے دَ پاره چه بیا ئے ومُوم. ١٨ دا زما نه
څوک په زور نۀ آخلی،زَۀ دا په خپله مرضئ قُربانوم. دا زما اِختیار دے چه ځان قُربان کړم اَؤ دا مے هم
اِختیار دے چه بیا ئے هم ومُوم. دا اِختیار ما ته خپل پلار راکړے دے.“

١٩ دَ عیسیٰ دَ دے خبرو په وجه یو ځلے بیا په یهودیانو کښے بے اِتفاقی راغله. ٢٠ په هغوئ کښے ډیرو
وئیل چه”دَئے پیریانو نیولے دے اَؤ دا لیونے دے،دَۀ ته څۀ له غوږ ږدئ؟“

٢١ نورو به وئیل چه”یو پیریانو نیولے سړے هم داسے خبرے کولے شی څۀ؟ آیا یو پیرے هم دَ ړُوند
سترګے روغولے شی څۀ؟“

## دَ یهودیانو دَ مسیح نه اِنکار

٢٢ دا دَ ژمی ورځے وے اَؤ په بیتُ المُقدس کښے دَ خُدائے دَ کور دَ تجدید اختر وُو. ٢٣ اَؤ عیسیٰ دَ
خُدائے په کور کښے دَ سلیمان په برانډه کښے ګرزیدو. ٢٤ یهودیان دَ هغۀ نه راچاپیر شول اَؤ ورته ئے

ووئیل،”مُونږ به تر څو پورے شکمن پرېږدے؟ که چرے تهٔ مسیح یئے نو په ډاګه ووایه؟“ ۲۵ عیسیٰ ووئیل
چه”ما تاسو ته وئیلی دی خو ستاسو پرے یقین نهٔ راځی. زهٔ چه کُوم کارُونه دَ خپل پلار په نُوم کوم،
هغه زما ګواه دی. ۲۶ خو تاسو پرے ځکه یقین نهٔ کوئ چه تاسو زما دَ رمے ګډے نهٔ یئ. ۲۷ زما خپلے
ګډے زما آواز آؤری،زهٔ هغوئ پیژنم اَؤ هغوئ ما پسے راځی. ۲۸ زهٔ هغوئ له دَ تل ژوند ور کوم اَؤ هغوئ
به هیڅ کله هم هلاک نهٔ شی اَؤ هیڅوک به ئے هم زما نه ونهٔ شُو کوی. ۲۹ زما پلار چه دوئ ئے ما له
راکړی دی دَ ټولو نه لوئے دے اَؤ هیڅ څوک دوئ زما دَ پلار نه نهٔ شی شُوکولے. ۳۰ زهٔ اَؤ زما پلار یو
یُو.“

۳۱ یهودیانو یو ځل بیا په عیسیٰ پسے کانړی راوخستل چه پرے وئے ولی. ۳۲ په دے هغهٔ هغوئ ته ووئیل
چه”ما ستاسو په وړاندے ډیر ښهٔ کارُونه دَ خپل پلار له طرف نه وکړل. تاسو به په دے کښے ما دَ کُوم
کار له کبله سنګساروئ؟“

۳۳ یهودیانو ورته جواب ورکړو چه”مُونږ تا دَ څهٔ ښهٔ کار په وجه نهٔ سنګسار وُو خو دَ کُفر په سبب،ځکه
چه تهٔ خو تش اِنسان ئے اَؤ دَ خُدائی دعویٰ کوے.“

۳۴ عیسیٰ جواب ورکړو چه”آیا ستاسو په کتابِ مُقدس کښے ئے دا نهٔ دی لیکلی چه

«ما ووئیل چه تاسو خُدایان یئ؟» ۳۵ هغه څوک خُدایان بللی شوی دی چه چا ته چه دَ خُدائے کلام
ورکړے شوے وی اَؤ کتابِ مُقدس منسُوخ کیدے نهٔ شی. ۳۶ نو بیا تاسو په ما دَ کُفر وئیلو اِلزام ولے
لګوئ؟ تش په دے وجه چه زهٔ خُدائے مُقدس کړے یم اَؤ دُنیا ته ئے رالیږلے یم اَؤ دا مے ووئیل چه زهٔ دَ
خُدائے زوئے یم؟ ۳۷ که چرے زهٔ دَ خپل پلار کارُونه نهٔ کوم نو په ما ایمان مه راوړئ. ۳۸ خو که ئے
کوم،نو که چرے په ما ایمان نهٔ راوړئ نو بیا به زما په کارُونو ایمان راوړئ دَ دے دَ پاره چه تاسو دَ ومنئ
اَؤ په دے پوهه شئ چه پلار په ما کښے دے اَؤ زهٔ په پلار کښے یم.“

۳۹ هغوئ یو ځلے بیا دَ هغهٔ په نیولو پسے شول خو هغه دَ هغوئ دَ لاس نه ووتو.

۴۰ عیسیٰ یو ځل بیا دَ اُردن سیند دَ بلے غاړے هغه ځائے ته ستُون شو چرته چه به وړُومبےٰ یحییٰ بپتسمه
ورکوله. هلته هغه پاتے شو. ۴۱ ګڼ خلق به ورته راتلل اَؤ هغوئ وئیل چه”یحییٰ مُونږ ته یوه مُعجزه هم نهٔ
وه ښکاره کړے خو هغهٔ چه څهٔ دَ دے سړی په حقله وئیلی وُو هغه رښتیا وُو.“ ۴۲ اَؤ هلته ډیرو خلقو
پرے ایمان راوړلو.

## یوحنا باب ۱۱

## دَ لعزر مرګ

۱ لعزر نُومے یو سړے ناجوړه وُو. دَ هغهٔ کور په بیت عیناه کښے وُو کُوم چه دَ مریمے اَؤ دَ هغے دَ خور
مرتا کلے وُو. ۲ دا هغه مریم وه چه په مالِک ئے عطر اچولی وُو اَؤ دَ هغهٔ پښے ئے په خپلو ویښتو وُچے

کړے وے اَوُ ورور ئے لعزر ناجوړه وُو. ٣ نو خویندو ئے عیسیٰ ته خبر ورواستولو چه مالِکه! تهٔ په دے
خبر یئے چه ستا خوږ آشنا بیمار پروت دے؟

٤ کله چه عیسیٰ دا واؤریدل نو وئیے وئیل،"دا ناروغتیا دَ مرګ نهٔ ده،دا خو دَ خُدائے دَ جلال ځر ګندولو
دَ پاره ده چه دَ خُدائے دَ زوی لوئی پرے ښکاره شی." ٥ عیسیٰ دَ مرتا،دَ هغے دَ خور اَوُ لعزر سره مینه
لرله، ٦ خو چه دَ هغهٔ دَ بیمارئ ئے واؤریدل نو عیسیٰ دوه ورځے نور هم په هغه ځائے کښے ایسار شو
چرته چه هغه وُو. ٧ دَ دے نه پس عیسیٰ خپلو مُریدانو ته ووئیل،"ځئ چه یهودیه ته بیرته لاړ شُو."

٨ مُریدانو ورته ووئیل چه"اُستاذه! څهٔ زیات وخت نهٔ دے شوے چه یهودیانو ستا سنګسار کول غوښتل
،نو تهٔ بیا هلته ځے څهٔ؟"

٩ عیسیٰ جواب ورکړو،"ولے دَ ورځے دولس ګینټے نهٔ دی څهٔ؟ هر څوک چه دَ ورځے ګرزی تیندک نهٔ
خوری ځکه چه هغه دَ دے دُنیا رڼا وینی. ١٠ خو که هغه دَ شپے ګرزی نو ټکرے خوری ځکه چه رڼا په
کښے نِشته." ١١ دَ دے وئیلو نه پس عیسیٰ ووئیل چه"زمُونږ آشنا لعزر اُودهٔ پروت دے خو زهٔ ورځم چه
راویښ ئے کړم."

١٢ مُریدانو ووئیل،"مالِکه! که چرے هغه اُودهٔ وی نو هغه به روغ شی."

١٣ عیسیٰ دَ هغهٔ دَ مرګ خبره کوله خو دَ هغوئ دا خیال وُو چه ګنی دا دَ اُودهٔ کیدو خبره کوی. ١٤ بیا
عیسیٰ صفا ورته ووئیل،"لعزر مړ دے. ١٥ دا ښه ده چه زهٔ هلته نهٔ وم په دے چه تاسو ایمان راوړئ. خو
راځئ چه هغهٔ ته ورشُو."

١٦ بیا توما چه برغونے ورته وائی، هغهٔ نورو مُریدانو ته ووئیل،"راځئ چه مُونږ هم دَ هغهٔ سره مړهٔ شُو."

## عیسیٰ قیامت اَوُ ژوندُون دے

١٧ هلته په رسیدو عیسیٰ خبر شو چه دَ لعزر دَ مرګ اَوُ په قبر کښے دَ کیښودو بیا څلور ورځے کیږی. ١٨
بیت عنیاه دَ بیتُ المُقدس نه بس دوه میله لرے وُو. ١٩ اَوُ ډیر یهودیان دَ مرتا اَوُ مریمے څخه دَ هغوئ دَ
ورور غم رازئ ته راغلی وُو.

٢٠ کله چه مرتا دَ عیسیٰ دَ راتلو نه خبره شوه نو هغه سمدستی دَ هغهٔ مخے له ورغله اَوُ مریمه په کور
کښے پاتے شوه. ٢١ مرتا عیسیٰ ته ووئیل،"مالِکه! که تهٔ دلته وَئے نو زما ورور به  مړ شوے نهٔ وُو. ٢٢ اَوُ
زهٔ اوس هم په دے پوهیږم چه که تهٔ دَ خُدائے نه هر څهٔ وغواړے نو خُدائے به ئے درکړی."

٢٣ عیسیٰ ورته ووئیل چه"ستا ورور به بیا ژوندے شی."

٢٤ مرتا هغهٔ ته ووئیل،"ما ته پته ده چه هغه به ژوندے شی خو دَ قیامت په ورځ."

٢٥ عیسیٰ ووئیل،"زهٔ قیامت یم اَوُ زهٔ ژوندُون یم. که څوک په ما ایمان لری که هغه مړ هم شی نو هغه

به بیا ژوندے وی ۲۶ اَؤ که څوک چه ژوندے دے اَؤ په ما ایمان لری هغه به هیڅ کله هم مړ نهٔ شی.
آیا ستاسو په دے ایمان دے څهٔ؟“

۲۷ هغے ووئیل،”مالِکه! زما ایمان دے،هم تهٔ مسیح یئے، دَ خُدائے زوئے څوک چه دُنیا ته راتلُونکے
وُو.“

## دَ عیسیٰ ژړل

۲۸ دے وئیلو سره مرتا لاړه چه خپله خور مریم راوبولی اَؤ دَ هغے په ښنګ کښے ودریده اَؤ په پټه ئے
ورته ووئیل”مالِک دلته دے اَؤ هغه تا غواړی.“ ۲۹ کله چه مریم دا واؤریدل نو سمدستی پاڅیده اَؤ عیسیٰ
له ورغله. ۳۰ خو عیسیٰ لا کلی ته نهٔ وُو رسیدلے اَؤ لا په هغه ځائے وُو په کُوم ځائے کښے چه مرتا هغه
لیدلے وُو. ۳۱ کُوم یهودیان چه دَ مریم سره غم رازئ له راغلی وُو کله چه هغوئ هغه له کوره په روانیدو
ولیده نو په هغے پسے روان شول ځکه چه هغوئ دا ګڼل چه هغه قبر له روانه ده چه پرے وژاړی.

۳۲ نو مریم هغه ځائے له لاړه چرته چه عیسیٰ وُو اَؤ کله چه ئے هغه ولیدلو نو دَ هغهٔ په پښو پریوته اَؤ وئے
وئیل،”اَئے مالِکه! که چرے تهٔ دلته وَئے نو زما ورور به نهٔ وو مړ شوے.“

۳۳ کله چه عیسیٰ هغه په ژړا ولیده اَؤ ورسره ئے هغه یهودیان ملګری هم ولیدل چه ژاړی نو هغهٔ یو سوړ
اسویلے وکړو اَؤ ډیر زهیرشو. ۳٤ هغهٔ تپوس وکړو چه”هغه تاسو کُوم ځائے ښخ کړے دے؟“

هغوئ جواب ورکړو،”مالِکه! راشه وئے ګوره.“

۳۵ عیسیٰ په ژړا شو. ۳٦ یهودیانو ووئیل چه”دَ هغهٔ به دَ دهٔ سره څومره مینه وه.“ ۳۷ خو په هغوئ کښے
ځنو ووئیل چه”آیا دے سړی چا چه دَ هغه ړُوند سړی سترګے بینا کړے وے دا نهٔ شُو کولے چه لعزر ئے
دَ مرګ نه بچ کړے وے؟“

## دَ لعزر بیا ژوندے کیدل

۳۸ عیسیٰ بیا سوړ اسویلے وکړو،بیا هغه قبر له راغے. دا یو غار وُو چه ګټه ورته اړمه کړے شوے وه. ۳۹
عیسیٰ ووئیل،”دا ګټه لرے کړئ.“

مرتا،دَ مړ سړی خور،هغهٔ ته ووئیل،”مالِکه! اوس خو به دَ هغهٔ نه بوئی روان وی. دَ هغهٔ خو دلته څلور
ورځے شوے دی.“

٤٠ عیسیٰ ووئیل،”آیا ما تاسو ته دا نهٔ وُو وئیلی څهٔ،چه که چرے تاسو ایمان لرئ نو تاسو به دَ خُدائے
جلال ووینئ؟“ ٤١ نو هغوئ ګټه لرے کړه. بیا عیسیٰ پورته وکتل اَؤ وئے وئیل،”پلاره! زهٔ ستا شُکر کوم
چه تا زما واؤریدل. ٤٢ ما ته دا دَ آګاهو نه معلُومه وه چه تهٔ تل زما آؤرے خو ما دَ دے حاضرو خلقو دَ
پاره سوال وکړو چه دَ دوئ دا باور وشی چه زهٔ تا را استولے یم.“ ٤٣ بیا هغهٔ په اُوچت آواز ووئیل،”لعزر!
راوزه!“ ٤٤ نو مړ سړے بهر راووتو، دَ هغهٔ لاس اَؤ پښے په کفن کښے تړلی شوی وُو اَؤ مخ ئے په ټُوکی

کښې نغښتې وُو. عيسىٰ ووئيل،"دا راخلاص کړئ اَؤ پرې ږدئ چه ځى."

## دَ عيسىٰ دَ مرګ سازش

**(ىتم٦٢: ١ - ٥،مرقوس ٤١: ١ - ٢،لُوقا ٢٢: ١ - ٢ )**

٤٥ بيا ډير يهُوديان چه دَ مريمې ليدلو له راغلى وُو اَؤ هغه څۀ ئې وليدل چه عيسىٰ وکړل نو په هغۀ ئې
ايمان راؤړو. ٤٦ خو په هغوئ کښې څنې فريسيانو له راغلل اَؤ هغه څۀ ئې ورته ووئيل چه هغۀ کړى وُو.
٤٧ دَ دې نه پس مشرانو کاهنانو اَؤ فريسيانو يوه جرګه راوبلله اَؤ وئې وئيل چه"مُونږ ته څۀ کول په کار
دى؟ ځکه چه دا سړے خو ډيرے مُعجزے ښکاره کوى. ٤٨ که مُونږ چرے دغه شان دَئې آزاد پريږدُو نو
ټول خلق به په دَۀ ايمان راؤړى،بيا به رُوميان راشى اَؤ زمُونږ دَ خُدائې کور اَؤ زمُونږ ټول قوم به ختم
کړى."

٤٩ خو په دوئ کښې يو تن چه کيفا ئې نُوم وُو اَؤ په دغه کال دَ ټولو نه مشر کاهن وُو،هغۀ ووئيل،"تاسو
په هيڅ نۀ پوهيږئ، ٥٠ اَؤ نه خيال کوئ چه دا ستاسو دَ پاره ډيره غوره ده چه دَ اُمت دَ پاره دِ يو سړے
مړ کړے شى،نه چه ټول قام تباه اَؤ برباد شى." ٥١ دا هغۀ دَ خپله ځانه ونۀ وئيل،بلکه دَ ټولو نه دَ مشر
کاهن په حيثيت چه هغه دَ هغه کال دَ پاره مُقرر وُو. هغۀ دا پيشن ګوئى وکړه چه عيسىٰ به دَ قام دَ پاره
مړ شى، ٥٢ يواځې دَ قام دَ پاره نه،بلکه دَ دے دَ پاره چه دَ خُدائې خوارۀ وارۀ بچى يو ځائې ته راغونډ
کړى.

٥٣ دغه شان دَ هغه ورځې نه پس هغوئ دَ هغۀ دَ مرګ صلاح وکړه. ٥٤ پس له دے عيسىٰ په يهوديه
کښې په عامه ګڼه کښې نۀ راوتو اَؤ هغه علاقه ئې پريښوده اَؤ دَ صحرا دَ خوا اِفرايم نومې کلى ته لاړو اَؤ
دَ خپلو مُريدانو سره ديره شو.

٥٥ دَ يهوديانو دَ فسح اختر رانزدے وُو اَؤ دَ کلو ډير خلق بيتُ المُقدس ته دَ خپل ځان پاکولو دَ پاره دَ
اختر دَ شروع کيدو نه وړاندے لاړل. ٥٦ هغوئ عيسىٰ ولټولو اَؤ کله چه هغوئ دَ خُدائې په کور کښې
ودريدل نو دَ يو بل نه ئې تپوس وکړو،"څۀ مو خيال دے؟ شاهد چه هغه په اختر کښې شاميليدو له نۀ
راځى څۀ؟" ٥٧ ځکه چه مشرانو کاهنانو اَؤ فريسيانو دا حُکم ورکړے وُو چه کُوم سړى ته چه دا پته
ولګى چه هغه کُوم ځائې دے، هغه دِ دوئ خبر کړى، دَ دے دَ پاره چه هغه ونيسى.

# يوحنا باب ١٢

## په بيت عنياه کښې دَ عطرو اچول

**(ىتم٦٢: ٦ - ٣١،مرقوس ٤١: ٣ - ٩ )**

١ دَ فسح دَ اختر نه شپږ ورځې مخکښې عيسىٰ بيت عنياه ته راغې چرته چه لعزر نومې سړے اوسيدو
،څوک چه هغۀ دَ مړو نه بيا ژوندے کړے وُو. ٢ هلته ئې دَ هغۀ ميلمستيا کړے وه چه مرتا په کښې
خدمت کاوو اَؤ لعزر دَ عيسىٰ سره په نورو ميلمنو کښې کښيناستو. ٣ بيا مريم ښۀ قيمتى عطر چه نيم سير

قدرے وُو راؤړل،اَؤ دَ عیسیٰ په پښو ئے توئے کړل اَؤ هغه ئے بیا په خپلو ویښتو وُچ کړل تر دے چه ټول
کور دَ خوشبوئ نه ډک شو. ٤ خو په دے یهوداه اِسکریوتی چه دَ عیسیٰ یو مُرید وُو اَؤ په دَهٔ به ئے
مُخبری کوله،ووئیل چه ٥ "دا عطر په دریو سوو دینارو خرڅ ولے نهٔ کړے شول چه خوارانو غریبانو ته
ورکړے شوے وے؟" ٦ هغهٔ دا خبره په دے ونهٔ کړه چه ګنی هغه دَ خوارانو غم خور وُو خو ځکه چه
هغه په خپله غل وُو. هغهٔ به هغه پیسے پټولے کُومے چه په کڅوړه کښے جمع کیدے اَؤ دَ هغهٔ په
حوالے وے.

٧ عیسیٰ ووئیل چه"هغه خپلے خوښے ته پریږدئ اَؤ پریږدئ چه دا زما دَ ښخولو دَ ورځے پورے وساتی. ٨
ځکه چه خواران خو په مُدام تاسو سره وی خو زَهٔ به مُدام تاسو سره نهٔ یم."

دَ لعزر خلاف سازش

٩ ډیر یهودیان په دے خبر شُو چه هغه راغلے دے، اَؤ یواځے دے ته نهٔ راتلل چه عیسیٰ ووینی بلکه دَ
لعزر دَ کتو تلوسه ئے هم وه چه دَ مړو نه ئے بیا ژوندے کړے وُو. ١٠ مشرانو کاهنانو بیا دا فیصله وکړله
چه لعزر هم مړ کړئ، ١١ ځکه چه دَ هغهٔ په وجه ډیر یهودیان عیسیٰ له ورځی اَؤ په هغهٔ ایمان راؤړی.

## په بیتُ المُقدس کښے اِستقبال

**(متی١٢: ١ - ١١،مرقوس ١١: ١ - ١١،لُوقا ١٩: ٢٨ - ٤٠ )**

١٢ په بله ورځ ګڼ خلق چه اختر له راغلی وُو چه هغوئ دَ دے نه خبر شول چه عیسیٰ هم بیتُ المُقدس
ته راروان دے، ١٣ نو هغوئ دَ کجورے ښانګے واخستے اَؤ دَ هغهٔ مخے ته ورووتل اَؤ دا نعرے ئے وهل
،ے«دَ خُدائے ثنا دِ وی! مُبارک دے هغه څوک چه دَ رب په نُوم راځی،دَ اِسرائیلو بادشاه دِ مُبارک
وی.»

١٤ اَؤ عیسیٰ یو خر ومُوندلو اَؤ په هغهٔ سور شو،لکه چه په صحیفو کښے لیکلی دی:

١٥ «ئَاے دَ صیون لُورے! نوره ویره مه کوه! وګوره،ستا بادشاه په یو کُوچی سور روان دے.»

١٦ هغه وخت خو دَ عیسیٰ مُریدان په دے پوهه نهٔ شول،خو کله چه عیسیٰ خپل جلال ته ورسیدلو نو
دوئ ته بیا یاد شول چه دا خو دَ هغهٔ په حقله لیکلی شوی وُو اَؤ هم دغه دهغهٔ سره شوی وُو.

١٧ نو کُوم خلق چه په هغه ځائے کښے موجُود وُو کله چه عیسیٰ لعزر له قبر نه راوبللو اَؤ له مړو نه ئے بیا
ژوندے کړو،نو هغوئ چه څهٔ لیدلی اَؤ آؤریدلی وُو په هغے ئے ګواهی وکړله. ١٨ هم دغه وجه وه چه ډیر
مخلُوق دَ هغهٔ اِستقبال دَ پاره ورووتل،هغوئ دَ عیسیٰ دَ ښودلے شوے مُعجزے په حقله آؤریدلی وُو. ١٩
فریسیانو یو بل ته ووئیل،"تاسو ګورئ چه ستاسو نه هیڅ نهٔ کیږی،ټوله دُنیا په هغهٔ پسے تلے ده."

## دَ ځنے یُونانیانو دَ عیسیٰ لټُون کول

٢٠ دَ اختر په موقع چه څوک عبادت ته راتلل په هغوئ کښے څهٔ یُونانیان هم وُو. ٢١ هغوئ فیلیپوس ته

راغلل څوک چه دَ بيتِ صيدا دَ ګليل اوسيدُونکے وُو اَؤ هغۀ ته ئے ووئيل،"صاحبه! مُونږ عيسیٰ ليدل
غواړُو." ٢٢ فيليپوس لاړو اَؤ اندرياس ته ئے ووئيل اَؤ دا دواړه لاړل چه عيسیٰ خبر کړی. ٢٣ بيا عيسیٰ
جواب ورکړو،"هغه وخت راغلے دے چه اِبن آدم به لوئی مُومی. ٢٤ رښتيا رښتيا زَۀ تاسو ته وايم چه دَ
غنمو يوه دانه تر هغے يوه دانه وی تر څو چه هغه په خاؤرو کښے پرے نۀ وزی اَؤ خاؤرے نۀ شی،خو که
هغه خاورے شی نو دَ هغے نه ډيرے دانے راوټوکيږی. ٢٥ هغه سړے چه دَ ځان سره مينه لری ورک
دے،خو هغه څوک چه په دے دُنيا کښے دَ ځان نه نفرت کوی،هغه به تل ژوندُون دَ پاره امانت
وساتی. ٢٦ که څوک زما خدمت کوی هغه دِ ماپسے راځی اَؤ چرته چه زَۀ يم هلته به زما خادم هم وی.
هر څوک چه زما خدمت کوی هغۀ ته به زما پلار عزت ورکړی.

## اِبن آدم به پورته وخيژولے شی

٢٧ اوس مے زړۀ پريشان دے اَؤ زَۀ څۀ ووايم؟ چه اَئے پلاره! ما له دے ساعت نه بچ کړه؟ بلکه زَۀ په
دے وجه دے ساعت ته رارسيدلے يم. ٢٨ اَئے پلاره! خپل نُوم ته جلال ورکړه."

دَ آسمان نه يو آواز راغے،"ما جلال ورکړے دے اَؤ زَۀ به بيا هم جلال ورکړم."

٢٩ هغه موجُودو خلقو دا خيال وکړو چه ګنی آسمان وګړزيدو خو نورو ووئيل چه"فرښتے ورسره خبرے
کړے دی!" ٣٠ عيسیٰ ووئيل چه"دا آواز زما دَ پاره نه بلکه ستاسو دَ پاره وُو. ٣١ اوس دَ دے دُنيا دَ پاره
دَ عدالت وخت دے اَؤ دَ دے دُنيا سردار به بهر وويستلے شی. ٣٢ اَؤ کله چه زَۀ دَ مزکے نه وخيژولے
شم نو زَۀ به ټول ځان ته راکاږم." ٣٣ دا هغۀ هغه خبرے ته اِشاره وکړه چه هغه به په کُوم قِسم مرګ مړ
شی.

٣٤ خلقو جواب ورکړو چه"زمُونږ شريعت دا وائی چه مسيح به تل تر تله وی،نو بيا ستا دَ دے وئيلو نه
څۀ مطلب دے چه اِبن آدم به پورته وخيژولے شی؟ دا اِبن آدم څوک دے؟"

٣٥ عيسیٰ هغوئ له جواب ورکړو،"رڼا لا تاسو سره شته خو دَ ډيرے مُودے دَ پاره نه. تر څو چه تاسو
سره رڼا ده،په رڼا کښے ځئ،هسے نۀ چه تيارۀ مو راګير کړی اَؤ څوک چه په تيارۀ کښے ځی،هغه به په
دے نۀ وی خبر چه کُوم پلَو روان دے. ٣٦ تر څو چه تاسو سره رڼا ده،په رڼا يقين لرئ دَ دے دَ پاره چه
تاسو په رڼا کښے اوسئ،"

## دَ يهوديانو بے اِعتقادی

دَ دے خبرو نه پس عيسیٰ دَ هغوئ نه لاړو اَؤ چرته پټ شو. ٣٧ سره دَ ډيرو مُعجزو چه عيسیٰ دَ هغوئ"
دَ وړاندے ښکاره کړے وے هغوئ په هغۀ باندے ايمان رانۀ وړو.

٣٨ ځکه چه دَ يشعياه نبی دا خبره پُوره شی چه:

«اَئے ربه! زمُونږ په خبرو چا يقين کړيدے

اَوْ دَ رب لاس چا ته څرګند شوے دے؟»

۳۹ په دے وجه هغوئ ايمان راوړلے نۀ شو ولے چه دَ يشعياه نبی دا خبره هم پُوره شی.

۴۰ «هغۀ دَ هغوئ سترګےړندے کړی دی

اَوْ زړُونه ئے ورله سخت کړی دی،

هسے نه چه هغوئ په خپلو سترګو ووينی

اَوْ په خپلو زړونو کښے پرے پوهه شی

اَوْ دَ رغيدو دَ پاره ما ته راوګرزی

اَوْ زَۀ ئے روغ کړم.»

۴۱ يشعياه دا خبرے ځکه کړے وے چه دَ عيسىٰ لوئی هغۀ وليدله اَوْ دَ هغۀ په حق کښے ئے خبرے
کولے.

۴۲ خو سره دَ دے په هغوئ کښے ډيرو يهودی مشرانو هم په هغۀ ايمان راوړو خو بيا هم دَ فريسيانو دَ
ويرے نه ئے دَ دے اِقرار نۀ شو کولے،هسے نه چه دَ عبادت خانے نه ئے خارج کړی. ۴۳ ځکه چه
هغوئ دَ خُدائے دَ عزت په ځائے دَ خلقو عزت خوښولو.

## عدالت دَ عيسىٰ کلام

۴۴ نو عيسىٰ په چغو ووئيل،"کله چه يو سړے په ما ايمان راوړی نو هغه نۀ يواځے دا چه په ما ايمان
راوړی بلکه په هغه چا هم چه زَۀ ئے را استولے يم. ۴۵ اَوْ څوک چه ما وينی هغه به هغه څوک ووينی
چه زَۀ ئے را استولے يم. ۴۶ زَۀ دُنيا ته لکه دَ رڼا راغلے يم دَ دے دَ پاره چه څوک په ما ايمان لری هغه
به په تيارۀ کښے پاتے نۀ شی. ۴۷ خو هر څوک چه زما کلام آوَری اَوْ اِطاعت کوی،زَۀ دَ هغۀ عدالت نۀ
کوم،زَۀ دَ دُنيا عدالت کولو دَ پاره نۀ يم راغلے بلکه دَ دُنيا دَ خلاصُون دَ پاره راغلے يم. ۴۸ څوک چه
زما نه اِنکار کوی اَوْ څوک چه زما خبرے نۀ قبلوی،دَ هغۀ دَ پاره مُنصف شته يعنے هغه کلام چه ما
کړے دے،هغه به په آخری ورځ دَ هغۀ عدالت کوی. ۴۹ زَۀ په خپل اِختيار خبرے نۀ کوم خو پلار چه
زَۀ را استولے يم هغۀ ما ته حُکم کړے دے چه څۀ ووايم اَوْ څنګه ئے ووايم. ۵۰ زَۀ خبر يم چه دَ هغۀ
حُکم دَ تل عُمری ژوندُون دے،نو ځکه څۀ چه پلار ما ته وئيلی دی،هم هغه څۀ زَۀ وايم."

# يوحنا باب ۱۳

## دَ مُريدانو پښے وينځل

١ دَ فسح دَ نه اختر وړُومبے عیسیٰ ته معلُومه شوه چه دَ هغۀ وخت راغلے چه دَ دُنیا نه دِ خپل پلار ته لاړ
شی. اَؤ هغۀ دَ خپلو سره چه په دے دُنیا کښے وُو، تر آخره پورے مینه وکړله.

٢ دَ ماښام دَ ډوډئ په وخت اِبلیس دَ اګاهو نه دَ شمعُون اسکریوتی دَ زوئے یهوداه په زړۀ کښے دا خیال
اچولے وُو چه هغه په عیسیٰ مُخبری وکړی. ٣ اَؤ عیسیٰ ته ښه معلُومه وه چه پلار هغۀ ته هر څۀ اِختیار
ورکړے دے اَؤ چه هغه دَ خُدائے نه راغلے دے اَؤ خُدائے له بیرته روان دے. ٤ نو هغه دَ ډوډئ نه
پاڅیدلو،خپلے جامے ئے یو طرف ته کیښودے،یوه تولیه ئے راواخسته اَؤ دَ ځان نه ئے تاؤ کړه. ٥ بیا هغۀ
په یو لوښی کښے اوبۀ واچولے اَؤ دَ خپلو مُریدانو دَ پښو په وینځلو آخته شو اَؤ په تولیه ئے وچولے چه دَ
ځان نه ئے تاؤ کړے وه. ٦ کله چه شمعُون پطروس وار راغلے نو پطروس هغۀ ته ووئیل چه"مالِکه! دا تۀ
زما پښے وینځے؟"

٧ عیسیٰ جواب ورکړو،"څۀ چه زَۀ کوم،تۀ اوس په دے نۀ پوهیږے خو وروستو به پوهه شے."

٨ پطروس ووئیل،"زَۀ به تاسو خپلو پښو وینځلو ته هیڅ کله پرے نۀ ږدم ."

عیسیٰ جواب ورکړو چه"که چرے زَۀ تا ونۀ وینځم نو تۀ به زما مُرید نۀ یئے."

٩ شمعُون پطروس ووئیل،"بیا نو مالِکه! یواځے زما پښے نه بلکه لاسُونه اَؤ سر هم ووینځه."

١٠ عیسیٰ ووئیل،"چا چه لامبلی وی هغۀ ته به دَ پښو وینځلو نه حاجت نِشته هغه بیخی پاک دے، اَؤ
تاسو پاک یئ اګر چه تاسو ټول نه." ١١ ولے چه هغۀ ته معلُومه وه چه څوک به په هغۀ مُخبری کوی نو
ځکه ئے ووئیل چه تاسو ټول پاک نۀ یئ.

١٢ دَ هغوئ دَ پښو وینځلو اَؤ دَ خپلو جامو آغوستلو نه وروستو هغه کښیناستو اَؤ تپوس ئے وکړو،"آیا تاسو
په دے پوهه شوئ چه ما تاسو سره څۀ وکړل؟ ١٣ تاسو ما ته اُستاذ اَؤ مالِک وایئ اَؤ دا ښۀ وایئ ځکه چه
زَۀ یم. ١٤ نو که ستاسو مالِک اَؤ اُستاذ ستاسو پښے ووینځلے نو په تاسو هم لازم دی چه دَ یو بل پښے
ووینځئ. ١٥ ما ستاسو دَ پاره یو مِثال قائم کړے دے،تاسو به هغه څۀ کوئ،څۀ چه تاسو دَ پاره کړی
دی. ١٦ زَۀ تاسو ته رښتیا رښتیا وایم چه یو غُلام دَ مالِک نه لوئے نۀ وی اَؤ نۀ اَستازے دَ را استوُونکی نه
لوئے وی. ١٧ که چرے تاسو په دے پوهیږئ نو تاسو بختور یئ که عمل پرے کوئ.

١٨ زَۀ دَ تاسو ټولو په حقله نۀ وایم،ما ته پته ده،څوک چه ما غوره کړی دی. خو چه دَ کِتاب مُقدس
هغه خبره پوره شی،«هغه څوک چه ماسره ډوډئ خوری هغه زما برخلاف شوے دے.» ١٩ زَۀ اوس تاسو
ته دَ هغه واقعے دَ پیښیدو نه مخکښے وایم دَ پاره دَ دے کله چه هغه پیښه شی نو تاسو په دے ایمان
راؤړئ چه زَۀ څۀ یم هغه یم. ٢٠ زَۀ تاسو ته رښتیا رښتیا وایم څوک چه زما یو اَستازے قبُول کړی هغۀ زَۀ
قبُول کړم اَؤ چه زَۀ ئے قبُول کړم نو هغه یو ئے قبُول کړو چا چه زَۀ را استولے یم.

دَ عیسیٰ دَ خپل مُخبر په حق کښے پیشن ګوئی

**(بتم۲۶: ۲۰ - ۲۵،مرقوس ۱٤: ۱۷ - ۲۱،لُوقا ۲۲: ۲۱ - ۲۳ )**

۲۱ دَ دے وئیلو نه پس عیسیٰ دَ خپل رُوح دَ پریشانئ نه ووئیل،”رښتیا رښتیا زَۀ تاسو ته وایم،په تاسو
کښے یو زما مُخبری کُوونکے دے.“

۲۲ مُریدانو یو بل ته وکتل اَؤ شکمن شول چه دَئے دا دَ چا په حقله وائی. ۲۳ په هغوئ کښے یو مُرید چه
هغۀ ورسره مینه کوله اَؤ دَ عیسیٰ سره جُخت ناست وُو. ۲٤ نو شمعُون پطروس هغۀ ته اِشاره وکړه اَؤ ورته
ئے ووئیل چه تپوس ترے وکړه چه”دا څوک یادوی؟“

۲۵ اَؤ هغه مُرید عیسیٰ ته سر ورنزدے کړو اَؤ تپوس ئے ترے وکړو،”مالِکه! دا څوک دے؟“

۲٦ عیسیٰ جواب ورکړو،”دا هغه سړے دے چه زَۀ ورته دَ ډوډئ دا ټکړه لمده کړم اَؤ ورله ئے ورکړم.“
بیا هغۀ هغه لمده کړه اَؤ دَ شمعُون اسکریوتی زوئے یهوداه ته ئے ورکړه. ۲۷ سمدستی چه یهوداه دے ته
لاس کړو نو شیطان ورننوتو. عیسیٰ ورته ووئیل،”څۀ چه کوے،زر ئے وکړه.“ ۲۸ څوک چه ډوډئ ته
ناست وُو له هغوئ نه یو تن هم په دے پوهه نۀ شو چه دَ هغۀ دَ دے نه څۀ مطلب وُو. ۲۹ ځنو دا ګمان
وکړو چه یهوداه سره کڅوړه ده،نو عیسیٰ هغۀ ته دا ووئیل چه اختر ته چه څۀ په کار دیهغه واخله یا دا
چه غریبانو له څۀ خیرات ورکړه. ۳۰ دَ نوړئ آخستو نه سمدستی پس یهوداه بهر ووتو اَؤ شپه وه.

## نوے حُکم

۳۱ کله چه یهوداه اسکریوتی بهر لاړو نو عیسیٰ ووئیل،”اوس اِبن آدم خپل جلال ومُوندلو اَؤ په هغۀ کښے
دَ خُدائے جلال څرګند شو . ۳۲ خُدائے به په هغۀ کښے خپل جلال ښکاره کړی اَؤ زر به ئے ورکوی.
۳۳ زما بچو! زَۀ به دَ لږ وخت دَ پاره تاسو سره یم بیا به تاسو ما لټوئ،اَؤ لکه چه ما یهودیانو ته ووئیل
،دغسے تاسو ته اوس وایم،چرته چه زَۀ ځم هلته تاسو نۀ شئ راتلے. ۳٤ زَۀ تاسو ته نوے حُکم درکوم. دَ
یو بل سره مینه کوئ،لکه چه ما تاسو سره مینه کړے ده دغه شان تاسو هم دَ یو بل سره مینه کوئ. ۳۵
که تاسو دَ یو بل سره مینه کوئ نو بیا به ټول په دے پوهه شئ چه تاسو زما مُریدان یئ.“

## دَ شمعُون پطروس دَ اِنکار په حق کښے پیشن ګوئی

**(بتم۲۶: ۳۱ - ۳۵،مرقوس ۱٤: ۲۷ - ۳۱،لُوقا ۲۲: ۳۱ - ۳٤ )**

۳٦ شمعُون پطروس هغۀ ته ووئیل،”مالِکه! تۀ چرته ځے؟“

عیسیٰ جواب ورکړو.”چرته چه زَۀ ځم،تۀ اوس په ما پسے هلته نۀ شے راتلے خو وروستو به تۀ راشے.“

۳۷ پطروس ووئیل،”مالِکه! زَۀ اوس درپسے ولے نۀ شم تلے؟ زَۀ به خپل ځان په تا قُربان کړم.“

۳۸ عیسیٰ جواب ورکړو،”رښتیا به تۀ خپل ځان په ما قُربان کړے څۀ؟ زَۀ تا ته رښتیا رښتیا وایم چه دَ
چرګ دَ بانګ نه مخکښے به تۀ درے ځله وائے چه زَۀ تا نۀ پیژنم.

# یوحنا باب ۱۴

## عیسیٰ پلار ته دَ تلو لار ده

۱ ستاسو غمژن زړُونه دِ ګبراؤ نۀ شی،په خُدائے یقین لرئ،هم په ما یقین لرئ. ۲ زما دَ پلار په کور کښې
دَ اوسیدو ډیر ځایُونه دی. که چرے داسے نۀ وے نو بیا به ما تاسو ته وئیلی وُو. ځکه زَۀ ځم چه ستاسو
دَ پاره هلته ځائے تیار کړم. ۳ اَؤ که هلته زَۀ لاړ شم اَؤ تاسو ته ځائے تیار کړم نو په خپله به بیا راشم اَؤ
تاسو به دَ ځان سره بوزم،ځکه چه چرته چه زَۀ یم هلته به تاسو هم یئ. ٤ اَؤ زما هغه لار تاسو ته معلُومه
ده."

٥ توما ووئیل،"مالِکه! مُونږ ته دا نۀ ده معلُومه چه تۀ چرته روان یئے، نو مُونږ دَ دے لارے نه څۀ
خبریدے شُو؟"

٦ عیسیٰ جواب ورکړو،"زَۀ لار یم،زَۀ حق یم اَؤ زَۀ ژوندُون یم. هیڅوک هم زما دَ وسیلے نه بغیر پلار ته
نۀ شی راتلے. ۷ که چرے تاسو زَۀ پیژندلے نو تاسو به پلار هم پیژندلو. اوس تاسو هغه پیژنئ نو هغه تاسو
لیدلے دے."

۸ فیلیپوس هغۀ ته ووئیل،"مالِکه! تۀ مُونږ ته پلار وښیه نو مُونږ نورے پوښتنے نۀ کوو."

۹ عیسیٰ جواب ورکړو چه"فیلیپوسه! تاسو سره زَۀ دَ دومره مُودے نه یم اَؤ بیا مے هم نۀ پیژنے څۀ؟ هر
چا چه زَۀ لیدلے یم پلار ئے هم لیدلے دے،نو بیا تۀ څنګه وائے چه مُونږ ته پلار وښیه؟ ۱۰ آیا په دے
ستاسو باور نِشته چه زَۀ په پلار کښے یم اَؤ پلار په ما کښے دے؟ زَۀ چه څۀ خبرے تاسو ته کوم هغه دَ
ځان نه نۀ کوم،دا هغه دے چه په ما کښے اوسی اَؤ خپل کار کوی. ۱۱ چه زَۀ دا وایم چه پلار په ما
کښے دے اَؤ زَۀ په پلار کښے نو په دے باور وکړئ اَؤ یا دَ دے کارُونو په سبب باور وکړئ. ۱۲ رښتیا
رښتیا تاسو ته وایم،څوک چه په ما ایمان راوړی هغه به هم هغه څۀ کوی لکه چه ئے زَۀ کوم،اَؤ هغه به
لا دَ دے نه هم زیات کارُونه کوی ځکه چه زَۀ پلار له روان یم. ۱۳ رښتیا چه تاسو څۀ چه هم زما په نُوم
وغواړئ هغه به زَۀ کوم ځکه چه دَ پلار جلال په زوی کښے څرګند شی ۱٤ تاسو چه څۀ هم زما په نُوم
وغواړئ زَۀ به ئے کوم."

## دَ رُوحُ القُدس وعده

۱٥ که تاسو زما سره مینه کوئ نو زما په حُکمُونو عمل کوئ. ۱٦ اَؤ زَۀ به پلار ته خواست وکړم چه تاسو
ته بل مددګار درکړی څوک چه به تاسو سره مُدام وی، ۱۷ اَؤ هغه به دَ حق رُوح وی،دُنیا هغه نۀ شی
قبلولے ځکه چه دُنیا نۀ خو هغه وینی اَؤ نۀ ئے پیژنی خو تاسو ئے پیژنئ ځکه چه هغه تاسو سره اوسی اَؤ
په تاسو کښے وی.

۱۸ زَۀ به تاسو یتیمان نۀ پریږدم،زَۀ تاسو ته بیرته راځم. ۱۹ لږ ساعت پس به دُنیا بیا ما نۀ وینی خو تاسو به
مے وینئ. ځکه چه زَۀ ژوندے یم نو تاسو به هم ژوندی یئ. ۲۰ بیا به تاسو پوهه شئ چه زَۀ په خپل پلار
کښے یم اَؤ تاسو په ما کښے یئ اَؤ زَۀ په تاسو کښے یم.

۲۱ دَ هر چا سره چه زما حُکمُونه دی اَوُ په هغو عمل کوی نو دا هغه دی چه ما سره مینه کوی. هر
څوک چه ماسره مینه کوی زما پلار به ور سره مینه وکړی اَوُ زَهٔ به دَ هغهٔ سره مینه وکړم اَوُ خپل ځان به
ورته څرګند کړم.

۲۲ بل یهوداه ترے تپوس وکړو،اِسکریوتی نه،"مالِکه! آخر دا څهٔ وجه ده تهٔ دا وائے چه تهٔ به صرف مُونږ
ته ځان څرګند کړے اَوُ نورے دُنیا ته نه؟"

۲۳ عیسیٰ جواب ورکړو،"هغه څوک چه زما سره مینه کوی،هغه به زما په کلام عمل کوی اَوُ بیا به زما
پلار هم دَ هغهٔ سره مینه کوی،اَوُ پلار اَوُ زَهٔ به هغهٔ له څُو چه دَ هغهٔ سره اوسُو. ۲۴ خو هغه څوک چه ما
سره مینه نهٔ کوی هغه زما په کلام عمل نهٔ کوی. اَوُ کُوم کلام چه تاسو آؤرئ دا زما نهٔ دے دا دَ پلار
کلام دے چا چه زَهٔ را استولے یم. ۲۵ ما تاسو ته دا هر څهٔ ووئیل په دے وخت چه زَهٔ له تاسو سره یم،
۲۶ خو مددګار یعنے رُوحُ القُدس چه به پلار زما په نُوم را استوی،هغه به تاسو ته هر څهٔ ښائی اَوُ بیا به
درته هغه څهٔ رایادوی،کُوم چه ما تاسو ته وئیلی دی.

۲۷ زَهٔ تاسو ته سلامتیا پریږدم،زما خپله سلامتیا،هغه چه دُنیا ئے نهٔ شی ورکولے. مه ګبراویږئ اَوُ مه
ویریږئ. ۲۸ تاسو واؤریدل چه ما ووئیل،زَهٔ درنه روان یم اَوُ بیا به تاسو ته بیرته راځم. که چرے تاسو ما
سره مینه کولے نو تاسو به په دے آؤریدو سره خوشحاله شوی وئ چه زَهٔ پلار له روان یم ځکه چه پلار
له ما نه لوئے دے. ۲۹ ما تاسو ته اَوُ دَ مخکښے نه دا وئیلی دی ځکه چه دا پیښه شی نو تاسو ایمان
راؤړئ. ۳۰ زَهٔ به تاسو سره زیاتے خبرے ونهٔ کړم ځکه چه دَ دے دُنیا سردار راتلُونکے دے. دَ هغهٔ په ما
باندے هیڅ اِختیار نِشته، ۳۱ خو دُنیا ته به دا خامخاه څرګنده شی چه زَهٔ دَ پلار سره مینه کوم اَوُ بیخی
هغه شان ئے کوم څنګه چه هغه حُکم کوی. نو پاځئ چه له دے ځائے نه لاړ شُو."

## یوحنا باب ۱۵

## عیسیٰ دَ انګور حقیقی بُوټے

۱ حقیقی بُوټے دَ انګور زَهٔ یم اَوُ زما پلار باغوان دے. ۲ هره شنډه څانګه هغه پریکوی اَوُ هره میوه
نیوونکے څانګه پاکوی دَ دے دَ پاره چه هغه نوره زیاته میوه ونیسی. ۳ تاسو دَ مخکښے نه په هغه خبره
چه ما تاسو ته کړے ده،پاک کړی شوی یئ. ۴ په ما کښے اوسئ لکه زَهٔ چه په تاسو کښے اوسم. یوه
څانګه هم دَ خپله ځانه میوه نهٔ شی نیولے،تر څو چه هغه دَ انګُور دَ بُوټی سره پاتے نهٔ وی. تاسو هم تر
هغے میوه نهٔ شئ نیولے تر څو چه تاسو په ما کښے نهٔ اوسئ.

۵ زَهٔ دَ انګور بُوټے یم اَوُ تاسو زما څانګے یئ. څوک چه په ما کښے اوسی لکه زَهٔ چه په هغهٔ کښے،نو
هغه به ډیره میوه نیسی،ځکه چه زما نه بغیر تاسو هیڅ نهٔ شئ کولے. ۶ هغه څوک چه په ما کښے نهٔ
اوسی هغه به لکه وچه شوے څانګه ګزار کړے شی،اَوُ وُچے څانګے به یو ځائے راټولے کړی شی اَوُ په
اور کښے به واچولے شی اَوُ وبه سوزولی شی. ۷ که تاسو په ما کښے اوسئ اَوُ زما خبرے په تاسو کښے

اوسی نو چه تاسو څۀ غواړئ دَ هغې خواهش کوئ اَوْ زَۀ به ئې درکوم. ۸ دغه شان زما دَ پلار جلال په
دې ښکاره کیږی چه تاسو ښۀ ډیره میوه ونیسئ اَوْ زما مُریدان ښکاره شئ.۹ لکه چه پلار ما سره مینه
کړې ده دغه شان زَۀ تاسو سره مینه کوم. زما په مینه کښې اوسئ. ۱۰ که چرې تاسو زما په حُکمونو
عمل کوئ نو تاسو به زما په مینه کښې اوسئ لکه چه ما دَ خپل پلار په حُکمُونو عمل کړې دې اَوْ دَ
هغۀ په مینه کښې اوسم.

۱۱ دا ما تاسو ته وئیلی دی دَ دې دَ پاره چه زما خوشحالی دِ په تاسو کښې وی اَوْ ستاسو خوشحالی دِ
پُوره شی. ۱۲ دا زما حُکم دې،دَ یو بل سره مینه کوئ لکه چه ما تاسو سره مینه کړې ده. ۱۳ دَ دې نه
زیاته نوره مینه نِشته چه یو سړې دِ دَ خپل دوست دَ پاره خپل ځان ورکړی. ۱٤ تاسو زما دوستان یئ که
زما په حُکمُونو تاسو عمل وکړو. ۱۵ نو زَۀ به تاسو ته بیا غُلامان نۀ وایم. یو غُلام ته دَ دې هیڅ پته نۀ
وی چه دَ هغۀ مالِک به څۀ کوی،خو ما تاسو ته دوستان وئیلی دی ځکه چه ما تاسو ته هر هغه څۀ
څرګند کړی دی کُوم چه ما دَ پلار نه آؤریدلی دی. ۱۶ تاسو زَۀ غوره کړې نۀ یم،ما تاسو غوره کړی یئ
اَوْ ما تاسو په دې مُقرر کړئ چه لاړ شئ اَوْ میوه ونیسئ،هغه میوه چه دَ تل ده، دَ دې دَ پاره چه زما په
نُوم چه تاسو دَ پلار نه هر څۀ چه غواړئ،هغه تاسو ته درکړی. ۱۷ دا زما تاسو ته حُکم دې چه دَ یو بل
سره مینه کوئ.

## دَ دُنیا بدی

۱۸ که تاسو دَ دُنیا بدی شئ نو تاسو ته ښۀ معلُومه ده چه ستاسو نه اول ئې ما سره کړې ده. ۱۹ که
چرې تاسو دَ دُنیا وَئې نو دُنیا دَ خپلو سره غزیزولی کوی،خو کله چه تاسو دَ دُنیا نۀ یئ ځکه چه ما تاسو
دَ دُنیا نه غوره کړی یئ نو دغه سبب دې چه دَ دُنیا تاسو بدی شئ. ۲۰ ما چه څۀ ووئیل،دا یاد لرئ،یو
غُلام دَ مالِک نه لوئې نۀ دې. لکه څنګه چه ئې زَۀ وعذابولم دغسې به تاسو هم وعذابوی. که هغوئ
زما په کلام عمل وکړی ستاسو په کلام به هم عمل وکړی. ۲۱ دوئ به زما دَ نُوم په سبب دَ تاسو سره
داسې سلُوک وکړی ځکه چه هغوئ هغه نۀ پیژنی چه زَۀ چا رالیږلې یم. ۲۲ که زَۀ راغلې نۀ وئې اَوْ دوئ
ته مې وئیلې نۀ وئې نو دوئ به ګُناه ګار شوی نۀ وُو،خو اوس دَ هغوئ سره دَ خپل ګُناه دَ پاره څۀ بهانه
نِشته. ۲۳ هر هغه څوک چه ما سره بدی کوی هغه زما دَ پلار سره هم بدی کوی. ۲٤ که چرې ما دَ
هغوئ په مینځ کښې داسې کارُونه نۀ وئې کړې کُوم چه بل هیچا هم نۀ دی کړی نو هغوئ به ګُناه ګار
نۀ وئې،خو اوس هغوئ لیدلی دی اَوْ دَ دواړو سره،یعنې ما سره اَوْ دَ پلار سره بدی کوی. ۲۵ هم دَ هغوئ
په شریعت کښې دا رښتیا لیکلی دی چه،«هغوئ ما سره بې سببه بدی کوله.»

۲۶ خو چه مددګار راشی کُوم چه به زَۀ تاسو ته دَ پلار نه راستوم،یعنې دَ حقیقت رُوح چه دَ پلار نه
راوزی،هغه به زما په باب کښې ګواهی ورکوی. ۲۷ تاسو به هم ګواهی ورکوئ ځکه چه تاسو دَ اول نه
ما سره یئ.

## یوحنا باب ۱۶

۱ ما دا تاسو ته وئیلی دی چه تاسو به تیندک ونهٔ خورئ. ۲ هغوئ به تاسو دَ عبادت خانو نه خارج
کړی،بلکه داسے وخت راتلُونکے دے چه هر هغه څوک چه تاسو قتلوی نو دا گُمان به کوی چه گنی دَ
خُدائے خدمت کوی. ۳ هغوئ به دا کارُونه ځکه کوی چه نه خو هغوئ پلار پیژنی اَؤ نه ما .

## دَ رُوحُ القُدس کار

٤ ما دا ځکه درته وئیلی دی چه کله چه دَ دے دَ پُوره کیدو وخت راشی نو تاسو زما خبردارے یاد لرئ.

ما تاسو ته دا خبرے اَول ځکه ونهٔ کړے چه زهٔ تاسو سره وم، ٥ خو اوس زهٔ هغه چا ته روان یم چا چه
زهٔ رالیږلے یم. په تاسو کښے هیڅوک زما نه دا تپوس نهٔ کوی چه تهٔ چرته روان یئے؟ ٦ خو بیا هُم څهٔ
چه ما تاسو ته وئیلی دی دَ هغے به وجه تاسو غمژن شوی یئ ۷ خو بیا هم زهٔ تاسو ته رښتیا وایم چه دا
ستاسو دَ بهترئ دَ پاره ده چه زهٔ ستاسو نه جُدا کیږم. که چرے زهٔ ستاسو نه لاړ نهٔ شم نو مددگار به رانهٔ
شی اَؤ که چرے زهٔ لاړ شم نو هغه به زهٔ تاسو ته راواستُوم. ۸ کله چه هغه راشی نو هغه به دُنیا دَ گُناه اَؤ
دَ صداقت اَؤ اِنصاف په باب کښے ملامته کړی، ۹ دَ گُناه په باب کښے ځکه چه په ما ایمان نهٔ راوړی،
۱۰ اَؤ دَ صداقت په باب کښے ځکه چه زهٔ پلار له ځم اَؤ تاسو به مے بیا ونهٔ وینئ، ۱۱ اَؤ دَ اِنصاف په
باب کښے ځکه چه دَ دے دُنیا سردار مُجرم کړے شو.

۱۲ نورے هم ډیرے خبرے دی چه تاسو ته مے کړے وئے خو دا به اوس تاسو برداشت کولے نهٔ شئ.
۱۳ خو کله چه دَ حقیقت رُوح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښیی ځکه چه هغه به دَ خپله
ځانه هیڅ نهٔ وائی،خو هغه څهٔ به وائی کُوم چه هغه آؤری اَؤ هغه به تاسو په راتلُونکی واقعاتو خبر کړی.
۱٤ هغه به زما جلال ښکاره کوی ځکه چه له ما نه به ئے آخلی اَؤ تاسو به پرے خبر کړی. ۱٥ هر څهٔ
چه دَ پلار دی هغه زما دی اَؤ دغه وجه ده چه ما ووئیل چه له ما نه به ئے آخلی اَؤ تاسو به پرے
خبروی.

## غم په خوشحالئ کښے بدلیدل

۱٦ لږ ساعت پاتے دے اَؤ بیا به تاسو ما نهٔ وینئ اَؤ بیا لږ ساعت پس به تاسو ما ووینئ.

۱۷ دَ هغهٔ ځنو مُریدانو یو بل ته ووئیل،”دَ هغهٔ دَ دے نه څهٔ مطلب دے چه لږ ساعت پاتے دے اَؤ تاسو
به بیا ما نهٔ وینئ اَؤ بیا لږ ساعت پس به تاسو ما ووینئ؟ اَؤ په دے چه زهٔ خپل پلار له روان یم؟“

۱۸ هغوئ وئیل چه”دَ دے لږ ساعت نه څهٔ مطلب دے چه هغه ئے یادوی؟ مُونږ په دے هیڅ نهٔ پوهیږُو
چه هغه څهٔ وائی.“

۱۹ عیسیٰ په دے پوهه شو چه هغوئ له ما نه دَ تپوسُونو په طلب دی اَؤ وئے وئیل،”آیا تاسو په دے
بحث کوئ څهٔ چه ما ووئیل چه لږ ساعت پاتے دے اَؤ بیا په تاسو ما نهٔ وینئ اَؤ بیا لږ ساعت پس به
تاسو ما ووینئ؟ ۲۰ نو زهٔ تاسو ته رښتیا رښتیا وایم چه تاسو به ژاړئ اَؤ ویر به کوئ خو دُنیا به خوشحاله
وی. خو سره دَ دے چه تاسو به په غم کښے ډوب یئ خو ستاسو غم به په خوشحالئ بدل شی. ۲۱ دَ

زيږدو دَ دړدُونو په وخت خو په ښځه تکليف وی ځکه چه دَ بچی دَ پيدا کيدو وخت راغلے وی،خو کله
چه بچے پيدا شی نو دَ هغے سختے په خوشحالئ بدلے شی ځکه چه يو اِنسان په دُنيا کښے وزيږدو. ٢٢
اَوْ تاسو غمژن يئ خو زَهٔ به تاسو بيا ووينم اَوْ بيا به تاسو خوشحاله يئ اَوْ هيڅوک به هم ستاسو خوشحالی
وانهٔ خلی.

٢٣ هغه ورځ به تاسو زما په حقله هيڅ پوښتنه نهٔ کوئ. رښتيا رښتيا درته وايم، که چرے تاسو زما په نُوم
دَ پلار نه چه څهٔ وغواړئ نو هغه به ئے درکړی. ٢٤ تر اوسَ پورے تاسو زما په نُوم هيڅ نهٔ دی غوښتی.
وغواړئ اَوْ دربه کړے شی په دے چه ستاسو خوشحالی مُکمله شی

## زَهٔ په دُنيا غالب راغلے يم

٢٥ تر دے خو ما تاسو ته په مِثالُونو خبر کولے،خو وخت راروان دے چه زَهٔ به بيا په مِثالُونو خبرے نهٔ
کوم خو په ډاګه به درته دَ پلار په حقله خبرے کوم. ٢٦ کله چه هغه ورځ راشی نو تاسو به زما په نُوم
وغواړئ اَوْ زَهٔ دا نهٔ وايم چه ګنی زَهٔ به تاسو دَ پاره پلار ته سوال کوم. ٢٧ ځکه چه په پلار تاسو په خپله
ګران يئ،ځکه چه زَهٔ په تاسو ګران وم اَوْ ايمان مو راوړے دے چه زَهٔ دَ خُدائے نه راوتلے يم. ٢٨ زَهٔ دَ
پلار نه راوتلے يم اَوْ دے دُنيا ته راغلے يم اَوْ اوس زَهٔ دُنيا بيا پريږدم اَوْ پلار له ځم.“

٢٩ دَ هغهٔ مُريدانو ووئيل،”ګوره! تهٔ اوس په ډاګه وايئے اَوْ په مِثالُونو کښے نهٔ وايئے. ٣٠ مُونږ اوس پوهيږُو
چه تهٔ دَ هر څهٔ نه خبر يئے اَوْ دَ تپوسُونو حاجت درنه نِشته. هم په دے وجه زمُونږ دا يقين دے چه تهٔ دَ
خُدائے نه راوتلے يئے.“

٣١ عيسىٰ جواب ورکړو،”آيا تاسو اوس يقين لرئ څهٔ؟ ٣٢ ګورئ وخت راروان دے،بلکه دا راغلے هم
دے چه تاسو به ټول خوارهٔ وارهٔ شئ اَوْ خپلو کورُونو ته به لاړ شئ اَوْ ما به يکی يواځے پريږدئ،خو بيا
هم زَهٔ يواځے نهٔ يم ځکه چه پلار راسره دے. ٣٣ ما تاسو ته دا هر څهٔ ځکه وئيلی دی چه په ما کښے به
ستاسو سلامتيا وی. اَوْ په دُنيا کښے به په تاسو سختے وی خو زړهٔ ور شئ ځکه چه زَهٔ په دُنيا غالب
راغلے يم.“

## يوحنا باب ١٧

## دَ مُريدانو دَ پاره دَ عيسىٰ دُعا

١ دَ دے خبرو نه پس عيسىٰ پورته وکتل اَوْ وئے وئيل،”پلاره! وخت راغے،خپل زوی له جلال ورکړه دَ
دے دَ پاره چه ستا زوئے تا له جلال درکړی. ٢ ځکه چه تا هغهٔ له په ټولو بنی آدمو اِختيار ورکړے دے
چه هغه ټولو له تل عُمری ژوندُون ورکړی چه ورته تا حواله کړی. ٣ دا تل عُمری ژوندون دے چه تا
وپيژنی چه تهٔ يواځے رښتينے خُدائے يئے اَوْ عيسىٰ مسيح چه تا را استولے دے. ٤ ما په هغه کار پُوره
کولو ستا جلال په دے دُنيا کښے ښرګند کړو،کُوم چه تا ما ته حواله کړے وُو. ٥ اَوْ اَئے پلاره! اوس تهٔ
ما ته په خپل حضُور کښے جلال راکړه،هغه جلال کُوم چه ما تا سره دَ دُنيا دَ پيدايښت نه اول لرلو.

٦ ما ستا نُوم په هغه خلقو باندے څرګند کړے دے کُوم چه تا ما ته له دُنيا نه راکړی دی. هغوئ ستا
وُو اَؤ تا ماله راکړی وُو اَؤ هغوئ ستا کلام قبُول کړے دے. ٧ اَؤ اوس هغوئ پوهه شوی دی چه دا هر
څۀ چه تا راکړی دی دا ستا دَ لوری دی. ٨ ځکه چه ما هغوئ ته کلام ورکړے دے کُوم چه تا ما له
راکړے دے،اَؤ دوئ هغه قبُول کړے دے،اَؤ هغوئ ته دا معلُومه شوه چه دا رښتيا دی چه زَۀ له تا نه
راوتلے يم، اَؤ هغوئ په دے ايمان راوړے دے چه زَۀ تا را استولے يم.

٩ زَۀ دَ هغوئ دَ پاره دُعا کوم،زۀ دَ دُنيا دَ پاره دُعا نۀ کوم خو دَ هغوئ دَ پاره چه تا راته په حواله کړی
دی ځکه چه هغوئ ستا دی. ١٠ څۀ چه زما دی هغه ستا دی،اَؤ څۀ چه ستا دی هغه زما دی،اَؤ په
هغوئ کښے زما جلال څرګند شوے دے. ١١ زَۀ نور په دُنيا کښے نۀ يم خو دوئ به لا په دُنيا کښے
وی اَؤ زَۀ ستا په طرف درروان يم. اَئے قدوسه پلاره! تۀ دَ خپل لوظ دَ خاطره دَ دوئ حفاظت وکړه چه
تا ما ته راکړی دی، چه دوئ هم يو شی لکه چه مُونږ يو يُو. ١٢ چه زَۀ دَ دوئ سره وم نو ستا په نوم مے
دَ هغوئ حفاظت کړے دے چه تا ما ته راکړی وُو اَؤ په هغوئ کښے يو هم دوزخ ته تلے نۀ دے بے له
يو نه چه دوزخی دے ځکه چه دَ مُقدس کتاب ليک پُوره شی. ١٣ اَؤ اوس زَۀ تا ته درروان يم خو تر څو
چه زَۀ په دے دُنيا کښے يم زَۀ دا وايم چه په دوئ کښے زما خوشحالی پُوره وی.

١٤ ما ستا پيغام هغوئ ته ورکړے دے اَؤ دَ دُنيا هغوئ بدی شی ځکه چه دوئ دَ دُنيا نۀ دی لکه چه زَۀ
دَ دُنيا نۀ يم. ١٥ زَۀ ستا نه دا دُعا نۀ کوم چه دوئ دَ دے دُنيا نه وباسے خو دَ شرير نه حفاظت ورکړے.
١٦ دوئ دَ دُنيا نۀ دی لکه چه زَۀ دَ دُنيا نۀ يم. ١٧ دوئ دَ حقيقت په وسيله مُقدس کړه، ستا کلام
حقيقت دے. ١٨ لکه چه تا زَۀ دُنيا ته را استولے يم دغسے ما دوئ دُنيا ته استولی دی. ١٩ اَؤ اوس زَۀ دَ
دوئ دَ خاطره خپل ځان مُقدس کوم چه دوئ هم دحقيقت په وسيله مُقدس شی.

٢٠ خو زَۀ يواځے دَ دوئ دَ پاره دُعا نۀ کوم بلکه دَ هغه چا دَ پاره هم څوک چه دَ دوئ دَ کلام په وسيله
په ما ايمان راؤړی. ٢١ تۀ دوئ ټول يو کړه. لکه چه تۀ پلاره په ما کښے يئے اَؤ زَۀ په تا کښے يم دغه
شان دِ دوئ هم په مُونږ کښے يو وی چه دُنيا دا ايمان ولری چه زَۀ تا را استولے يم. ٢٢ کوُم جلال چه تا
ما له راکړے دے هغه ما دوئ ته ورکړے دے چه دوئ يو وی لکه چه مُونږ يو يُو، ٢٣ زَۀ په هغوئ
کښے اَؤ تۀ په ما کښے،چه دوی په کامل طور يو وی. بيا به دُنيا په دے پوهه شی چه زَۀ تا را استولے
يم، چه تا دَ دوئ سره هم داسے مينه وکړله چه ما سره دِ کوله.

٢٤ اَئے پلاره! دا خلق چه تا ما له راکړی دی زَۀ غواړم چه دوئ دِ زما سره وی چرته چه زَۀ يم،چه دوی
زما جلال ووينی کوم چه تا ما له راکړے دے ځکه چه تا دَ ازل نه ما سره مينه کړے ده. ٢٥ اَئے صادِقه
پلاره! دُنيا ته ونۀ پيژندلے خو زَۀ تا پيژنم اَؤ دوئ هم دا پيژنی چه تا زَۀ را استولے يم. ٢٦ ما ستا نُوم دوئ
ته څرګند کړو اَؤ دا به نور هم څرګندوم دَ دے دَ پاره چه کُومه مينه چه تا ما سره کوله،دوئ ئے هم دَ
يو بل سره وکړی،اَؤ زَۀ دِ هم په دوئ کښے يم.

# یوحنا باب ۱۸

## په عیسیٰ مسیح مُخبری اَؤ نیول

**(نتم۶۲: ۷۴ - ۶۵،مرقوس ۴۱: ۳۴ - ۰۵،لُوقا ۲۲: ۷۴ - ۳۵ )**

۱ دَ دے خبرو نه پس عیسیٰ دَ خپلو مُریدانو سره بهر ووتو اَؤ دَ قیدرون دَ خوړ نه پورے وتو. هلته یو باغ
وُو ۲ عیسیٰ اَؤ دَ هغهٔ مُریدان په کښے ورننوتل. هغه ځائے هم هغه یهوداه ته چه په هغهٔ ئے مُخبری کوله
معلُوم وُو ځکه چه عیسیٰ به اکثر دَ خپلو مُریدانو سره هلته تلو. ۳ نو یهوداه دَ رُومی سپاهیانو یو پلټن دَ
مشرانو کاهنانو اَؤ دَ فریسیانو له خوا لیږلی شوی دَ خُدائے دکور محافظان دَ ځان سره واخستل چه
ډیوے،مشعلُونه اَؤ وسلے ورسره وے،هغه باغ ته ورغلل. ۴ عیسیٰ چه دَ پیښیدُونکو واقعاتو نه خبر وُو
هغوئ له مخے له راووتو اَؤ تپوس ئے ترے وکړو چه"تاسو څوک لټوئ؟"

۵ هغوئ جواب ورکړو چه"عیسیٰ ناصری."

عیسیٰ ووئیل،"هغه زَهٔ یم."

هلته په خوا کښے ئے یهوداه مُخبر هم ولاړ وُو. ۶ کله چه هغهٔ ووئیل چه"هغه زَهٔ یم،"نو هغوئ وروستو
شول اَؤ په مزکه پریوتل. ۷ عیسیٰ بیا تپوس وکړو،"دا تاسو څوک لټوئ؟"

هغوئ جواب ورکړو،"عیسیٰ ناصری."

۸ بیا عیسیٰ ووئیل،"ما تاسو ته وئیلی دی چه هغه زَهٔ یم. که تاسو ما لټوئ نو دا نور پریږدئ چه ځی." ۹
دا دَ هغهٔ هغه قول پُوره کول وُو چه تا چه څوک ما له راکړی دی دَ هغوئ نه ما یو هم نهٔ دے ضائع
کړے.

۱۰ په دغه وخت کښے شمعُون پطروس خپله تُوره راوویسته اَؤ دَ مشر کاهن په غُلام ئے گُزار وکړو اَؤ ښی
غوږ ئے ترے نه پرے کړو. دَ غُلام نُوم ملخوس وُو. ۱۱ عیسیٰ پطروس ته ووئیل چه"خپله تُوره په تیکی
کښے کیږده. دا هغه دَ مُصیبت پیاله ده چه پلار ما ته راکړے ده،نو زَهٔ به دا ولے نهٔ څښم؟"

## دَ عیسیٰ دَ مشر کاهن په مخکښے پیش کول

۱۲ دَ رُومی سپاهیانو سره دَ هغوئ کماندار اَؤ دَ یهودیانو دَ خُدائے دکور مُحافظانو عیسیٰ ونیولو اَؤ وئے
تړلو. ۱۳ هغوئ هغه اول حنا ته بوتلو،حنا دَ کیفا سخر وُو څوک چه دَ هغه کال دَ پاره مشر کاهن وُو.
۱۴ کیفا هغه سړے وُو چا چه یهودیانو ته دا صلاح ورکړے وه چه دَ دوئ دَ پاره غوره دا ده چه یو
سړے دَ ټول اُمت دَ پاره مړ شی.

## دَ پطروس له عیسیٰ نه اِنکار

**(نتم۶۲: ۹۶ - ۰۷،مرقوس ۴۱: ۶۶ - ۸۶،لُوقا ۲۲: ۵۵ - ۷۵ )**

۱۵ شمعُون پطروس اَؤ بل مُرید په عیسیٰ پسے وروستو وروستو روان وُو. دَ دغه مُرید دَ مشر کاهن سره

پیژندګلی وه اَوُ دَ عیسیٰ سره دَ مشر کاهن غولی ته ورننوتو. ١٦ خو پطروس بهر په دروازه کښې ایسار
شو. بیا هغه بل مُرید چه دَ مشر کاهن سره ئې پیژندګلی وه،دوباره بهر ووتو اَوُ په دروازه کښې دَ ولاړې
ښځې سره ئې خبرې وکړې اَوُ پطروس ئې دَ ننه کړو. ١٧ په دروازه کښې ولاړې خدمت ګارې
پطروس ته ووئیل،"آیا تهٔ هم دَ دې سړی مُرید یئې څهٔ؟"

هغهٔ ووئیل چه"زَهٔ نهٔ یم."

١٨ غُلامانو اَوُ مُحافظانو سکارهٔ بل کړی وُو ځکه چه موسم یخ وُو اَوُ هغوئ ترې چاپیره ولاړ وُو اَوُ ځان
ئې تودولو اَوُ پطروس هم دَ هغوئ سره وځان ئې تودولو. لاړ وُو اَوُ

## دَ مشر کاهن له عیسیٰ نه تحقیق کول

**(متی٦٢: ٩٥ - ٦٦،مرقوس ٤١: ٥٥ - ٤٦،لُوقا ٢٢: ٦٦ - ١٧ )**
١٩ مشر کاهن دَ عیسیٰ نه دَ هغهٔ دَ مُریدانو اَوُ دَ هغهٔ دَ تعلیم په حقله تپوس وکړو. ٢٠ عیسیٰ جواب
ورکړو چه"ما ټولو خلقو ته په ډاګه خبرې کولې. ما همیشه په عبادت خانو اَوُ دَ خُدائې په کور کښې
تعلیم ورکړې دې چرته چه ټول یهودیان راغونډیږی اَوُ هیڅ شې مې په پټه نهٔ دې وئیلې. ٢١ نو تهٔ له ما
نه تپوسُونه ولې کوې؟ زما دَ آؤریدُونکو نه تپوس وکړه چه ما هغوئ ته څهٔ وئیلی دی،هغوئ ته معلُومه ده
چه ما څهٔ وئیلی دی."

٢٢ کله چه عیسیٰ دا ووئیل نو یو مُحافظ څوک چه دَ هغهٔ په خوا کښې ولاړ وُو عیسیٰ ته په مخ څپیړه
ورکړه اَوُ وئې وئیل،"څوک مشر کاهن ته داسې جواب ورکوی څهٔ؟"

٢٣ عیسیٰ جواب ورکړو،"که بد مې وئیلی دی نو ګواهی پرې تیره کړه،اَوُ که ښهٔ مې وئیلی دی نو دا
ګُذار دِ ولې راکړو؟"

٢٤ حنا بیا عیسیٰ تړلې مشر کاهن کیفا ته واستولو.

## دَ پطروس له عیسیٰ نه بیا اِنکار کول

**(متی٦٢: ١٧ - ٥٧،مرقوس ٩٦:٤١ - ٢٧،لُوقا ٢٢: ٨٥ - ٢٦ )**
٢٥ په دې دوران کښې شمعُون پطروس ولاړ وُو اَوُ ځان ئې تودولو،نو نورو تپوس وکړو،"آیا تهٔ هم دَ هغهٔ
مُرید نهٔ یئې څهٔ؟"

خو هغهٔ اِنکار وکړو اَوُ وئې وئیل چه"زَهٔ نهٔ یم."

٢٦ دَ مشر کاهن یو غُلام کُوم چه دَ هغه سړی عزیز وُو چه پطروس ترې نه غوږ پرې کړې وُو اِصرار
وکړو،"آیا ما تهٔ دَ هغهٔ سره په باغ کښې نهٔ وې لیدلې څهٔ؟"

٢٧ پطروس بیا اِنکار وکړو،اَوُ هم په دغه وخت کښې چرګ بانګ ووې.

## دَ عيسىٰ دَ پيلاطوس په مخ کښې پيش کول

**(متى۲۷: ۱ - ۲،مرقوس ۱۵: ۱ - ۵،لُوقا ۲۳: ۱ - ۵ )**

۲۸ دَ کيفا نه ئې عيسىٰ دَ رومى حاکم قلا ته بوتلو. اَوْ خړ سحر وُو اَوْ يهوديان په خپله دَ قلا نه بهر
ودريدل چه دَ پليتيږ نه ځان وساتى دَ دے دَ پاره چه هغوئ دَ فسح خوراک وخورى. ۲۹ نو پيلاطوس
ورته بهر راووتو اَوْ تپوس ئې وکړو، " تاسو دَ دے سړى خلاف څۀ دعوىٰ لرئ؟" ۳۰ هغوئ جواب
ورکړو، "که دے چرے مُجرم نۀ وئے نو مُونږ به تا له نۀ وُو راوستے."

۳۱ پيلاطوس ووئيل،"دَئې بوزئ اَوْ دَ خپل شريعت په مُطابق ئې فيصله وکړئ."

يهوديانو جواب ورکړو چه"مُونږ سره دَ چا دَ مړ کولو اِختيار نِشته." ۳۲ اَوْ دغه شان دَ عيسىٰ هغه خبره
پُوره شوه چه هغه به په څۀ قِسم مرګ مړ شى.

۳۳ پيلاطوس بيا قلا ته ننوتو اَوْ عيسىٰ ئې راوغوښتو. هغۀ تپوس وکړو چه"تۀ رښتيا دَ يهوديانو بادشاه يئې
څۀ؟"

۳٤ عيسىٰ ووئيل،"آيا دا ستا خپل خيال دے اَوْ که بل چا داسے درته وئيلى دى؟"

۳۵ پيلاطوس ووئيل،"زَۀ يهودى يم څۀ؟ ستا خپل قام اَوْ دَ هغوئ مشرانو کاهنانو تۀ ما ته په حواله کړے
يئې،تا کړى څۀ دى؟"

۳٦ عيسىٰ جواب ورکړو،"زما بادشاهى دَ دے دُنيا نۀ ده.که چرے زما بادشاهى دَ دے دُنيا وئے، نو زما
خادمانو به دَ يهوديانو نه زما دَ بچ کولو دَ پاره دَ هغوئ سره جنګ کړے وُو. زما بادشاهى دَ دے دُنيا نۀ
ده."

۳۷ پيلاطوس ووئيل،"بيا خو تۀ بادشاه يئې نو؟"

عيسىٰ جواب ورکړو چه"هو،زَۀ بادشاه يم ستا دَ خُلے. زَۀ دَ دے دَ پاره پيدا وم اَوْ دَ دے دَ پاره دُنيا ته
راغلے يم چه زَۀ دَ حقيقت په باب ګواهى ورکړم اَوْ څوک چه حقيقت خوښوى هغه زما آواز آؤرى."

۳۸ پيلاطوس ووئيل،"حقيقت څۀ دے؟"

## په عيسىٰ دَ مرګ فتوىٰ

**(متى۲۷: ۱۵ - ۳۱،مرقوس ۱۵: ٦ - ۲۰،لُوقا ۲۳: ۳۱ - ۲۵ )**

اَوْ دے وئيلو سره هغه بيا يهوديانو ته ورووتو. هغۀ ووئيل چه"زَۀ دَ خپله لوريه په هغۀ کښې هيڅ خطا نۀ"
وينم. ۳۹ خو ستاسو دا رواج دے چه زَۀ يو قيدى دَ فسح په ورځ ستاسو په وينا آزادوم. آيا تاسو دا غواړئ
چه زَۀ دَ يهوديانو بادشاه درته آزاد کړم څۀ؟"

٤۰ بيا دَ خلقو چغه راوخته،"عيسىٰ نه،خو مُونږ برابا غواړو!" اَوْ برابا يو ډاکُو وُو.

## يوحنا باب ۱۹

۱ پيلاطوس بيا عيسىٰ بوتلو اَؤ په کروړو ئے ووهلو. ۲ اَؤ سپاهيانو دَ ازغيو تاج جوړ کړو اَؤ هغهٔ ته ئے په
سر کړو اَؤ سره چُوغه ئے وراواغوسته. ۳ بيا هغوئ هغهٔ له راغلل،چغے به ئے وهلے،"دَ يهوديانو بادشاه
سلام!" اَؤ په مخ به ئے څپيړه ورکوله.

٤ يو ځل بيا پيلاطوس بهر راغے اَؤ يهوديانو ته ئے ووئيل چه"زَهٔ عيسىٰ تاسو ته بهر راولم چه تاسو خبر
شئ چه دَ هغهٔ خلاف ما هيڅ جُرم ونه مُوندلو." ٥ اَؤ عيسىٰ بهر راغے دَ ازغو تاج ئے په سر وُو اَؤ سره
چُوغه ئے آغوستے وه. پيلاطوس ووئيل،"وګورئ دا سړے."

٦ مشرانو کاهنانو اَؤ دَ خُدائے دَ کور مُحافظانو هغه وليدو اَؤ چغے ئے کړے،"دَئے په سولئ کړه! په
سولئ ئے کړه!"

پيلاطوس ووئيل چه"دَئے بوزئ اَؤ په خپله ئے په سولئ کړئ ځکه چه ما دَ دَهٔ خلاف هيڅ جُرم ونهٔ
مُوندلو."

۷ يهوديانو جواب ورکړو چه"مُونږ سره شريعت شته،اَؤ دَ شريعت په مُطابق دَ مرګ لائق دے ځکه چه دَهٔ
دا دعوىٰ کړے ده چه زَهٔ دَ خُدائے زوئے يم."

۸ کله چه پيلاطوس دا واؤريدل نو هغه زيات ويرے واخستو. ۹ هغه قلا ته بيرته لاړو اَؤ دَ عيسىٰ نه ئے
تپوس وکړو چه"تهٔ دَ کُوم ځائے يئے؟" خو عيسىٰ هيڅ جواب ورنه کړو. ۱۰ پيلاطوس ووئيل،"آيا تهٔ ما
سره خبرے نهٔ کوے څهٔ؟ يقيناً چه تا ته دا معلُومه نهٔ ده چه ما سره دا اِختيار شته چه تا آزاد کړم اَؤ دا
اِختيار هم را سره شته چه تا په سولئ کړم؟"

۱۱ عيسىٰ جواب ورکړو چه"ستا به په ما باندے هيڅ اِختيار نهٔ وئے که چرے دا دَ خُدائے نه تا ته نهٔ وئے
درکړے شوے.ځکه چا چه زَهٔ تا ته په حواله کړے يم،په دے کښے زيات مُجرم هغه دے." ۱۲ دَ هغه
ساعت نه پيلاطوس ډير کوشش کاوو چه هغه آزاد کړی خو يهوديان په چغو سر وُو،"که تا دا سړے آزاد
کړو نو تهٔ بيا دَ رُومی قيصر خير خواه نهٔ يئے! کُوم سړے چه ځان بادشاه کوی هغه دَ رُومی قيصر
مُخالفت کوی!"

۱۳ کله چه پيلاطوس واؤريدل چه دوئ څهٔ وائی نو هغهٔ عيسىٰ بهر راوويستو اَؤ دَ عدالت په کُرسئ هغه
ځائے کښيناستو چه دُونکاچه ورته وائی خو په عِبرانئ ژبه کښے ورته ګبتا وائی. ١٤ دا دَ فسح دَ تيارولو
ورځ وه اَؤ قريباً غرمه وه. پيلاطوس يهوديانو ته ووئيل،"دا دے ستاسو بادشاه." ١٥ هغوئ چغے
کړے،"قتل ئے کړه! قتل ئے کړه! په سولئ ئے کړه!" پيلاطوس ورته ووئيل،"ستاسو بادشاه په سولئ کړم
څهٔ؟" مشرانو کاهنانو جواب ورکړو چه"زمُونږ خو دَ قيصر نه بغير بل بادشاه نِشته." ١٦ نو دَ دے نه پس

ئے عيسىٰ هغوئ ته دَ سولئ کولو دَ پاره په حواله کړو.

## دَ عيسىٰ په سولئ کول

**(متى۲۷: ۳۲ - ٤٤،مرقوس ۱٥: ۲۱ - ۳۲،لُوقا ۲۳: ۲٦ - ٤۳ )**

نو هغوئ عيسىٰ ونيوو. ۱۷ اَؤ هغهٔ خپله سولئ په خپله پورته کړے وه، بهر راووتو اَؤ کپرئ نُومے ځائے ته
راغلل چه په عبرانئ ژبه کښے ورته ګولګتا وائى. ۱۸ هلته هغوئ عيسىٰ په سولئ کړو اَؤ ورسره ئے دوه
نور هم يو ښى لاس ته اَؤ بل ګس لاس ته،اَؤ عيسىٰ په مينځ کښے. ۱۹ اَؤ پيلاطوس يوه کتبه وليکله اَؤ دَ
سولئ سره ئے وتړله چه دا پرے ليک وُو.''عيسىٰ ناصرى دَ يهوديانو بادشاه.'' ۲۰ ډيرو يهوديانو دا کتبه
ولوستله ځکه چه دَ عيسىٰ دَ سولئ کولو ځائے دَ ښار نه لرے نهٔ وُو،اَؤ هغه کتبه په عبرانئ،لاطينئ اَؤ
يُونانئ ژبه کښے وه. ۲۱ بيا دَ يهوديانو مشر کاهن پيلاطوس ته ووئيل،''تهٔ دا مه ليکه چه دَ يهوديانو
بادشاه،خو دا وليکه چه ئے وئيلى وُو چه''زهٔ دَ يهوديانو بادشاه يم.''

۲۲ پيلاطوس جواب ورکړو،''هر څهٔ چه ما ليکلى دى هغه مے ليکلى دى.''

۲۳ کُومو سپاهيانو چه عيسىٰ په سولئ کړے وُو هغوئ دَ هغهٔ جامے واخستے اَؤ په څلور ځايه ئے
وويشلے،دَ هر يو سپاهى دَ پاره يوه،اَؤ چُوغه ئے پريښوده. چُوغه ګنډلے شوے نهٔ وه اَؤ ټوله يوه ټوټه اَوُدلے
شوى وه.

۲٤ نو هغوئ يو بل ته ووئيل،''مُونږ ته دا څيرے کول نهٔ دى په کار،راځئ چه پرے هسک واچوو چه چا
ته ملاويږى.'' دغه شان دَ صحيفے ليک دُرست ثابت شو،«هغوئ زما جامے په خپلو کښے وويشلے اَؤ
زما په چُوغه ئے هسک واچولو.» دغه شان سپاهيانو وکړل.

۲٥ خو دَ عيسىٰ دَ سولئ سره دَ هغهٔ مور سره دَ خپلے خور،دَ کلوپاس ښځه مريم اَؤ مريم مګدلينى ولاړے
وے. ۲٦ عيسىٰ خپله مور دَ خپل خوږ مُريد سره په خوا کښے ولاړه وليده. عيسىٰ هغے ته
ووئيل،''مورے! دا ستا زوئے دے.''

۲۷ اَؤ بيا مُريد ته ئے ووئيل،''دغه ستا مور ده.'' دَ هغهٔ نه پس هغه مُريد مريم کورته بوتله.

## دَ عيسىٰ مسيح مرګ

**(متى۲۷: ٤٥ - ٥٦،مرقوس ۱٥: ۳۳ - ٤۱،لُوقا ۲۳: ٤٤ - ٤۹ )**

۲۸ دَ دے نه پس عيسىٰ چه پوهه شو چه هر څهٔ پُوره شوى دى چه دَ صحيفے ليک پُوره شى، وئے وئيل
چه''زهٔ تږے يم.''

۲۹ هلته يو لوښے دَ سرکے نه ډک پروت وُو. نو هغوئ يو اسپنج په سرکه کښے ډُوب کړو اَؤ دَ زوفا په
نلکئ ئے کيښودو اَؤ دَ هغهٔ شُونډو ته ئے وررورسولو. ۳۰ کله چه سرکه ورته ورکړے شوه نو هغهٔ ووئيل
چه''پُوره شو!''

سر ئې ټيټ کړو اَؤ مړ شو.

## دَ عيسیٰ مسيح پوښتئ په نيزه وهل

٣١ چُونکه دا دَ فسح دَ تيارئ کولو ورځ وه نو يهوديانو پيلاطوس ته خواست وکړو چه په سولئ شوو ښپې
دِ ماتې کړے شی اَؤ مړی دِ راکُوز کړی چه دَ سبت ورځ مړی په سولئ پاتې نۀ شی ځکه چه دا دَ سبت
ډيره لويه ورځ وه. ٣٢ سپاهيان هغه اول مُجرم ته ورغلل اَؤ دَ هغۀ ښپې ئې ماتې کړے اَؤ بيا دَ دويم هم
چه عيسیٰ سره په سولئ شوی وُو. ٣٣ خو کله چه هغوئ دَ عيسیٰ خوا ته راغلل نو هغه ئې وليدو چه مړ
دے، نو هغوئ دَ هغۀ ښپې ماتې نۀ کړلې. ٣٤ خو په سپاهيانو کښې يو دَ هغۀ پوښتئ په نيزه ووهله اَؤ
سمدستی ترې دَ وينو اَؤ اوبو دارے روانې شوے. ٣٥ دا دَ يو چشم ديد ګواه ګواهی ده کُومه چه پخه ده
اَؤ هغه پوهيږی چه هغه رښتيا وائی چه تاسو هم پرے ايمان راوړئ. ٣٦ ځه چه دَ صحيفې دا ليک پُوره
شی : «دَ هغۀ يو هډوکے به هم مات نۀ کړے شی.» ٣٧ اَؤ بيا يو بل آيت وائی چه : «هغوئ به هغه
سړی ته ګوری چه په نيزه ئې سُورے کړو.»

## دَ عيسیٰ مسيح دفن کيدل

**(تم٧٢: ٧٥ - ١٦،مرقوس ٥١: ٢٤ - ٧٤،لُوقا ٣٢: ٠٥ - ٦٥ )**

٣٨ دَ هغې نه پس يُوسف چه دَ اريمتيه وُو اَؤ هغه دَ عيسیٰ يو مُريد وُو خو په پټه ځکه چه هغه دَ يهوديانو
نه ويريدو،هغۀ پيلاطوس ته خواست وکړو چه ما له دَ عيسیٰ لاش دَ سولئ نه دَ وړلو اِجازت راکړه. اَؤ
پيلاطوس اِجازت ورکړو،نو ځکه يُوسف ورغې اَؤ دَ عيسیٰ لاش ئې يوړو. ٣٩ دَ هغۀ سره نيکوديموس
نومې سړے هم ملګرے شو څوک چه عيسیٰ له دَ شپې ورغلے وُو،اَؤ قريبًا دَ پنځوس سيره عُود سره ئې
لُوبان ګډ کړی راوړل. ٤٠ هغوئ دَ عيسیٰ لاش واخستو اَؤ دَ خوشبُويو سره ئې دَ لتې په کفن کښې دَ
يهوديانو دَ رواج په مُطابق ونغښتو. ٤١ کُوم ځائې کښې چه هغه په سولئ کړے شوے وُو هلته کښې يو
باغ وُو اَؤ په باغ کښې دَ ننه يو نوے قبر وُو چه لا په کښې څوک ښخ کړے شوے نۀ وُو. ٤٢ هر کله
چه دغه قبر نيزدے وُو اَؤ بله ورځ دَ سبت ورځ وه ځکه چه هغوئ عيسیٰ دغلته وسپارلو.

# يوحنا باب ٢٠

## دَ عيسیٰ مسيح له مړو نه بيا ژوندے پاڅيدل

**(تم٨٢: ١ - ٨،مرقوس ٦١: ١ - ٨،لُوقا ٤٢: ١ - ٢١ )**

١ دَ اِتوار په ورځ سحر وختی چه لا توره خره وه مريم مګدلينی هغه قبر له راغله اَؤ څۀ ګوری چه دَ قبر دَ
خُلې نه ګټ بيرته کړے شوے وُو. ٢ نو هغې په شمعُون پطروس اَؤ هغه بل مُريد پسې دَؤ کړو چا سره
چه عيسیٰ مينه کوله اَؤ ورته ئې ووئيل چه"هغوئ خو مالِک دَ قبر نه وړے دے،اَؤ دا نۀ ده معلُومه چه
کُوم ځائې ئې هغه ښخ کړے دے."

٣ نو پطروس اَؤ هغه بل مُريد پاڅيدل اَؤ قبر پلو روان شول. ٤ هغوئ څنګ په څنګ زغاښتل خو بل مُريد
دَ پطروس نه مخکښې شو اَؤ قبر ته ئې ځان ورسوو. ٥ هغۀ دَ ننه وکتل اَؤ دَ لتې کفن ئې وليدو چه هلته

پروت وُو خو دَ ننه ورنۀ غلو. ٦ بيا شمعُون پطروس په هغۀ پسے راغے اَؤ قبر ته ورننوتو. هغۀ دَ لټے کفن
وليدو ٧ اَؤ هغه رومال چه دَ عيسیٰ سر ئے پرے تړلے وُو هغه دَ کفن سره نۀ وُو پروت بلکه ځان له جُدا
نغښتے شوے په يو بل ځائے کښے پروت وُو. ٨ نو بيا کُوم مُريد چه مخکښے راغلے وُو هغه هم قبر ته
ورننوتو اَؤ وئے ليدل اَؤ يقين ئے راغے. ٩ تر دغه وخته هغوئ دَ صحيفو په مطلب نۀ وُو رسيدلی چه دا
ئے ښکاره کړے وه چه عيسیٰ به خامخا دَ مړو نه بيا ژوندے پاڅی.

## دَ عيسیٰ مسيح مريم مگدلينی ته ظاهريدل

**(متی٢٨: ٩ - ١٠،مرقوس ١٦: ٩ - ١١ )**

١٠ نو مُريدان بيرته کورته لاړل. ١١ خو مريم دَ قبر نه بهر ولاړه وه اَؤ ژړل ئے. کله چه هغے وژړل نو بيا
ئے قبر کښے سر ور دَ ننه کړو، ١٢ اَؤ هلته ئے دوه فرښتے په سپينو جامو کښے دَ مړی په ځائے ناستے
وليدے،يوه سر ته اَؤ بله پښتو ته،په هغه ځائے کښے چرته دَ عيسیٰ لاش کيښودے شوے وُو. ١٣ هغوئ
هغے ته ووئيل چه"اَئے ښځے! تۀ ولے ژاړے؟"

هغے جواب ورکړو چه"هغوئ زما مالِک چرته وړے دے اَؤ ما ته دا نۀ ده معلُومه چه هغه ئے کُوم ځائے
ښخ کړے دے."

١٤ دَ دے خبرو نه پس هغے مخ راواړولو اَؤ څۀ گورى چه عيسیٰ هم هلته ولاړ دے،خو هغے ونۀ پيژندلو
چه دا عيسیٰ دے. ١٥ عيسیٰ هغے ته ووئيل،"ته ولے ژاړے؟ تۀ څوک لټوے؟"

هغے دا خيال وکړو چه گنی دا دَ دے باغ مالی دے،نو ورته ئے ووئيل،"صاحبه! که چرے تا دَ دے
ځائے نه وړے دے نو ما ته دا ووايه چه هغه دِ کُوم ځائے ښخ کړے دے،نو زۀ به هغه دَ هغه ځائے نه
يوسم."

١٦ عيسیٰ ووئيل،"مريمے!"

هغے هغۀ ته مخ ورو گرزوو اَؤ وئے وئيل،"ربونی!" چه په عبرانئ کښے اُستاذ ته وئيلے شی.

١٧ عيسیٰ ووئيل،"ما ته لاس مه راوړه ځکه چه زَۀ لا پلار ته نۀ يم تلے خو زما ورُوڼو له لاړه شه اَؤ هغوئ
ته ووايه چه زَۀ اوس خپل پلار ته اَؤ ستاسو پلار ته،خپل خُدائے ته اَؤ ستاسو خُدائے ته پاس ځم."

١٨ مريم مگدلينی مُريدانو له لاړه اَؤ وئے وئيل چه"ما مالِک وليدو!" اَؤ هغوئ ته ئے دَ هغۀ پيغام ورسوو.

## دَ عيسیٰ مسيح مُريدانو ته ظاهريدل

**(متی٢٨: ١٦ - ٢٠،مرقوس ١٦: ١٤ - ١٨،لُوقا ٢٤: ٣٦ - ٤٩ )**

١٩ هم دَ هغه اِتوار په ورځ ماښام چه مُريدانو دَ يهوديانو دَ ويرے نه دروازے بندے کړے وے ناست وُو
،چه عيسیٰ راغے دَ هغوئ په مينځ کښے ودريدو اَؤ ورته ئے ووئيل،"په تاسو دِ سلامتيا وی!" ٢٠ اَؤ بيا
ئے هغوئ ته خپل لاسُونه اَؤ خپله پوښتئ وښووله. نو کله چه مُريدانو مالِک وليدو نو هغوئ ډير خوشحاله

شُو. ٢١ عيسیٰ يو ځل بيا ووئيل چه”په تاسو دِ سلامتيا وی،څنګه چه پلار زَۀ را استولے يم هم دغسے زَۀ
تاسو استوم.“ ٢٢ بيا ئے په هغوئ وپُوکل اَؤ وئے وئيل،”رُوحُ القُدس واخلئ! ٢٣ که چرے تاسو دَ چا
ګُناهُونه وبخښئ نو هغوئ وبخښلے شُو،اَؤ که چرے تاسو هغه ونۀ وبخښئ نو هغه به نابخښلے پاتے
ش“.ی

عيسیٰ اَؤ توما

٢٤ په دولسو مُريدانو کښے يو توما چه برغونے هم بللے شی دَ نورو سره هغه وخت هلته موجُود نۀ وُو چه
عيسیٰ راغے. ٢٥ نو مُريدانو هغۀ ته حال ووے چه مُونږ مالِک ليدلے دے. هغۀ ووئيل چه”تر څو چه ما دَ
هغۀ په لاس دَ ميخُونو سُورے ليدلے نۀ وی،اَؤ خپلے ګوتے مے پرے نۀ وی لګولے په کُوم ځائے کښے
چه ميخُونه ټک وهلی شوی وُو اَؤ خپل لاسُونه دَ هغۀ په پوښتئ ونۀ لګوم نو زَۀ به دا يقين ونۀ کړم.“

٢٦ يوه هفته پس دَ هغۀ مُريدان بيا په کوټه کښے ناست وُو اَؤ توما ورسره موجُود وُو. سره دَ دے چه
دروازے بندے وے نو عيسیٰ ورغے دَ هغوئ په مينځ کښے ودريدو اَؤ وئے وئيل په تاسو دِے سلامتيا
وی“ ٢٧ بيا ئے توما ته ووئيل،”خپلے ګوتے دلته کيږده اَؤ زما لاسُونه ووينه اَؤ خپل لاس وړاندے کړه اَؤ
زما په پوښتئ ئے ولګوه اَؤ نور شک مه کوه خو يقين وکړه.“ ٢٨ توما ووئيل،”زما مالِکه اَؤ زما خُدايه!“

٢٩ عيسیٰ ووئيل،”په دے چه تا زَۀ وليدم نو ايمان دِ راوړو. بختور دی هغوئ چه زَۀ ئے نۀ يم ليدلے خو
ايمان راوړی.“

## دَ دے کتاب مقصد

٣٠ بے شکه چه عيسیٰ دَ خپلو مُريدانو په وړاندے نورے هم ډيرے مُعجزے ښرګندے کړے،کُومے چه
په دے کتاب کښے نۀ دی ليکلے شوے. ٣١ اَؤ هغه چه دلته ليکلے شوے دىدا تش په دے غرض دی
چه تاسو په دے ايمان راوړئ چه عيسیٰ هم مسيح دے،يعنے دَ خُدائے زوئے،اَؤ دَ ايمان راوړلو په وسيله
دَ هغۀ په نوم ژوندُون ولرئ.

## يوحنا باب ٢١

## دَ عيسیٰ مسيح اُوو مُريدانو ته ظاهريدل

١ څۀ مُوده پس عيسیٰ دَ تيبرياس درياب په غاړه مُريدانو ته خپل ځان ښرګند کړو. ٢ شمعُون پطروس اَؤ
توما چه برغونے هم بللے کيږی اَؤ نتانی ايل چه دَ ګليل دَ قانا وُو اَؤ دَ زبدی زامن اَؤ دوه نور مُريدان هم
هلته موجُود وُو. ٣ شمعُون پطروس ووئيل،”زَۀ دَ کبانو په ښکار ځم.“

نورو ووئيل چه مُونږ به هم درسره ملګری شُو. هغوئ روان شول اَؤ کشتئ ته وختل خو په هغه شپه ئے
هيڅ ونۀ نيول. ٤ چه سحر شو نو څۀ ګوری چه عيسیٰ دَ درياب په غاړه ولاړ دے خو مُريدانو ته دا نۀ وه
معلُومه چه ګنی دا عيسیٰ دے. ٥ عيسیٰ هغوئ ته نعرے کړے،”اَئے هلکانو! څۀ مو ونيول که نه؟“

هغوئ جواب ورکړو چه ''هن''

۶ هغۀ ووئیل،''دَ کِشتئ ښی لاس ته جال ووليئ نو کبان به ونیسئ.''هغوئ دغه شان وکړل اَؤ څۀ ګوری
چه هغوئ جال کِشتئ ته نه شو راخيژولے ځکه چه په هغۀ کښے دومره ډیر کبان راګیر شوی وُو.

۷ بیا هغه مُرید چه عیسیٰ ورسره مینه کوله پطروس ته ووئیل،''دا خو مالِک دے!''کله چه شمعُون پطروس
دا واؤریدل نو هغۀ خپله چُوغه واغوسته ځکه چه هغه بربنډ وُو اَؤ دریاب ته ئے ودانګل. ۸ هغه نور په
کِشتئ کښے راغلل اَؤ دَ کبانو ډک جال ئے راکښو ځکه چه هغوئ دَ وچے نه ډیر ورایسته نۀ وُو خو بس
یو سل ګزه به ورایسته وُو. ۹ کله چه هغوئ غاړے ته راوختل نو هغوئ دَ سکاروأور ولیدو چه کب پرے
پروت وُو اَؤ لږه ډوډئ هم ورسره وه. ۱۰ عیسیٰ ووئیل چه''دَ خپلو هغه کبانو نه چه اوس مو نیولی دی څۀ
راؤړئ.''

۱۱ شمعُون پطروس کِشتئ ته ورغے اَؤ جال ئے مزکے ته راکښو چه دَ غټو کبانو نه ډک وُو،اَؤ دا یو سل
درے پنځوس وُو،اَؤ سره دَ دے چه دومره زیات وُو خو بیا هم جال ونۀ شلیدلو. ۱۲ عیسیٰ ووئیل،''راځئ
اَؤ وخورئ.''په مُریدانو کښے یو کس هم دا همت ونۀ کړے شو چه تپوس ترے وکړی چه تۀ څوک
یئے؟ ولے چه هغوئ ته دا پته وه چه دا مالِک دے. ۱۳ عیسیٰ راوړاندے شو،ډوډئ ئے واخسته اَؤ هغوئ
له ئے ورکړه اَؤ کب ئے هم دغه شان تقسیم کړو.

۱۴ دا دریم ځل وُو چه عیسیٰ دَ مړو نه ژوندے کیدو نه پس خپلو مُریدانو ته خپل ځان څرګند کړے وُو.

## عیسیٰ اَؤ پطروس

۱۵ دَ خوراک نه پس عیسیٰ شمعُون پطروس ته ووئیل،''شمعُونه دَ یوحنا زویه! تۀ دَ نورو ټولو نه ګنی ما
سره زیاته مینه لرے څۀ؟''

هغۀ جواب ورکړو چه''هو مالِکه! تا ته معلُومه ده چه زَۀ تا سره مینه کوم.''

هغۀ ورته ووئیل چه''بیا نو زما ګډورې وڅروه.'' ۱۶ په دویم ځل هغۀ تپوس وکړو چه''شمعُونه دَ یوحنا
زویه! تۀ ما سره مینه کوے؟''

پطروس ووئیل،''هو مالِکه! تا ته معلُومه ده چه زَۀ تا سره مینه کوم.''

هغۀ ورته ووئیل،''نو بیا زما ګډے سمبالے کړه.'' ۱۷ په دریم ځل هغۀ ووئیل چه شمعُون دَ یوحنا زویه! آیا
تۀ ما سره مینه کوے؟''

پطروس په دے خبره غمژن شو چه هغۀ ترے په دریم ځل دا تپوس وکړو چه تۀ ما سره مینه کوے؟ هغۀ
ووئیل،''مالِکه! تا ته هر څۀ معلُوم دی اَؤ تا ته ښه معلُومه ده چه زَۀ تا سره مینه کوم.''

عیسیٰ ووئیل،"زما ګډے وڅروه. ۱۸ رښتیا رښتیا درته دا وایم چه کله چه ته ځوان وے نو تا به خپله ملا
په خپله تړله اَؤ چرته چه دے غوښتل هغه خوا به تلے خو کله چه ته زوړ شے نو ته به خپل لاسُونه خوارۀ
کړے اَؤ بل څوک به دِ ملا وتړی اَؤ هغه خوا ته به دِ بوزی چرته چه ستا دَ تللو نیت نۀ وی." ۱۹ هغۀ دا
خبره دا ظاهرولو دَ پاره وکړه چه پطروس به په داسے مرګ وژلے کیږی چه دَ خُدائے جلال به په کښے
څرګند شی. بیا هغۀ دا ووئیل چه"په ما پسے راځه."

## عیسیٰ اَؤ دَ هغۀ خوږ مُرید

۲۰ پطروس راوګرزیدو اَؤ هغه مُرید ئے په ځان پسے ولیدلو دَ چا سره چه عیسیٰ مینه کوله،هغه چه دَ
ډوډئ په وخت هغۀ ته راکښته شوے وُو اَؤ دا تپوس ئے ترے وکړو چه"مالِکه! هغه څوک دے چه په تا
به مُخبری کوی؟" ۲۱ پطروس چه هغه ولیدو نو دَ عیسیٰ نه ئے تپوس وکړو،"مالِکه! هغۀ ته به څۀ
پیښیږی؟"

۲۲ عیسیٰ جواب ورکړو،"که دا زما رضا وی چه هغه دِ تر هغے پاتے شی کله چه زۀ بیا راشم نو ستا په
دے کښے څۀ؟ ته په ما پسے راځه."

۲۳ دَ عیسیٰ دا وینا په مُریدانو کښے مشهُوره شوه اَؤ دا مطلب ترے واخستے شو چه ګنی دغه مُرید به نۀ
مری،خو عیسیٰ تش دا وئیلی وُو"که دا زما رضا وی چه هغه دِ تر هغے پاتے شی کله چه زۀ بیا راشم نو
ستا په دے کښے څۀ؟"

۲٤ دا هم دغه مُرید دے چه دلته چه څۀ لیکلی شوی دی دَ هغے ګواه دے. دا په حقیقت کښے هغه
دے چه دا ئے ولیکل اَؤ مُونږ ته دا معلُومه ده چه دَ هغۀ ګواهی رښتیا ده

۲۵ نور هم ډیر څۀ دی چه عیسیٰ کړی وُو، که چرے دا ټول په تفصیل سره لیکلے شوے وے نو زما
خیال دے چه په ټوله دُنیا کښے به هغه کتابُونه چه په دے لیکلی شوی وئے نۀ ځائیدل.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved